او خَلِيفَة بن خياط وايي: وَالْمُجْمَعُ عَلَيْهِ أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ وُلِدَ عَامَ الْفِيلِ. (السيرة النبوية لابن كثير).

پدې اجماع شوې چې رسول الله عليه السلام د فيل والا کال باندې پيدا شوی و.

لهذا ددې خلاف چې کوم اقوال ذکر شوي دي، هغه د منلو وړ نه دي. او د نبي عليه السلام پيدايښ د اصحاب الفيل واقعې څخه لس کاله يا ديرويشت کاله او يا هم يو قول موافق ۴۰ کاله (دلائل النبوة للبيهقي ج ۱/ ص ۷۸) پس شوی دی. خو اکثره علماء وايي چې نبي عليه السلام د فيل واقعې په کال باندې زيږيدلی و. چې تاريخ پوهانو دا ۵۷۰ يا ۵۷۱ ميلادي کال ښودلی دی. او ددې واقعې څخه ۵۰ ورځې وروسته پيدا شوی دی، حافظ ابن کثير وايي دا قول مشهور دی. (البداية والنهاية ج ۲/ ص ۲۶۲) او حافظ ذهبي ليکلي دي چې بعضې علماؤ دا قول چې نبي عليه السلام د عام الفيل څخه ۳۰ يا ۴۰ کاله پس پيدا شوی دی نو دا قول کمزوری دی، داسې ښکاري چې هغوی ۳۰ يا ۴۰ ورځې يادولې خو خطا ۳۰ کاله يې ذکر کړي دي. [تاريخ الإسلام للذهبي (ص 27)]

علامه ابن الجوزي هم اتفاق نقل کړی، وايي:
اتفقوا على أن رسول الله صلى الله عليه وسلم ولد يوم الإثنين في شهر ربيع الأول عام الفيل. صفة الصفوة ج ۱/ ص ۲۲.

علماؤ اتفاق کړی پدې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د دوشنبې په ورځ د ربيع الأول په مياشت او د فيل والا کال باندې پيدا شوی دی.

حافظ ابن القيم هم زاد المعاد (ج ۱/ ص ۷۶) کې دا قول کړی دی چې عام الفيل په نيټه نبي عليه السلام زيږيدلی و.

د عيد ميلاد النبي مشهور بدعت:

شيطان چې د انسان ازلي دښمن دی، هيڅکله نه غواړي چې مسلمان په صراط مستقيم باندې روان شي، بلکې خامخا يې يوه کنده کې غورځوي، نو د خير القرون څخه وروسته بعضې پاچاهانو ته شيطان دا وسوسه ورواچوله چې د نبي عليه السلام د زوکړې په ورځ اختر او جشن ولمانځي. نو د هغه وخت راهيسې دا شنيع بدعت د امت په جاهلانو کې رواج وګرځيد، چې تر ننه يې مبتدعين ډير په جوش سره لمانځي، خو دا کار نه نبي عليه السلام کړی دی، نه يې پرې امر کړی دی، او نه خلفاء راشدينو کړی دی، نه وروسته صحابه وو کړی دی، او نه تابعينو او اتباع تابعينو کړی دی، خو کله چې بدعات عام شول، د مصر عبيدي باطنيه ډلې بعضې ناپوهانو ددې اختر لمانځل شروع کړ.

ددې عمل په مشروعيت هيڅ نوعه دليل نشته، بلکې زمونږ په شريعت کې عيد الفطر، عيد الأضحی او د جمعې ورځ اختر بلل شوي دي، ددې پرته نور اخترونه لمانځل مردود دي. نبي عليه السلام فرمايي:

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ فِيهِ، فَهُوَ رَدٌّ» رواه البخاري ومسلم.

ژباړه: چا چې زمونږ پدې کار (دين) کې له ځانه داسې څه جوړ کړ چې ددې څخه نه و، نو هغه مردود دی.

ددې حديث څخه دا فهم کيږي چې دغه کس هم مردود دی او دا کار يې هم مردود او بدعت دی.

نو عيد ميلاد النبي لمانځونکي مبتدعينو څخه مونږ دا پوښتنه کوو چې د خپل عمل په مشروعيت د کتاب او سنت څخه ثابت دلائل راوړئ، او کچيرې دا دلائل نه وي نو ددې عمل څخه تير شئ.

او مخکې يادونه وشوه چې د نبي عليه السلام د پيدايښت شپه په صحيح سندونو سره نده ثابته، اګر که دا دولسمه شپه مشهوره ده، خو صحيح سند نه لري چې د صحابه وو څخه دې ثابت شوې وي. او تر دې خطرناکه خبره دا ده چې د هجرت په يولسم کال، د ربيع الأول په مياشتې دولسمه شپه باندې نبي عليه السلام وفات شوی دی، پدې د اهل علمو اتفاق دی. وګوره التلخيص الحبير (ج 2/ ص 233)

نو دا خلک خو د نبي عليه



السلام د وفات ورځ لمانځي !!
د نبي عليه السلام سره د محبت تقاضا دا نده چې جلسې جوړې شي، خواږه شيان پاخه شي او په منبرونو باندې چيغې ووهل شي او غيرشرعي ترانه زمزمه شي، بلکې د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د حقيقي مينې اظهار دا دی چې د هغه سنت راژوندي شي، د هغه نظام او قانون غالبه کولو په پار جهادونه او هجرتونه ترسره شي، کفار او مرتدين ووژل شي، وترل شي، هر لور ته محاصره شي، د هغه عليه السلام گستاخي کونکو پر خلاف عملي مبارزه وشي، استشهادي او انغماسي عمليات وشي، لکه تاسې گورئ په عيد ميلاد النبي کې ځومره جاهلان سره راټول وي، خو دا ځه موده مخکې د هند مشرکانو لخوا چې د نبي عليه السلام په شان کې گستاخي وشوه، نو هغه حلوه خواره او تش په نوم د محبت دعويداران چې په دولسم د ربيع الأول باندې د رقصونو او غيرشرعي کارونو په ترځ کې ځانونه عاشقان (!) رسول معرفي کوي خو بيا په ميدان باندې يو هم نه ښکاريدو، د ټولو مثال د شيدو مجنونان وو، خو لله الحمد، الله عزوجل د اسلامي خلافت مجاهدينو ته دا توان ورکړ، چې د محمد رسول الله عليه السلام د گستاخانو او د هغوی ساتونکو طالبانو ځخه د خراسان په سيمه انتقام واخلي او د هند مشرکان پرې وډروي. همدغه رنگ د روافضو لخوا د محمد رسول الله عليه السلام په بيبيانو او خوږو ملگرو صحابه کرامو ډول ډول الزامات لگول کيږي او بې عزتي يې کوي خو دغه د ميلاد النبي لمانځونکو درک هم نه لگي !! آيا همدا د رسول الله عليه السلام د محبت تقاضا ده ؟

او دغه مجالسو کې چې کوم رقص، موسيقي او نور منکرات ترسره کيږي هغه خو نور هم دا بدعت قبيح گرځوي. لکه يوه بيلگه يې مصري مورخ المقريزي (المتوفى 845 هـ) په درر العقود الفريدة کې د إسماعيل بن يوسف الإنبابي (2/ 501) په ترجمه کې ذکر کړې ده او حافظ ابن حجر په [إنباء الغمر بأبناء العمر ج ١ / ص ٣٥٠] کې ذکر کړې چې شيخ اسماعيل بن يوسف بن محمد الأنبابي به د ربيع الأول دولسمه شپه د ميلاد النبي له امله لمانځله، په ٧٩٩ هجري کال باندې د ميلاد النبي جشن ته زيات خلک راغلي وو، او دغه شپه باندې ١٥٠ د شرابو چاټې، ښکل شوې وې، د ډېرو پيغلو عزتونه لوټ شول، لواطت او نور قبيح اعمال هم ترسره شوي وو، چې سهار ته الله عزوجل په مصر باندې د تيزې سيلۍ طوفان راوليږو، او په لارو کوڅو کې د هر چا سترگې د خاورو ځخه ډکې کړې، ددوی خيمې يې گزار کړې، او دوی يې سخت وځپل. حافظ ابن حجر وايي ويل کيږي چې د هغې شپې ځخه وروسته بيا شيخ اسماعيل د عيد ميلاد النبي لمانځل پريښودل.

نو زمونږ د زمانې جاهلان هم پکې ډول ډول بدعات، خرافات او منکرات ترسره کوي، چې ددې لمانځل حرام دي، او ټولو مسلمانانو ته له دې ځخه اجتناب پکار دی.

د أصحاب الفيل واقعه:

د اصحاب الفيل واقعه د سيرت په کتابونو کې مشهوره ده، او اصل يې په قرآن کريم سره ثابت دی. سورة الفيل کې الله عزوجل يې احوال ذکر کړي دي:

{أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ (1) أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ (2) وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ (3) تَرْمِيهِمْ بِحِجَارَةٍ مِنْ سِجِّيلٍ (4) فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَأْكُولٍ}.

ايا ودې نه ليدل چې ستا رب د فيل له خاوندانو سره څه وکړل؟ ايا د هغو تدبير يې بيکاره نه کړ؟ او دوی ته يې ډلې ډلې (ابابيل) مرغان راوليږل. دوی به يې په اور کې پخو شويو کاڼو ويشتل. نو دوی يې د ژاروېو د ژول شويو وښو په څېر وگرځول.

د ابرهه په لښکر د عذاب راتللو روڼ انځور الله عزوجل بيان کړی، او تاريخي روايات هم د قرآن کريم بيان شوي حالاتو ځخه مختلف ندی، مگر په بعضې جزئياتو کې يې اختلاف دی. او دا تاريخي روايات کشرانو صحابه وو يا تابعينو لکه امام قتاده او امام محمد بن اسحاق پورې رسي، چې هغوی يوه پيړۍ وروسته ددې واقعې ځخه زيږيدلي و.

حديث د سنن الترمذي کې د قباث بن أشيم قول دی چې هغه د ابرهه د فيل پاتې خوشيان (خشنه) ليدلي وو، چې رنگ يې بدل شوی و. خو سند کې يو راوي مقبول دی نو ځکه بعضې محققينو ورته ضعيف هم ويلي دي.

او ابن اسحاق په صحيح سند سره د عائشه رضي الله عنها ځخه نقل کړي دي:

عَنْ عَائِشَةَ- رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا-

قَالَتْ: لَقَدْ رَأَيْتُ قَائِدَ الْفِيلِ وَسَائِسَهُ بِمَكَّةَ أَعْمَيَيْنِ مُقْعَدَيْنِ يَسْتَطْعِمَانِ النَّاسَ. [سيرة ابن هشام ج ۱ / ص ۵۷]

يقينا ما د فيل بوتلونکی (چلونکی) او د هغه مشر (د چارو سمونکی) په مکه کې وليدل، چې دواړه ړانده او شليان وه او له خلکو څخه يې د طعام غوښتنه کوله.

سيرت د ابن هشام د ابرهه واقعه ذکر کړې چې خلاصه يې داسې ده: ابرهه په صنعاء (يمن) کې ډېره لويه کليسا ودانه کړې وه، چې قُليس نوم يې ورته ورکړ، نو د حبشې نجاشي ته يې وليکل:

((ما ستا لپاره کليسا جوړه کړه، له تا مخکې د هيڅ يو پاچا لپاره داسې کليسا نه ده جوړه شوې او په دې خاطر مې دا کار وکړ چې عربي حاجيان دې خوا راوګرځوم.))

خو د بنو کنانه څخه يو تن د ابرهه په کليسا کې اودس ماتې وکړو، پدې سره ابرهه سخت غصه شو او د مکې د ړنګولو قسم يې وکړه. ابرهه حبشي لښکرو ته امر وکړو، او ځان يې د بريد لپاره چمتو کړ، کله چې عربان خبر شو، نو دا کار يې ډېر ستر اقدام وګڼو، او په ځان يې د کعبې دفاع فرض وبلله.

د ابرهه مقابلې ته د ذونفر په نوم يو يمنې مشر راوړاندې شو، هغه ځينې يمنيان چې د ملکي او مخورې کورنيو څخه وو راوغوښتل، هغوی يې هم بلنه ومنله، نور عربان هم ورسره ملګري شول او د ابرهه په وړاندې يې د جګړې تيارى ونيو، خو دغه کور د ابرهه څخه وژغوري.

د ابرهه لښکرې د ذونفر له لښکرو سره مخامخ شوې، د دواړو تر منځ سخته جګړه وشوه چې په پای کې يمنيانو او عربانو ماتې وخوړه او ذونفر د ابرهه لخوا بندي شو. ابرهه ته يې په زولنو کې ترلی راوست. ابرهه د هغه د وژلو امر صادر کړ، نو ذونفر ورته وويل: وا پاچا ما مه وژنه کېدای شي له تاسره زما شتون زما له مرګ څخه ګټور وي.

ابرهه امر وکړ چې بندي يې کړي، او بيا د عربانو په خاوره کې روان شو کله چې خثعم ته ورسېد، نو مخې ته يې نفيل بن حبيب الخثعمي د دوه قبيلو شهران او ناهس په مشرۍ ورووت.

نفيل د ابرهه لښکرو سره وجنګيد، تر دې چې شکست يې وخوړ او د ابرهه په لاس ونيول شو. کله چې ابرهه د نفيل د وژلو اراده وکړه نو هغه ورته وويل : اې پاچا ما مه وژنه زه به درته د عربانو لارې او ګودرې دروښايم. هغه يې پرېښود او ورسره د لارښود په څېر روان شو. طائف ته خبر ورسېد چې د ابرهه لښکر رانېږدې شوی دی او يوازې د کعبې په ړنګولو پسې راوتلی، ابرهه چې طائف ته ورسيد، نو مسعود بن مالک بن کعب بن عمرو بن سعد بن عوف بن ثقيف ورته راووت ابرهه ته يې وويل:

وا پاچا موږ ستا منونکي مريان يو، موږ له تاسره هيڅ ډول خلاف نه لرو او ته زمونږ د عبادت کور (لات) ړنګولو لپآره نه يې راغلې بلکې ته د مکې کور پسې راوتلی يې، موږ به درسره خلک واستوو چې لاره دروښايي.

ابرهه پرې کار ونه لره خو ابورغال يې ورسره ولېږه چې د مکې لاره وروښايي، تر دې چې ابرهه د ابورغال په لارښودنه مغمِس ته ورسيد، هلته ابو رغال مړ شو. نو وروسته به عربانو د ابو رغال قبر په کاڼو ويشتلو.

ابرهه د حبشو يو تن اسود بن مقصود تهامه ته وليږه چې په تهامې بريد وکړي، هغه مکې ته ورسيد او د تهامه خلکو او د قريشو څاروي يې له ځان سره راوړل، او د عبد المطلب دوه سوه اوښان يې هم پکې ونيول چې دغه وخت دا د قريشو سردار و.

نو قريشو، کنانه او هذيل قبيلو د جنګ اراده وکړه، خو بيا پوهه شو چې د جنګ توان نه لري نو له دې هوډ څخه وګرځيدل.

ابرهه د حناطه الحميري په نوم يو کس مکې ته وليږو او ورته يې وويل چې د مکې مشر ته اووايه چې زه يوائې د دې کور (بيت الله) ړنګولو لپاره راغلی يم، که تاسې ماته اجازت راکړئ نو ستاسې وينو سره زما کار نشته او وايې که هغه زما د جنګ اراده نه درلوده نو ماته يې راوله. حناطه مکې ته داخل شو او د مشر او سردار په اړه يې وپوښتل: عبدالمطلب د پخوا په څېر د کعبې سېوري ته په خپل ټغر ناست و، چاپېره ترې د قريشو مشران او زامن ناست وو. نو يو چا ورته اشاره وکړه او استازي ته يې وويل: هاغه دی هلته ناست دی.

حناطه الحميري د عبدالمطلب د ناستې ځای ته ورغی. په ټغر يوازې ناست و، سپين مخ يې ځليده. حناطه ورته يوه شيبه وکتل او بيا يې وويل:

پاچا وايې چې زه ستاسې جګړې ته نه يم راغلی. زه يوازې د دې کور ورانېدو ته راغلی يم، که چېرته تاسې زموږ مخه ونه نيسئ نو موږ په تاسې هېڅ کار نه لرو. عبدالمطلب ورته وويل: قسم په الله مونږ د پاچا (ابرهه) سره جګړه نه غواړو، او ددې توان هم نه لرو. دا د الله کور دی، د الله د خليل او دوست کور دی که يې ترې ساتي نو خپل کور يې دی، او که يې ورته پرېږدي نو موږ يې د دفاع وس نه لرو.

حناطه وويل: پاچا ته راسره لاړ شه، هغه ماته ستا د راوستلو امر کړی.

عبدالمطلب له يو څو تنو زامنو سره ورغی، په لاره کې خبر شو چې ذونفر ملګرى يې له ابرهه سره بندي دی، کله چې معسکر ته ورننوت، لومړی يې د ذونفر پوښتنه وکړه، زندان ته ورغی، ورته يې وويل: اې ذونفر! تاسره د دې مصيبت نه د خلاصۍ کومه لاره شته چې راسره مرسته وکړې؟

ذونفر سر ټيټ کړ او ويې وويل: بندي سړي سره به څه وي هغه خو سبا او بېګاه د مرګ په انتظار وي، هيڅ مې هم په لاس کې نشته، يوازې د فيلانو مشر انيس مې ملګرى دی، هغه ته به يو څوک واستوم، ستا په اړه به ورته سپارښتنه وکړم، ستا حق به وپيژني، له پاچا نه به درته وخت واخلي، خبرې به ورسره وکړي او ستا سفارش به ورته هم وکړي.

هغه وويل: سمه ده، دا کار هم کفايت کوي. ذونفر انيس ته خبر ولېږه او ورته يې وويل: عبدالمطلب د قريشو مشر او د



مکې د چينې څښتن دی، خلکو ته په سختيو او اسانيو کې خواړه ورکوي، پاچا يې دوه سوه اوښان نيولي دي، له پاچا نه ورته اجازه واخله او څه چې دې په وس پوره وي ورسره يې وکړه.
هغه وويل: سمه ده، دا کار کوم.
انيس له ابرهه سره خبرې کولې ورته يې وويل:
پاچا صيب دا د قريشو مشر دی، غواړي له تاسره وګوري، د مکې د چينې څښتن دی، او خلکو ته د غرونو په سرونو خواړه ورکوي، اجازه ورکړه چې له تاسره خبرې کوي. نو ابرهه ورته اجازت ورکړو.
عبدالمطلب دنګ قامت ورننوت، تر ټولو دنګ، ښکلی او د ښې څېرې څښتن و، کله چې ابرهه وليد ډېر درناوی يې ورکړ، د خپلې پاچاهۍ له تخت څخه راکوز شو ځکه دا يې بده ګڼله چې حبش قوم دې هغه (ابرهه) سره په تخت باندې بل څوک هم ناست وګوري، او عبد المطلب يې لاندې هم نشو کينولای نو خپله د تخت څخه راکوز شو، او په غوړيدلي توشک يې له ځان سره کيناوه، بيا يې خپل ترجمان ته وويل:
ورته ووايه څنګه راغلی يې ؟ ترجمان ورته خبره وکړه هغه وويل: زه راغلی يم چې پاچا زما دوه سوه اوښان نيولي دي، هغه راوسپاري.
کله چې يې دا خبره وکړه نو ابرهه خپل ترجمان ته وويل: ورته ووايه په لېدلو دې ډېر اغيزمن شوم، خو چې خبرې دې وکړې هغه اغيزمنتيا له منځه لاړه، ته له ماسره د خپلو دوه سوه اوښانو خبره کوې چې موږ درنه نيولي دي او داسې يو کور پرېږدئ چې ستا دين دی، ستا د پلرونو دين دی، په دې اړه به راسره هيڅ هم نه وايې.
عبد المطلب ورته وويل: زه د اوښانو رب (پالونکی) يم او دغه کور خپل رب لري هغه به يې درنه وساتي. ابرهه وويل: هغه يې رانه، نه شي ساتلی. عبد المطلب ورته وويل: ته پوه شه او هغه.
بعضې علماء وايي: يعمر بن نفاثه بن عدي بني بکر چې نسب يې کنانه ته رسيده، د هذيل د قبيلې له مشر خويلد بن وائله الهذلي سره ورغی، له عبدالمطلب سره يو ځای شو او ابرهه ته يې وويل: تاته به د تهامې درې برخې مالونه درکړو خو دغه کور مه ورانوه.
ابرهه انکار وکړ، والله أعلم. او امر يې وکړ چې عبد المطلب ته خپل اوښان وسپاري، عبدالمطلب له اوښانو سره راغی، قريش يې خبر کړل او د مکې نه يې د باندې وتلو امر ورته وکړ، ټول راووتل او د ابرهه د لښکر له وېرې د غرونو سرونو ته روان شول.
عبدالمطلب کعبې ته ورغی، د کعبې ځنځير يې ونيوه او څو تنه قريش ورسره پاڅېدل، الله ته يې زارۍ کولې او په ابرهه پرضد يې ترې مرسته غوښتله، عبدالمطلب وويل:

(لاهمّ إنَّ الْعَبْدَ يمْنَعُ ... رَحْلَهُ فَامْنَعْ حلاَلَكْ)
(لَا يَغْلِبَنَّ صَلِيبُهُمْ ... وَمِحَالُهُمْ غَدْوًا مِحَالَكْ)
(جروا جموع بِلَادهمْ ... والفيل كي يسبوا عِيَالك)
(عَمدُوا حماك بكيدهم ... جهلا وَمَا رقبوا جلالك)

هر سړی خپل ځای له نورو ساتي، ته هم خپل ځای وساته. چې د دوی صليب هېڅکله هم بريالی نه شي، او سبا ددوی چل ستا په تدبير غالبه نشي. ټول ښار يې راپسې راچلولی دی. فيلان يې هم راوستلي چې ستا عيال وکنځي. په خپل زور او چل ستا ساتنځای ته راغلي او دوی ستا جلال هيڅ په نظر کې نه دی نيولی.
واقدي دا اشعار هم زيات کړي:

إنْ كنت تاركهم و ... قبلتنا فَأَمْرٌ مَا بَدَا لَكَ

که دوی او کعبه سره پرېږدې نو څه چې دې خوښه وي هغسې وکړه
قَالَ ابْنُ هِشَامٍ: هَذَا مَا صَحَّ لَهُ مِنْهَا.
ابن هشام وايي چې دا د هغه څخه ندي ثابت.
بيا عبدالمطلب د دروازې ځنځير ايله کړ او د قريشو سره د غرونو سرونو ته وخوت، او د دې انتظار يې ويست چې ابرهه به په کعبه څه کوي.
کله چې سهار راوخوت، ابرهه مکې ته د ننوتلو لپاره چمتو شو، خپل فيل يې تيار کړ وسلې يې راواخيستلې، د هغه د فيل نوم محمود و. ابرهه د بيت الله د نړولو اراده وکړه او بيرته يې د يمن په لور د ستنيدو اراده وه.
نفيل بن حبيب الخثعمی راغی د فيل څنګ ته ودريده، بيا يې د فيل په غوږ کې وويل: له کوم ځای نه چې راغلی يې بېرته هم هلته وګرځه، ته د الله په ښار کې يې . له کوم ځای نه چې راغلی يې بېرته هم هلته وګرځه، ته د الله په ښار کې يې. بيا يې د فيل غوږ پرېښود او د غره په لور روان شو.
ابرهه د حملې امر وکړ، انيس فيلان مخې ته کش کړل، خو فيل يو ګام مخکې نه ځي، په سر يې په تبرګي وواهه چې مخکې شي خو فيل له ځايه نه خوځېده. يو کوږ لرګی يې په خېټه ور ومنډه، خېټه يې وينې شوه، خو فيل مخکې نه ځي، يمن ته يې راوګرځاوه فيل منډې کړې، شام ته يې وګرځاوه، هغه خوا يې هم منډې کړې، مشرق ته يې هم منډه وهله، مکې ته يې وګرځاوه، په خپل ځای ودرېده. هيڅ حرکت يې نه کاوه.
بيا الله تعالی ورباندې مرغان راوالوځول چې په وړو کانو يې ويشتل، د هر مرغه سره درې درې کانې و، يو به يې مخوکه کې و او دوه دانې به يې پنجو کې و. کانې چې به په چا ولګېده هغه به مرداريدو، نو ټول ونه لګيدل او په تيښته شول، او نفيل بن حبيب په اړه يې پوښتنې کولې چې د يمن لار ورته وښايي. نفيل چې کله د الله عزوجل عذاب وليد نو ويې ويل:

أَيْنَ الْمَفَرُّ وَالْإِلَهُ الطَّالِبُ ... وَالْأَشْرَمُ الْمَغْلُوبُ لَيْسَ الْغَالِبُ.

چېرته به تښتې الله عزوجل درپسې دی اشرم ناکام دی اوکامياب نه دی.
احباش په لارو غورځېدل او هرې خوا پراته ول. ابرهه هم ټپي شو، او د ګوتو بندونه يې پرې کيدل، چې کله هغوی يمن ته راورسيدل، ابرهه سم د مرغۍ بچی په شان پاتی و، تر دې چې زړه يې وچاوديده او مړ شو. پای.
ددې واقعې استنادي حالت مونږ مخکې بيان کړ. دوام لري ...

نثر اللؤلؤ والمرجان

في سلسلة معرفة الرحيم الرحمان

پنځم درس

أحمد الله وأسبّحه بعلوّه وكماله الذي خلق السموات والأرض على مِنواله ونُوِّرَت بنوره وزُيّنتْ بجماله ثم استوى على العرش لائقا بذاته وجلاله ولا يخفى عليه شيئ من أمور العالم وأفعاله وعليم بجميع أحواله وأعلن الفوز لمن امتثل بإنزاله وإرساله وأصلي وأسلّم على رسوله ونبيه محمد وعلى أهل بيته وأصحابه وآله، أمابعد:

محترمو لوستونکو!

محترمو مسلمانو ورونو او خويندو مخکې د عقيدې په ذکر شوي بحث کې مونږ د لوی الله په توفيق سره د الله تبارک وتعالی د ذات په اعتبار سره په مطلق علو باندې د قران عظيم شان نه دلايل ذکر کړل، اوس په دې پنځم درس کې په مذکوره دعوی د رسول الله صلی الله عليه وسلم صحيح احاديث ذکر کوو

وجوب الإيمان بما أثبته الرسول للرّحمان

اوس راځو او دالله تبارک وتعالی په علوبالذات او فوقيت باندې احاديث ذکر کوو

اول - عن أبی هريرة أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: (يَتَعَاقَبُونَ فِيكُمْ مَلَائِكَةٌ بِاللَّيْلِ وَمَلَائِكَةٌ بِالنَّهَارِ، وَيَجْتَمِعُونَ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ وَصَلَاةِ الْعَصْرِ، ثُمَّ يَعْرُجُ الَّذِينَ بَاتُوا فِيكُمْ فَيَسْأَلُهُمْ وَهُوَ أَعْلَمُ بِهِمْ، كَيْفَ تَرَكْتُمْ عِبَادِي؟ فَيَقُولُونَ: تَرَكْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ، وَأَتَيْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ)

ژباړه: د ابو هريرة رضی الله عنه نه روايت دی (فرمايي) چې بې شکه رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل تبادله کېږي ستاسو په منځ کې ملائکې د شپې او ملايکې د ورځې او دوی يو ځای کېږي د سهار او ماذديگر په مانځه کې بيا بره خيژي هغه ملايک چې شپه يې ستاسو ترمنځ کړې ده، بس تپوس کوې (الله) د دوی نه سره له دې چې هغه ډير خبر لرونکی (عالم) دی په حال د دوی (ورته فرمايي) کوم حال کې مو پريخودل بنده گان زما نو دوی ورته وايي: چې مونږ چې راتلو هغوی مو په داسې حال کې پريښودل چې هغوی لمونځ کولو او چې ورته ورتللو نو هم دوی لمونځ کولو [صحيح البخاری رقم الحديث ۵۲۴]

فقه الحديث

دلته هم دې حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم ددې خبرې اثبات وکړه چې الله تبارک وتعالی بره اسمانونو کې دی او په دې دليل دادی چې فرمايي: ثُمَّ يَعْرُجُ الَّذِينَ بَاتُوا فِيكُمْ فَيَسْأَلُهُمْ وَهُوَ أَعْلَمُ بِهِمْ، كَيْفَ تَرَكْتُمْ عِبَادِي؟ او د صحيح مسلم په روايت کې دي. چې فيسألهم ربهم وهوأعلم بهم رقم الحديث ۱۰۰۷ نو د ملايکو عروج او د الله پوښتنه دغه جملې په مذکور حديث کې دليل دی په دې چې الله رب کريم بره اسمان کې دی

دوهم - وعن عبد الله بن عمرو أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال:"ارحموا من في الأرض يرحمكم من في السماء" عبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دی (فرمايي) بې شکه رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: تاسو په هغه چا رحم وکړئ چې په ځمکه کې اوسيږي په تاسو به (ددې په بدل کې) هغه ذات رحم وکړي چې په أسمان کې دی. وګوره [سنن الترمذی رقم الحديث ۱۹۲۴] وقال حديث حسن صحيح

فقه الحديث

دلته هم دغه حديث صفا او روښانه دليل دی، په دې چې الله تبارک وتعالی بالذات بره اسمانونو کې اوسيږی چې د حديث په الفاظو کې د نفاتو لپاره هيڅ قسم امکان او ګنجايش د تأويل نه شته دی نو ثابته شوه چې دغه د فوقية صفت چې الله تبارک وتعالی څنګه هغه ځانته ثابت کړی دغه ډول بغير له تحريف تأويل او تشبيه نه ورته رسول الله صلی الله عليه وسلم هم ثابت کړی دی، او همداسې پرې ايمان لرل فرض واجب دي، او انکار کول ترينه کفر دی کما سيأتی قريبا فی باب ترديد النهج السقيم ان شاء الله تعالی.

دريم - د ابوسعيد الخدري رضي الله عنه مشهور حديث دی کوم کې چې د خوارجو متعلق تذکره شوي رسول الله صلی الله عليه وسلم په هغې کې فرمايي: أَلَا تَأْمَنُونِي وَأَنَا أَمِينُ مَنْ فِي السَّمَاءِ، يَأْتِينِي خَبَرُ السَّمَاءِ صَبَاحًا وَمَسَاءً ؟ ايا تاسو ما امين نه ګڼئ او حال دا چې زه امين ګڼل شوی يم د هغه چا په نزد چې هغه په اسمان کې اوسي رازي ماته خبر د اسمان څخه سهار او ماښام. [صحيح البخاری كتاب المغازی حديث رقم ۴۰۲۹]

فقه الحديث

دلته په دې حديث کې هم رسول الله صلی الله عليه وسلم صراحتاً بلا تأويل الله تبارک وتعالی د ذات په اعتار سره فوقيت ثابت که چې دليل دی په دې چې الله تبارک وتعالی د ذات په لحاظ سره بره فوق العالم دی

څلورم - دغه ډول څلورم حديث دې باب کې هغه د فضالة بن عبيد الأنصاري رضي الله عنه نه امام احمد په خپل مسند کې په رقم ۲۳۳۲۶ او امام ابو داود رحمه الله په خپل سنن کې د ابودرداء رضی الله عنه نه په رقم ۳۳۹۶ باندې نقل کړی چې هغې کې رسول الله صلی الله عليه وسلم د دم دغه الفاظ ذکر کړی اوپه دې يې امر کړی چې که د چا څه تکليف او درد وي نو دادې ووايي (الفاظ دادی) رَبَّنَا اللَّهُ الَّذِي فِي السَّمَاءِ تَقَدَّسَ اسْمُكَ أَمْرُكَ فِي السَّمَاءِ وَالأَرْضِ كَمَا رَحْمَتُكَ فِي السَّمَاءِ ای ربه زمونږ هغه الله چې په اسمانونو کې يې پاک دی نوم ستا حکم ستا په اسمانونو او ځمکو کې دی لکه څنګه چې ستا رحمت په اسمانونو کې دی ..الخ

فقه الحديث

نو دلته هم رسول الله صلی الله عليه وسلم الله تبارک وتعالی ته فوقيت بالذات ثابت که چې دليل دی په دې چې الله تبارک وتعالی د ذات په اعتبار سره بره فوق العالم دی

پنځم - دغه ډول بل طویل حدیث د ابوهریره رضي الله عنه دی چې په هغې کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مؤمن انسان او د مشرک انسان د وفات په وقت کې د روح د وتلو کیفیت ذکر کړی چې په هغې کې د مؤمن انسان د روح د بره وړلو متعلق فرمایی چې: فَلَا يَزَالُ يُقَالُ لَهَا حَتَّى يُنْتَهَى بِهَا إِلَى السَّمَاءِ الَّتِي فِيهَا اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ
پس همیشه وي چې ملایکې پرې ثنا وایي تر دې چې دغه روح هغه اسمان ته ورسوي چې په هغې کې الله عزوجل دی ...... [مسنداحمد رقم الحدیث ۸۵۶۹] [سنن ابن ماجه رقم الحدیث ۴۲۶۰]

فقه الحدیث

دلته هم په دې حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم الله تبارک وتعالی ته فوقیت بالذات ثابت وګرځوو چې د هیڅ تأویل امکان په کې نه شي کیدی نو معلومه شوه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم همدا عقیده وه چې الله د ذات په اعتبار سره بره دی او په همدې عقیدې رالیږل شوی دی نو مؤمنانو ته پکاردي چې د خپل رب متعلق هغه عقیده ولري کومه چې د هغه باره کې د هغه رالیږلي نبي او رسول لرله ځکه هغه د بل هر چانه د الله باره کې ډیر علم لرونکی دی ځکه هغه فرمایي: (إن أتقاكم وأعلمكم بالله أنا) ژباړه: بې شکه ډیر تقوی لرونکی په تاسو کې اوډیر پوه لرونکی په ذات دالله په تاسوکې هغه زه یم [صحیح البخاري رقم الحدیث ۱۹]

شپږم - دغه ډول په صحیح مسلم او نورو د حدیثو په کتابونو د معاویه بن حکم السلمی رضی الله عنه مشهور حدیث دی چې په هغه کې دي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ښځه وغوښتل چې دا خپله وینزه ازاده کړي نو نبی صلی الله علیه وسلم هغه وینزه د ځان طرف راوغوښتله نو چې راغله تپوس یې ترینه وکړو ورته وې فرمایل: أَيْنَ اللَّهُ ؟ الله چرته دی قَالَتْ : نو هغې په جواب کې وفرمایل: فِي السَّمَاءِ الله په اسمان کې دی قَالَ: نو بیا نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل مَنْ أَنَا ؟ زه څوک یم؟ قَالَتْ نو هغې په جواب کې وویل :أَنْتَ رَسُولُ اللهِ، ته د الله رسول یې قَالَ نو نبي صلی الله علیه وسلم له دې بعد ددې مالک ته وفرمایل:أَعْتِقْهَا ، فَإِنَّهَا مُؤْمِنَةٌ دا ازاده کړه ځکه چې دا په الله اورسول ایمان لرونکې ده [صحیح مسلم رقم الحدیث ۸۴۱] او په یو روایت د مسند احمد او ابو داود کې راځي کوم چې له ابو هریرة نه نقل دی چې وینزې نه چې کله د الله رسول پوښتنه وکړه چې أين الله؟ نو راوي فرمایي
فأشارت بالسبابة إلى السماء، نو هغې په سبابه ګوتې سره اسمان ته اشاره وکړله

فقه الحدیث

دلته وګورئ څومره صراحت بداهت او جلي طریقې سره دا خبره په دې صحیح حدیث کې ثابته شوه چې الله تبارک وتعالی د ذات په اعتبار سره بره دی او همدا عقیده نبي صلی الله علیه وسلم په الله باندې د ایمان لرلو ښځه تعبیرکړه نو د حدیث ښکاره فقه همداده چې که څوک رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله رسول ونه ګڼي دا مؤمن نه شي کیدی همدا ډول که څوک د الله تبارک وتعالی د ذات متعلق د فوقیت عقیده ونه لري نو هغه خو مؤمن نه شي کیدلی او همدا هغه روغ او سلیم فطرت ددې وینزې وه چې خپل رب ته یې په فوقیت باندې اقرار او اثبات وکړ او د الله نبي ترینه تعبیر د هغې په ایمان باندی وکړ

اووم - هغه حدیث چې ابوهریرة رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نقل کړی چې هغه په کې د دعاکونکي شخص متعلق فرمایي: يمدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ يَا رَبِّ يَا رَبِّ صحیح مسلم کتاب الزکاة رقم الحدیث ۱۶۹۲

فقه الحدیث

نو دا حدیث هم دلیل شو په فوقیت او بره والي د الله تبارک وتعالی ځکه هغه بره دی چې د هغه نه سوال کونکی هغه طرف لاسونه نیسي او همدا هغه اعتقاد دی چې الله تبارک وتعالی نه یوازې د انسانانو بلکې د حیواناتو هم دغه فطرت ګرزولی د فریاد په وخت کې خپل رب ته پورته سر او لاسونه اوچتوي

اتم - هغه حدیث چې امام بخاري د ابو سعید خدري رضي الله عنه نقل کړی چې د بنو قریظه متعلق چې سعد بن معاذ رضی الله عنه کومه پریکړه وکړه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې متعلق وفرمایل لقد حكمت بحكم الملك: تا یقیني د بادشا (الله)په فیصله فیصله وکړه او په شرح د مشکل الأثار د علامه طحاوي رحمه الله کې د بُریده رضي الله عنه روایت کې دی چې رسول الله صلی الله سعد ته وفرمایل لقد حكمت فِيهِمْ بِحُكْمِ اللهِ مِنْ فَوْقِ سَبْعِ سَمَاوَاتٍ، یقنې تا ددې بنو قُریضوو متعلق هغه فیصله وکړه کومه چې الله داوو ۷ اسمانو نو نه دپاځه کړې وه [شرح مشکل الأثار ۱۵/۲۴۷ رقم الحدیث ۵۹۸۷] دغه ډول کوم شعر چې د أمیه بن أبي الصلت الثقفي نه نقل دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې د شعر تصدیق وکد او د هغې متعلق یې وفرمایل آمن شعره وكفر قلبه شعر یې ایمان راوړی خو زړه یې کافر پاتې شوی او هغه شعر دادی:
مجدوا الله فهو للمجد أهل ... ربنا في السماء أمسى كبيرا.
ژباړه: د الله جل جلاله عظمت بیان کړئ ځکه هغه د عظمت اهل دی زمونږ رب په اسمان کې دی ډیر لوی دی [أخبار مكة للفاكهي رقم الحدیث ۱۹۷۳]

فقه الحدیث

دلته وګوره! رسول الله صلی الله علیه وسلم په صراحت سره د سعد رضي الله عنه حدیث کې د دې خبرې اثبات وکړ چې الله تبارک وتعالیٰ د اسمانونو نه بره دی دغه ډول أمیة بن الصلت الله تبارک وتعالیٰ ته فوقیت بالذات ثابتوي او رسول الله صلی الله علیه وسلم یې د دې اثبات مدحه کوي که چیرته د هغه دغه اثبات حق او صحیح نه وي نو هېڅ کله به ورته د شعر مدح نه وی کړی سره د دې چې هغه یو کافر انسان و خو چونکه شعر کې یې د الله جل جلاله متعلق اعتقاد صحیح و نو د دې وجهې نه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې شعر یې ایمان راوړی خو خپله کافر دی، یعنې دغه خبره یې صحیح ده خو خپله یې ایمان صحیح نه دی راوړی.

نهم - دغه ډول هغه حدیث چې ابوهریره له نبي صلی الله علیه وسلم څخه نقل کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په کې دالله تبار ک وتعالیٰ متعلق وفرمایل: يَنْزِلُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى كُلَّ لَيْلَةٍ إِلَى سَمَاءِ الدُّنْيَا. (صحیح البخاري رقم الحدیث ۶۹۶۴)

فقه الحدیث

دغه حدیث د بخاري نه بغیر تقریبا د حدیث نورو ټولو کتابونو راوړی دی چې د الله تبارک وتعالیٰ متعلق په کې دغه وضاحت ښه ښکاره شوی د شپې د دریمې حصې د تیریدو نه بعد دنیا ته نزدې دغه اخري اسمان ته راکوزیږي او دا خو تقریبا د هېڅ مسلک او مشرب والاوو په نیز اختلاف نه لري چې راکوزیدل د بره نه کیږي نو الله تبارک وتعالیٰ بره دی ځکه راکوزیږي.

لسم - هغه حدیث د حجة الوداع چې ابن عباس رضي الله عنهما روایت کړی دی، چې نبي صلی الله علیه وسلم په دې کې په دغه ورځ خپلو صحابه کرامو وو ته خپل اخري وصیتونه وفرمایل نو د بخاري روایت کې دی چې: ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ بیا نبي صلی الله علیه وسلم خپل سر پورته کړ. [کتاب الحج رقم الحدیث ۱۶۲۹] او د مسند احمد په روایت کې دي چې: ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ، فَقَالَ اللَّهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ مِرَارًا. [مسنداحمد رقم الحدیث ۱۹۶۰]

فقه الحدیث

نو د دې حدیث نه هم د نورو احادیثو په شان صفا معلومه شوه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم عقیده هم دا وه چې الله جل جلاله بره دی ځکه نو خپل رب ته په خطاب کې د هغه طرف سر پورته کوي او هغې طرف اشاره فرمایي چې ای الله جل جلاله! ته ګواه اوسه چې ما دوی ته رسول وکړل.

یوولسم - هغه د زینب بنت جحش رضي الله عنها هغه حدیث دی، چې دې به د رسول الله صلی الله علیه وسلم نورو بیبیانو ته فرمایل: زَوَّجَكُنَّ أَهْلُكُنَّ ، وَزَوَّجَنِي اللَّهُ مِنْ فَوْقِ سَبْعِ سَمَاوَاتٍ”.
ژباړه: تاسو خپلو ولیانو رسول

الله ته په نکاح ورکړي يې او زه الله جل جلاله د اوو اسمانونو نه بره الله جل جلاله هغه ته په نکاح ورکړې يم. (جامع الترمذی كتاب التفسير حديث رقم ١٣٥٦)

فقه الحديث

دلته هم ښه وګورئ، او فکر وکړئ! چې أم المؤمنين زينب بنت جحش رضي الله عنها د نورو أمهات المؤمنين مخامخ د نبي په کور کې او انګړ کې الله تبارک وتعالیٰ ته د فوقيت بالذات اثبات کوي او يوه بي بي له دوی څخه دې ته دا نه وايي چې ستا دا عقيده غلطه ده ګنې چې الله جل جلاله بره دی بلکې هغوی د دې اعتقاد د صحت متعلق سکوت کوي چې دليل دی په دې چې هم دا عقيده د رسول الله د کورنۍ او ټولو صحابه کرامو عقيده وه والحمد لله رب العالمين .

-١٢ بل هغه حديث دی کوم چې ابن عباس رضي الله عنهما د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه نقل کړی، فرمايي: اتاه رجل، فقال: على أمه رقبة، وقد ماتت، وأتاه بجارية أعجمية فقال لها: "من أنا؟ " قالت: رسول الله، قال: "فأين الله؟ " فأشارت إلى السماء، فقال: "أعتقها فإنها مؤمنة.

ژباړه: يو سړی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی ورته يې وفرمايل: (ای داالله رسوله!) زما په مور يوه وينزه ازادول واجب شوي وه او هغه (د هغې د ازادولو نه مخکې) مړه شوه (خو دې کس) ځان سره يوه عجمۍ وينزه راوستې وه (چې د دې په اړه يې تپوس کاوه چې د دې ازادي کافي کېږي نو د الله رسول صلى الله عليه وسلم) هغې (وينزې) ته وفرمايل: الله جل جلاله چيرته دی؟ نو هغې اسمان طرف ته اشاره وکړه(نو نبي صلى الله عليه وسلم يې مالک ته وفرمايل) دا ازاده که بې شکه دا مؤمنه ده

فقه الحديث

دا حديث هم د مخکې احاديثو غوندې صفا او روښ دليل دی په دې چې الله جل جلاله بره دی او همدا عقيده لرل ايمان دی او د دې نه بغير انسان مؤمن نه شي ګرځېدلی په دې باب کې نور هم ډير صحيح احاديث موجود دي چې دغه دولس ١٢ له هغې څخه نمونه وګڼئ.

وبالله تعالیٰ التوفيق، والحمد لله رب العالمين.

سطرالنقاة بحل شبهة النفاة

دلته د الله تبارک وتعالیٰ د فوقية متعلق عام نفاة يوې شبهې ښکار ګرځولی او هغه دا چې دوی دا وايي چې تاسو وايئ چې الله جل جلاله بره اسمان کې دی نو دې نه معلومېږي چې اسمان په ده احاطه کړې او اسمان ده لره راګېر کړی دی، ځکه که تاسو دا خبره کوی چې الله جل جلاله په اسمان کې دی نو لازم ده چې دا به هم منئ چې اسمان په الله جل جلاله احاطه کړې او ده لره يې راګېر کړی دی.

بعون الله الوهاب د دې څو جوابونه دي:

اول جواب:

په قران او سنة کې چې د الله تبارک وتعالیٰ متعلق د فوقيت فی السماء څومره ذکر موجود دی د دې نه مراد دا هرګز نه دی چې الله تعالیٰ په اسمان کې دی داسې چې اسمان ورته د ظرف په صفت ګرځېدلی، بلکې د سماء نه مراد اوچت والی دی، ځکه سماء په لغت کې هر بره او اوچت ته ويلی شي نو د إن الله في السماء نه مراد إن الله في العلو مراد دی، يعنې الله تعالیٰ بره دی نو سماء علو او اوچت والي ته وايي. نو معنیٰ همدا شوه چې الله جل جلاله بره دی او اسمان ته ځکه سماء وايي چې دا بره او اوچت دی. والله اعلم.

علامه ابن تيمية رحمه الله د دې شبهې ښائسته جواب کړی موصوف فرمايي: ثم من توهم أن كون الله في السماء بمعنى أن السماء تحيط به وتحويه فهو كاذب ـ إن نقله عن غيره ـ، وضال ـ إن اعتقده في ربه ـ وما سمعنا أحدا يفهمه من اللفظ، ولا رأينا أحدا نقله عن أحد.

ژباړه: فرمايي او بيا چې چا دا وهم کړی چې فوقيت د الله تعالیٰ په اسمان کې په دې معنیٰ دی چې اسمان پرې احاطه کړې او دا يې راګېر کړی دی نو دا درواغجن دی که د بل څخه يې دغه عقيده نقل کړې وي (ځکه چې امت کې داسې هېڅ څوک د أسلاف صالحين نه دی تېر شوی چې د هغه دا عقيده وي او ده ترې نقل کړې وي) او ګمراه دی که په خپله يې د رب باره کې لري او مونږ تر اوسه د يو کس نه نه ده اوريدلي چې هغه د دې لفظ نه دا فهم اخيستی وي او نه مو تر اوسه يو څوک داسې ليدلی چې هغوی دا د يو کس نه نقل کړې وي. [الحموية الكبرى ص ٥٢٥]

دويم جواب:

ډيره عجيبه خو دا ده چې دغه د فوقية فی السماء عقيدة د الله تبارک وتعالیٰ متعلق قران او حديث په کرّاتو مراتو ذکر کوي خو چيرته د رسول الله صلى الله عليه وسلم په صحابه کرامو کې چې د أمة په جمله انسانانو کې غوره او د علم فضل او عقل خاوندان دي کوم چې الله تعالیٰ د خپل نبي او رسول د ملګرتيا او د دين د دعوت او تبليغ لپاره خاص کړي دوی څخه چيرته د يو صحابي ذهن کې دغه شبهه او اعتراض واقع نه شو خو نن د لبيد بن اعصم دا فکارو د توليد په نتيجه کې د الله تبارک وتعالیٰ ښکلي کريمه صفات منل د الله تعالیٰ توهين ګڼل کيږی!!

ځکه نو شيخ الاسلام رحمه الله دغه اعتقاد د جمله مسلمانانو څخه نفي کوي او دا يو داسې تکلف ګڼي چې د مسلمانانو د فهم نه يې بهر او خارج ګڼي. موصوف فرمايي: ولو سئل سائر المسلمين: هل تفهمون من قول الله تعالى ورسوله «أن الله في السماء» أن السماء تحويه؟ لبادر كل أحد منهم إلى أن يقول: هذا شيء لعله لم يخطر ببالنا وإذا كان الأمر هكذا فمن التكلف أن يجعل ظاهر اللفظ شيئا محالا لا يفهمه الناس منه.

ژباړه: که چيرته د ټولو مسلمانانو نه هم دې متعلق پوښتنه وشي چې آيا تاسو د الله جل جلاله او د هغه د رسول (صلى الله عليه وسلم) دق ول نه چې (هغوی فرمايي) الله تعالیٰ په اسمان کې دی دا فهم اخلي چې اسمان ده لره راګېر کړی دی؟ نو مخکې والی به وکړي هر يو له دوی څخه دې خبرې ته چې وبه وايي چې دا هغه څه دي چې زمونږ په سوچ کې هم نه دي راغلي نو چې کله داسې وي نو بيا دا د تکلف له قبيلې څخه ده چې څوک يو ښکاره لفظ داسې يو محال وګرځوي چې د هغې په مقصد او معنیٰ هېڅ څوک نه پوهېږي. [الحموية الكبرى ص٥٢٥] .

دريم جواب:

د الله تبارک وتعالیٰ د ذات او صفاتو متعلق ذهن کې دا عقيده لرل واجب ده چې لکه څنګه چې مونږ ته کيفيت د ذات د الله جل جلاله نه دی معلوم نو دغه ډول مونږ ته کيفيت د صفاتو هم نه دی معلوم، ځکه دې متعلق دا مشهوره قاعده ده چې القول فی الصفات كالقول فی الذات، يعنې کومه عقيده چې د يو مؤمن د الله جل جلاله د ذات باره کې ده بعينه همدا عقيده به د هغه د صفاتو متعلق هم وي نو چې د ذات کيفيت نه يې علم نه لرو نو د صفاتو د کيفيت نه يې هم علم نه لرو، نو دا د متشابهاتو له قبيلې څخه وي چې څنګه په قران او سنت کې وارد شوي او ثابت شوي وي هغه شان به منل کيدلی شي بغير له دې چې تأويل، تشبيه، تمثيل او يا يې تعطيل وکړی شي او همدا دأهل السنة والجماعة عقيده او مسلك دی.

علامة ذهبي رحمه الله د معظمو امامانو څخه نقل کړی لکه اوازاعی، امام مالک، سفيان الثوری، ليث بن سعد چې دې ټولو فرمايلي: أمروها كماجاءت بلا كيف، دغه صفات چې څنګه وارد شوی همدا شان به يې ګڼئ بغير له کيفيت نه وګوره [العرش للذهبى ٢/٢٥١]، [السنة للخلال ١/٢٥٩]

نو معلومه شوه چې دې کې به سل په سله عقل ذهن او زيرکتيا د نقل تابع کوي نو بيا به ته متبع د حق ګرځې او که دې أمورو کې دې عقل ته په نقل ترجيح ورکړه نو بيابه لکه دجهميه وو غوندې د الله جل جلاله او د هغه د رسول (صلى الله عليه وسلم) په ضد او دښمنۍ کې واقع شې، اعاذنا الله واياكم من تلك العقيدة الشنيعة الباطلة القبيحة.

دوام لري...

Stringer/Courtesy Reuters

الفلاح والرشاد في مسائل الجهاد ٥

پنځم درس : صحيح البخاري كتاب الجهاد

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على رسوله الأمين وعلى أزواجه وأصحابه ومن تبعهم في إحسان إلى يوم الدين أما بعد:
محترمو مسلمانانو ورونو او خوېندو!
مونږ مخکې درس کې د لوی الله په توفيق سره د الفلاح والرشاد په سلسله واره لړۍ درسونو څخه په تېر شوی څلورم درس کې د صحيح البخاري د كتاب الجهاد څخه تر پنځم حديث وضاحت او تفصيل ذکر شو، اوس پنځم درس کې دلوی الله متعال په توفيق د شپږم حديث شرح او تفصيل شروع کوو راځو پنځم حديث ته ..
(حديث ٦)(رقم الحديث ٢٧٨٧) أن أبا هريرة، قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: (مثل المجاهد في سبيل الله، والله أعلم بمن يجاهد في سبيله، كمثل الصائم القائم، وتوكل الله للمجاهد في سبيله، بأن يتوفاه أن يدخله الجنة، أو يرجعه سالما مع أجر أو غنيمة)
ژباړه: بې شکه أبوهريرة رضی الله عنه فرمايي: ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واورېدل، چې هغه فرمايلي (چه مثال د هغه مجاهد چې د الله په لاره کې جنګيږی او الله ډېر ښه پوهيږي په هغه چا چې څوک د هغه په لاره کې جنګيږی، په شان د مثال د هغه کس دی، چې (د ورځې) روژه نيسي او (د شپې) قيام (تهجد) کوي، او ضمانت کړی الله سبحانه وتعالی د (هغه) مجاهد چې د هغه په لاره کې (جهاد کوي) ددې (ضمانت يې کړی) چې بې شکه که وفات يې کړي نو دا چې جنت ته به يې داخل کړی او [که وفات يې نه که] نو واپس به يې روغ راوګرځوي (خپل کور او أهل ته) د اجر او غنيمت سره

التفكر والمراقبة فى ذكر التطبيق والمناسبة

په دې حديث کې هم د مخکنی پنځم نمبر حديث غوندې د بخاري رحمه الله شيخ او استاذ هغه ابواليمان دي، چې د مخکې حديث شرحه کې د هغه مختصر وضاحت ذکر شوی، دا چې دده نه امام بخاري رحمه الله په سند سره دا حديث ابوهريرة رضی الله نقل کوي بيا مناسبة دحديث د ترجمة الباب سره لفظاً د(مُجاهِدٌ) او د (يُجاهِدُ) په کلمو سره دی، او معنوي مناسبت يې ورسره د هاغه فضلية په وجه دی کوم چې دې حديث کې د مجاهد فی سبيل الله لپاره ذکر شوی دی.

إغاثة المغيث بذكرشرح الحديث

(مثل المجاهد ....) دلته دې حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم د مجاهد فی سبيل الله فضيلت د مثال په شکل کې کړی، ځکه مثال سره خبره باندې فهم زر حاصليږي ځکه خو علما وايي چې بالمثال يوضح المقال (والله أعلم بمن يجاهد في سبيله) دا جمله معترضه ده، يعنې مونږ په جزم سره نه شو ويلی چې دا کس خامخا ريښتوني مجاهد دي، ځکه الله ته علم دی، چې ددې کس نيت خالص د الله لپاره دی، او که نه ريا او سُمعت يا د مال د محبت له وجې خو نه جنګيږي او دغه حديث په مستدرک د حاکم کې د بخاري او مسلم په شروطو برابردی، هغې کې دي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه وشوه چې (أي: المؤمن أكمل إيمانا؟) يعنې کوم مومن ډېر کامل دی، په اعتبار د ايمان سره نو جواب کوي چې (الذي يجاهد في سبيل الله بماله ونفسه.) او دا جهاد بيا ډېر غوره دی چې د خپل ځان سره مال هم ولګوي.
(كمثل الصائم القائم) يعنې په شان د هميشه روژه نيونکي او هميشه تهجد کونکي دی، او په نسائي کې دي، چې (الخاشع الراكع الساجد) يعنې د الله نه ويريدونکی، رکوع کونکی، سجده کونکی او دغه تفصيل يې بيا د الموطأ او ابن حبان د روايت په الفاظو کې داسې دی : (كمثل الصائم القائم الدائم الذي لا يفتر من صيام ولا صلاة حتى يرجع) يعنې دغه مخلص مجاهد په شان د هغه هميشه روژه دار او تهجدکونکي دی، چې د روژې او لمونځ کولو نه نه ستړی کيږی الغرض دلته د مجاهد مثال د روژه دار او تهجد کونکي سره ددې وجهې نه ورکوي، چې دې دواړو عملونو سره د نفس او خواهش مقابله او مخالفت راځي، لکه څنګه چې روژه دار ځان د خوراک څښاک او د شهوت له پوره

کولو منعه کړې او تهجدکونکي ځان د خوب او نرمې بسترې نه بند کړي، دغه ډول مجاهد هم خپل ځان او نفس د دښمن سره په قتال کولو د هر قسم سهولت خوند راحت او مزو نه بند کړى دى

(وتوكل الله) ددې معنى ده يعنې : ضمن الله يا تكفل الله څکه د مسلم په روايتونو کې (تضمن الله) او (تكفل الله) الفاظ هم راغلي او حديث چونکې د حديث تفسير کوي، نو لهذا دلته هم د (توكل) نه مراد (تضمن) او (تكفل) دى، او ددې مطلب دادى چې ددې کس الله سبحانه وتعالى ضمانت کړى دى، او د الله سبحانه وتعالى تفضلاً په ځان باندې لازم ګرځولى د وجې د غوره والي او فضيلة د جهاد او مجاهد نه علامه عيني رحمه الله ددې متعلق فرمايي: "ولفظ: الضمان والتكفل والتوكل والانتداب الذي وقع في الأحاديث كلها بمعنى: تحقيق الوعد على وجه الفضل منه، وعبر، صلى الله عليه وسلم، عن الله سبحانه وتعالى بتفضيله بالثواب بلفظ الضمان ونحوه بما جرت به العادة بين الناس بما تطمئن به النفوس، وتركن إليه القلوب"

ژباړه: او دضمان، تكفل، توكل، انتداب ټول هغه الفاظ چې په احاديثو کې ذکر دي، دا په دې معنى دي چې دغه وعده حقيقي او يقيني ده، او الله د خپل فضل او مهربانى له وجې نه په ځان منلې ده او نبي کريم صلى الله عليه وسلم ددې تعبير د الله سبحانه وتعالى له طرف نه د ضمان او ددې په هم معنى لفظونو سره کړى، کوم چې عادةً د خلکو په منځ کې جاري دي، په سبب ددې چې نفسونه پرې مطمئن او په هغې دمه شي [عمدة القاري ١٤/٨٤]

(بأن يتوفاه أن يدخله الجنة) يعنې الله سبحانه وتعالى يې وفات کړي، نو جنت ته به يې داخل کړي، ددې باره کې ابن حجر رحمه الله فرمايي: "قوله أن يدخله الجنة أي بغير حساب ولا عذاب أو المراد أن يدخله الجنة ساعة موته"، ژباړه: د خول د جنت نه مراد دادى چې جنت ته به بغير له حساب او عذاب څخه داخليږي، او بل مراد د جنت د دخول نه دادى چې جنت ته فوراً بعد له مرګ نه داخليږي [فتح الباري ٦/٨] علامه عينى هم د ابن تين نه نقل کړي،چې هغه فرمايي: "إدخاله الجنة يحتمل أن يدخلها إثر وفاته تخصيصا للشهيد أو بعد البعث، ويكون فائدة تخصيصه أن ذلك كفارة لجميع خطايا المجاهد" ژباړه: ددې مجاهد جنت ته داخلول دا احتمال لري چې ده له الله فوراً د وفات پسې سم دستي جنت ته داخل کړي دا خصوصيت د شهيد د وجې نه او يا يې وروسته له بعث يعنې راپورته کېدو د قبر نه او فائده ددې تخصيص هغه داده چې دغه وفات کيدل د مجاهد د ټولو ګناهونو کفاره ده [عمدة القارى ١٤/٨٤]، (سالما) دلته دا کلمه حال دى، د منصوب متصل ضمير نه چې په (يرجعه) کې دى

(مع أجر أو غنيمة) نو دې کې د علماوو تقريباً درې رأيې دي، علامه قرطبي او ابن تين د کوفيانو د مذهب موافق دا نظر دى چې دلته (أو) په معنى د (واو جامعة) دى، ابن عبدالبر هم په دې جزم کړى دى، او علامه تور بشتي هم ديته ترجيح ورکړې ده نو په دې اعتبار سره معنى ددې جملې داده چې دا چې راوبه ګرځوي دې مجاهد له الله سبحانه وتعالى روغ رمټ د اجر او غنيمت دواړو سره او د دوى ددې دعوې تأئيد د مسند أحمد هغه روايت هم کوي چې د عمر رضي الله عنه نه نقل دى په دې الفاظو سره چې د (أو) پرځاى پکې (واو) دى وګوره مسند احمد مسند عمر بن الخطاب حديث رقم٥٨١٢ دغه ډول ابن ماجه او ابوداود هم په دې الفاظو نقل کړى والله اعلم.

دويم قول د بعضو نامعلومه علماوو نه عيني نقل کړى چې د هغوى په نيز دلته (أو) په خپله معنى دى او د (واو) په معنى نه دى نو په دې اعتبار سره معنى ددې جملې بيا دا جوړيږي چې أجر به ورکړي هغه چاته چې غنيمت حاصل نه کړي او چې غنيمت حاصل نه کړي نو هغه ته أجر نه شته يعنې د غنيمت په وجه يې اجر ختم شوو خو ابن حجر رحمه الله په دې رد کوي او فرمايي: "وليس ذلك مرادا بل المراد أو غنيمة معها أجر أنقص من أجر من لم يغنم لأن القواعد تقتضي أنه عند عدم الغنيمة أفضل منه وأتم أجرا عند وجودها فالحديث صريح في نفي الحرمان وليس صريحا في نفي الجمع" ژباړه: او دلته د حديث دا مراد نه دى بلکې مراد دادى او غنيمت که ورکړي اجر ورسره شته خو کم دى، د هغه چا د اجر نه چې غنيمت ورسره نه وي، څکه اصولي قاعدې تقاضا ددې کوي چې بې شکه أجر د جهاد د عدم حصول د غنيمت سره دا غوره او پوره وي د هغه اجر نه چې هغې سره غنيمت هم حاصل شوى وي نو حديث صريح دى په نفې د محروم والي کې نه په نفې د جمع کولو (د غنيمت او أجر) کې [فتح الباري ٦/٨]، دغه ډول ابن حجر رحمه الله د علامه کرماني نه نقل کوي چې دلته په حديث کې دا (من أجر أو غنيمة) جمله دا قضية د مانعة الخلو د قبيلې څخه ده نه د مانعة الجمع له قبيلې نه يعنې يا به دا مجاهد شهيد شي يا نه که شهيد نه شي نو دا بيا له دوه حالو نه خالي نه دى يا به غنيمت او اجر دواړه راوړي څکه اجتماع ددې امرينو ممکنه ده او يا به يو له دې دواړو څخه حاصلوي چې هغه اجر دى څکه غنيمت خو ملاو نه شو نو اجر خو خامخا شته نو دا قضية قضية د مانعة الخلو ده يعنې داسې نه شي کيدى چې يو دې هم نه وي نه مانعة الجمع يعنې جمع يې هم ممکنه ده منعه نه ده داسې کيدى شي چې دواړه حاصل کړي

فوائد الحديث

[١]:دليل دى په دې چې احاديث دا هم وحې ده او دا هم د الله له طرفه ده او ديته وحې خفي ويلى شي

[٢]: د مجاهد هر حالت او ساعت حتى خوب او راحت هم عبادت حسابيږي څکه د هغه يوساعت هم بغير له اجر څخه نه تيريږي.

[٣]: والله اعلم بمن يجاهد فى سبيله کې اشاره ده اخلاص اوصفا والي د نيت ته

[٤]: حقيقي او ريښتوني مجاهد صرف الله ته معلوم دى څکه خبردار په نيتونو صرف هغه تعالى دى.

[٥]: رسول الله صلى الله عليه وسلم د زړونو په نيتونو رازونو او په غيره غيبياتو علم نه لري.

[٦]: د حديث نه معلومه شوه چې الله مجاهد ته درې کرامته تيار کړي دي دوه دونياوى او يو أُخروي دنيوي دادي:
(١) سالم واپس کيدل (٢) غنيمت ورکول (٣) او أُخروي هغه جنت ته داخليدل دي.

[٧]: د يقتله پرځاى يې يتوفاه وويل دليل دى په دې چې که يو انسان جهاد ته ووځي او دى په دې لار کې په خپل مرګ هم وفات شي نو بيا هم ده ته جنت ميلاويږي والله أعلم.

باب الدعاء بالجهاد والشهادة للرجال والنساء

ژباړه: باب ثابت دى په جواز د طلب کولو او غوښتلو د جهاد او د شهادت لپاره د نارينه او زنانه وو.

حصول الأجر والثواب
بتشريح الكمات مافى الباب

دلته هم د باب د لفظ نه مخکې مبتدا محذوف ده چې هغه هذا اسم اشاره ده يعنې هذا باب في بيان الدعاء بالجهاد

دا باب دى په بيان د طلب کولو په دعا کې د جهاد او د شهادت نر وي دغه غوښتونکى او که ښځه وي، څکه للرجال او النساء دا متعلق دى بالدعاء پورې نو اشاره ده ديته چې د جهاد او شهادت

طلب صرف نارينه وو پورې خاص نه دى نو هر څوک کولى شي چې داسې ووايي:

أللهم ارزقني الجهاد، أو أللهم اجعلني من المجاهدين. او اللهم أمتني شهيدا في سبيلك او وغيره... د ترجمة الباب په دې دعوى به دې اول دليل د عمر رضى الله عنه دغه قول ذکر کړى چې هغه دا تمنا کړې په دې قول سره چې فرمايلي يې دي:

اللهم ارزقني شهادة في بلد رسولك.

ژباړه: اى الله! ماته دې د خپل رسول په ښار کې شهادت نصيب وګرځوه. خو دلته يې دا معلق [يعنې بې سنده] ذکر کړى او د کتاب فضائل المدينه په اخر کې يې موصولا (په سند سره) د أسلم أو حفصي رضي الله عنهما نه نقل کړى دى. ابن سعد هم په خپل طبقات کې په صحيح سند سره د عمربن خطاب رضي الله عنه د دې دعا سبب ذکر کړى هغه فرمايي:

چې عوف بن مالك خوب وليده چې عمر رضي الله عنه شهيد کېږي نو چې کله يې دا خوب عمر رضی الله عنه ته بيان که نو هغه ورته وفرمايل: څنګه به ماته دلته شهادت حاصلېږي په داسې حال کې چې زه د عربو د جزيرې په منځ کې اوسېږم خلك رانه ګر چاپېره پراته دي، بيا يې وفرمايل: بلى وبلى يأتي بها الله تعالىٰ إن شآءالله.

ژباړه: ولې نه ولې نه الله جل جلاله به راولي راته که چيرته د الله جل جلاله خوښه وشوه [عمدة القاري ۱۴/۸۵]

شفاءالأمراض بدفع الإعتراض

د قتل او شهادت تمنا مقصد خو دا دی چې کافر در باندې غالب شي او تا قتل کړي او حال دا چې د کافر د غالبېدو تمنا او غوښتنه دا ګناه او معصيت دی ځکه دې سره د مشرکانو برى او خوشحالي په برخه کېږي او دلته عمر رضي الله عنه د دې تمنا کړې ده.

الجواب بعون الله الوهاب: ابن منير رحمه الله د دې په جواب کې فرمايي: دلته مقصود طلب کول د حصول د هغې اوچتې درجې او عالي مرتبې دي کوم چې الله سبحانه وتعالىٰ شهيدانو ته تياره کړې، او کوم چې قتلول د کافر دي مسلمان لره نو دا د داعيه مقاصدو څخه نه دی بلکه دا د وجودي ضرورتاتو څخه دي ځکه چې الله سبحانه وتعالىٰ خپل حکم جاري کړي چې دغه درجه بغير د شهيد نه بل څوك نه شي حاصلولی. [شرح القسطلانی ۵/۳۷]، [عمدة ۱۴/۸۵]، [فتح الباری ۶/۱۰]

مطر الرحمة والسحاب
في ذکر مناسبة ترجمة الباب مع الكتاب

د كتاب الجهاد د ابوابو څخه دا دريم ۳ نمبر باب دی امام بخاري رحمه الله په دې باب کې يو د عمر رضی الله عنه معلق اثر او بل د انس بن مالك رضی الله عنه مرفوع موصول حديث ذكر کوي بيا مناسبة د ترجمة الباب د كتاب الجهاد سره هغه واضح دی په دې ډول چې كتاب الجهاد کې د جهاد د فضايلو د احاديثو د اثبات التزام شوی او ترجمة الباب کې د دې فضيلت طلب غوښتنه او تمنا شوي والله اعلم.

حديث ۷: (رقم الحديث ۲۷۸۸)

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ: (كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ عَلَى أُمِّ حَرَامٍ بِنْتِ مِلْحَانَ، فَتُطْعِمُهُ، وَكَانَتْ أُمُّ حَرَامٍ تَحْتَ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، فَدَخَلَ عَلَيْهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَطْعَمَتْهُ وَجَعَلَتْ تَفْلِي رَأْسَهُ، فَنَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ اسْتَيْقَظَ وَهُوَ يَضْحَكُ، قَالَتْ: فَقُلْتُ: وَمَا يُضْحِكُكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي عُرِضُوا عَلَيَّ، غُزَاةً فِي سَبِيلِ اللَّهِ، يَرْكَبُونَ ثَبَجَ هَذَا البَحْرِ، مُلُوكًا عَلَى الأَسِرَّةِ، أَوْ: مِثْلَ المُلُوكِ عَلَى الأَسِرَّةِ، شَكَّ إِسْحَاقُ، قَالَتْ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ، فَدَعَا لَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ وَضَعَ رَأْسَهُ، ثُمَّ اسْتَيْقَظَ وَهُوَ يَضْحَكُ، فَقُلْتُ: وَمَا يُضْحِكُكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي عُرِضُوا عَلَيَّ، غُزَاةً فِي سَبِيلِ اللَّهِ، كَمَا قَالَ فِي الأَوَّلِ، قَالَتْ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ، قَالَ: أَنْتِ مِنَ الأَوَّلِينَ، فَرَكِبَتِ البَحْرَ فِي زَمَانِ مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ، فَصُرِعَتْ عَنْ دَابَّتِهَا حِينَ خَرَجَتْ مِنَ البَحْرِ، فَهَلَكَتْ.)

ژباړه: د انس بن مالك رضی الله عنه څخه روايت دی: چې بېشکه هغه اورېدلي چې فرمايل يې، رسول الله صلى الله عليه وسلم به د ام حرام لور د ملحان خواته تللو، هغې به ورته خواړه ورکول او أم حرام د عبادة بن صامت په نکاح کې وه نو (يوه ورځ) رسول الله صلى الله عليه وسلم (د هغې کورته) ور داخل شو نو هغې پرې خوراك وکه او سر يې ورته وکتلو (يعنی سر کې ورته سپږې وکتلې) بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم اوده شو بيا راپاڅېده په داسې حال کې چې خندل يې ام حرام فرمايي ما ورته وويل: څه شی دې خندوي ای د الله جل جلاله رسوله! هغه وفرمايل: څه کسان زما د امت ما باندې پيش کړی شول چې هغوی به د دې بحر په منځ کې سورېږي لکه بادشاهان چې په خپلو تختونو (ناست وي) او يا په پشان د بادشاهانو په تختونو شك دلته د اسحاق نه واقع شوی دی نو (ام حرام) فرمايي: ما ورته وفرمايل: ای د الله جل جلاله رسوله! د الله جل جلاله څخه راته وغواړه چې ما هم د دې جملې (غزاتو) څخه وګرځوي نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته دعا وغوښته بيا يې سر کېښوده (او اوده شو) بيا راپاڅېده په داسې حال کې چې خندل يې نو ما ورته وفرمايل: ای د الله جل جلاله رسوله! څه شی خندوي تا لره نو هغه وفرمايل: څه کسان دي زما د امت نه چې ما باندې پيش کړی شو چې داسې حال د الله جل جلاله په لار کې غزا کوونکي دي د رومبي ځل غوندې يې وفرمايل نو (ام حرام) فرمايي ما ورته وفرمايل:
ای د الله جل جلاله رسوله! د الله جل جلاله څخه راته وغواړه چې ما هم له دوی (غزاتو له ډلې) څخه وګرځوي نو هغه وفرمايل:
چې ته د رومبنيو څخه (په کې) يې. انس رضي الله عنه فرمايي: د معاويه بن أبی سفيان په زمانه کې په بحر کې (په کشتی کې) سوره شوه نو چې له بحر نه راوختله، د خپلې سورلی څخه وغورځېده او وفات شوه.

التفكر والمراقبة
في ذكر التطبيق والمناسبة

دې حديث کې د امام بخاري رحمه الله استاذ او شيخ هغه عبدالله بن يوسف التينسي رحمه الله دی چې ثقه متقن او د امام مالك د مؤطا په راويانو کې من أثبت الناس راوي دی چې له هغه څخه يې دغه حديث په سند سره د انس بن مالك رضی الله عنه نه نقل کړی دی.

بيا د حديث د ترجمة الباب سره په مناسبت کې دا اعتراض دی چې ترجمة الباب کې طلب او غوښتنه د شهادت ذكر شوې ده او دلته حديث کې دغه صراحت نه شته نو فلهذا حديث د باب سره مناسبة نه لري!!!

الجواب بعون الله الوهاب: ترجمة الباب کې دوه دعوې ذكر شوي:
۱- طلب د جهاد
۲- طلب د شهادت
نو د يوې دعوې په لحاظ سره د حديث صريح مناسبة د باب سره په دې جملې سره دی چې... يا رسول الله! ادع الله أن يجعلني منهم، ځکه په دې کې غوښتنه او طلب د جهاد ذكر دی او د دويمې دعوې سره يې مناسبة د دې مرفوع حديث په اعتبار سره هغه معنوي دی ځکه جهاد غالباً سبب د شهادتونو دی نو په دې لحاظ سره تمنیٰ د جهاد او د هغې دعا غوښتل مستلزم ده شهادت غوښتلو ته البته د موقوف روايت چې خپله ترجمة الباب کې ذكر شوی په هغې اعتبار سره دغه مناسبت بيا لفظي هم دی والله أعلم بل دې ته دې هم فكر وي چې حديث کې طلب او دعا د جهاد د زنانه ذكر شوی خو سړو ته دغه حكم بطريق اولی شامل دی.

إغاثة المغيث بذكرشرح الحديث

(يدخل علي أم حرام بنت ملحان ...) حرام دا لفظ د حلال ضد دی يعنې په فتحې (زبر) د حا سره لوستل کېږي.

دا أم حرام بنت ملحان د أم سليم خور او دأنس بن مالك خاله وه، د دې په باره کې د علماوو مختلف أقوال دي چې دا څوك وه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم ورتللو او هغې به پرې خواړه خوړل حتیٰ وروسته راغې چې هغې ورته سر کې سپږې هم کتلې نو دې باره کې د محدثينو أقوال مختلف دي شراحو ذكر کړي:

۱ - علامه ابن بطال فرمايي: "قال المهلب: كانت أم حرام خالة النبي (صلى الله عليه وسلم) من الرضاعة، فلذلك كان ينام في حجرها، وتفلي رأسه".

ژباړه: مهلب فرمايي: ام حرام د نبي صلی الله عليه وسلم رضاعي خاله وه نو د دې وجهې نه به نبي صلي الله عليه وسلم د هغې غيږ کې سر ايښوده او هغې به ورته سر کې سپږې کتلې. [شرح صحيح البخاری لابن بطال ۵/۱۰]

۲ - علامه عينی دا ابن عبدالبر رحمه الله نه نقل کړي فرمايي: "وقال أبو عمر: ولا أقف لها على اسم صحيح، وأظنها أرضعت النبي، صلى الله عليه وسلم وأم سليم أرضعته أيضا، إذ لا يشك مسلم أنها كانت منه بمحرم".

ژباړه: ماته د أم حرام خپل نوم باندې علم نه دی حاصل شوی خو زما ګمان دی چې دې نبي صلى الله عليه وسلم ته شېدې

ورکړي دي او أم سليم (چې ددې خور ده هغې) هم ورکړي دي ځکه هيڅ مسلمان په دې کې شک نه کوي چې هغه (أم حرام) نبي صلی الله علیه وسلم ته محرمه وه او د یونس بن أعلیٰ نه يې نقل کړی چې مونږ ته وهب فرمايلي چې أم حرام دا د نبي صلی الله علیه وسلم د رضاعی خالاتو (ترورياڼو) څخه وه.

۳- ابن الجوزی د بعضې حفاظو نه نقل کړي چې أم سليم دا د اميني (ام النبي صلی الله علیه وسلم) رضاعي خور وه (نو ام حرام يې هم ترور يعني خاله شوه) علامه عبدالبر فرمايي: فأي ذلك كان فأم حرام محرم منه.

ژباړه: که دغه أم حرام هر څوک هم وي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته محرمه ده نور أقوال هم د دې باره کې د علماوو شته علامه عيني په عمده کې ذکر کړي هلته يې وګورئ. [عمدة القاری ۱۴/۸۶]

وجعلت تفلي رأسه ..تَفْلِي په فتحې (زبر) د تا او سکون د فا اوکسرې د لام سره د فَلیٰ يَفْلِي فلياً د ضرب يضرب د باب څخه دی او دا وايي سر کې سپږو پسې لټون کولو او د هغې قتلولو ته.

(...غزاة فی سبیل الله...) غزاة جمع د غازي ده چې د ثلاثي مجرد څخه د اسم فاعل صيغه ده لکه قضاة چې جمع د قاضي ده

(..ثَبَجَ هذا البحر..) امام خطابي رحمه الله فرمايي: ثبج البحر: متنه ومعظمه، د ثبج البحر معنیٰ ده ملا او لويه حصه د هغې وثبج كل شيء وسطه، او ثبج د هرڅه منځ ته وايي وقيل: ثبج البحر ظهره، او ويل شوي دي ثبج البحر نه مراد ملا د بحر ده بيا فرمايي: يوضحه بعض ما جاء في الروايات: يركبون ظهر هذا البحر، او د دې معنیٰ وضاحت هغه جمله هم کوي چې په بعضې رواياتو کې راغلي چې دغه غازيان به سوريږي په ملا (شاه) د دې بحر. [عمدة ۱۴/ ۸۶]

(...ملوكا علی الأسرة أومثل ..) دلته ملوكا منصوب دی په طريقه د نزع الخافض سره اصل کې داسې دی أي مثل الملوك علی الأسرة

(...الأَسِرَّة) دا جمع د سرير ده تخت او پالنګ ته وايي د دې (يو) مطلب علامه ابن بطال دا ذکر کوي چې نبي صلی الله علیه وسلم دغه غازيان خوب کې د جنت په تختونو ليدلي دي. [۵/۱۰ شرح ابن بطال]

او د علامه ابن عبدالبر رحمه الله هم دا رأيه ده دويم: مطلب قرطبي رحمه الله دا ذکر کړی چې دا احتمال لري چې دغه حال د غازيانو په دې غزوه کې وي. [عمدة القاری۱۴/۸۶]

دريم: او علامه نووي رحمه الله هم فرمايي: "والأصح أنه صفة لهم في الدنيا أي يركبون مراكب الملوك لسعة حالهم واستقامة أمرهم".

ژباړه: او ډيره صحيح خبره دا ده چې بې شکه دا صفت د دې غازيانو په دنيا کې دی يعنې دوی به په تختونو لکه د بادشاهانو داسې کېني د وجهې د فراخ حال او د قوي اقتدار د دوی نه [شرح قسطلانی ۵/۳۷]

(...أنت من الأولين) يعني ته به د ړومبنی هغه خلقو څخه يې چې په بحر به د تېريدو لپاره سوريږي (فركبت البحر زمن معاوية ابن أبي سفيان) بيا داسې شوه چې دا د خپل خاوند عبادة بن صامت سره په ړومبی غزوه کې چې د روم سره په زمانه د معاويه بن سفيان رضی الله عنهما کې کېدله أووتله علامه قسطلاني فرمايي: دې باره کې د أکثرو أهل سيرَ قول او نظر دا دی چې دغه غزوه په (اته ويشتم ۲۸) كال هجري کې په خلافت د عثمان بن عفان کې شوې چې معاويه رضي الله عنه يې دجنګ امير وو نو په دې اعتبار سره دغه غزوه دا په زمانه د بحري غزا د معاويه سره مراد ده او د معاويه د خلافت زمانه تري مراد نه ده او همدا رأيه د علامه عيني رحمه الله هم ده وګوره [عمدة ۱۴۵/ ۲۴] .

خو د دې برعکس د بخاري او مسلم رحمهماالله په نيز ترينه مراد د معاويه رضی الله عنه د خلافت زمانه ده. [ملخصامن شرح القسطلانی ۵/۳۶].

(فصرعت عن دابتها حين خرجت من البحر فهلكت...) صَرَعَ يصرَع د فتح يفتح څخه دی په ځمکه راغورځېدلوته وايي (عن دابتها) دينه مراد قچره شارحين ليکي چې کله دوی د بحر هغې غاړې ته ورسېدل نو أم حرام ته يې قچر راوستله چې دا پرې سوريدله نو راوغورځېدله او وفات شوه نو هماغه ځای د جزيرې په يوه څنډه کې يې دفن کړه (فهلكت) پس وفات شوه.

فوائد الحديث

۱ - محرمي زنانه ته ورتلل او هغې سره خلوت کول او ملامست کول او هلته خوب کول جائز دی.

۲ - يوه زنانه د خپل خاوند د مال نه په خپل سر د خپلوان او ميلمه لپاره تياری کولی شي.

۳- د سرنه سپږې ټولول او د هغې قتلول جائز دي.

۴ - بل کس ته د سر نه سپږې غونډول او هغه ختمول خدمت او نيکي ده.

۵ - د قيلولي خوب کول سنت دي د دې يو فائده علماوو دا ذکر کړي چې انسان تهجدو ته په وقت او نشاط سره راپاڅېږي، إن شآءالله تعالیٰ.

۶ - د خوشحالۍ او کامرانی په وخت او زيري باندې خندا کول جايز دي.

۷ - د مسلمانانو په فتوحاتو غلبو خوشحالي پکار ده.

۸ - جهاد او د جهاد او مجاهدينو فضيلت به جاري وي او د هر امير په قيادت کې به کېدلی شي.

۹ - زنانه وو ته مباح دي چې جهادونو ته ووځي حتیٰ که بحري جنګ هم وي.

۱۰ - تمنا او ارزو د جهاد او شهادت دا جايزه ده.

۱۱ - د انبياوو خوبونه هم وحې وي.

۱۲ - دا د نبوت د دلائلو او نښو څخه يو نښه ده چې دغه خبر بيا په زمانه د عثمان رضي الله عنه د خلافت کې واقع شوله.

۱۳ - دا خبر دی د نبي صلی الله علیه وسلم چې امت به يې له ده نه وروسته هم باقي وي او جهادونه به کوي، بعون الله تعالیٰ.

۱۴ - دا نبوي اعلام او خبر دی په دې چې أم حرام به تر دې وخته ژوندی وي.

۱۵ - دليل دی په فضيلت د معاويه رضی الله عنه ځکه دغه غزا د ده په مشرۍ کې شوې ده.

۱۶ - دليل دی چې بغير د قتل او قتال نه په خپل مرګ وفات کېدل هم د الله جل جلاله په لاره کې شهادت دی.

۱۷ - نيکانو او صالحينو ته هم د هلاکت صيغه د هغوی د وفات او مرګ په ځای استعمالولی شي.

شرك طاعت

شرك طاعت:عبارت د هغه شرك څخه دی چې د الله تعالی د نازل شوي شريعت په مقابل کې د بل چا په واسطه د رامنځته شوي شريعت تابعداري وشي لکه د وضعي قوانينو اطاعت کول په مقابل د الله تعالی د قانون کې مثلاً د الله تعالی فيصله دغه ده چې د غل څخه باید لاس پرې شي خو که يو څوك دغه فيصله نه مني او په مقابل کې يې فيصله په وضعي قوانينو کوي دغه نفر په شرك اطاعت کې اخته دی، شرك د توحيد ضد عمل دی په يو انسان کې شرك او توحيد دواړه نشي را جمعه کيدلی دا خبره بيخي غلطه ده چې يو څوك وايي دغه کار شرك دی خو مرتکب شخص يې کافر ندی دا خبره ځکه غلطه ده چې دوی د حکم نوازل نه پيژني يو شرعي حکم خو په هوا کې نه نازليږي حتمن خپل نوازل لري لکه مثال ډيموکراسي کفر دی نو څوك چې د ډيموکراسۍ دفاع کوي هغه هم کافر دی.!

د شرك اکبر خطرونه

ای ملګريه! هيڅ يوشی د توحيد د زده کړی څخه مهم نه دی په حوصلې سره دغه ليکنه ولوله او د تدبرڅخه کار واخله، وروسته عمل پری وکړه اوبيا نور خلك دعوت کړه.

د اسلامي خلافت د سقوط څخه وروسته د اسلامي امت زيات ملکونه په شرك د طاعت کې اخته شو او ددې سبب د وضعي قوانينو تطبيق وو په اسلامي امت کې.

شرك تر ټولو ګناهونو لويه ګناه ده چې مسلمان بايد ځان ترې وساتي که چيرې يو څوك د شرك په حالت کې مر شي نو لاندې نتيجې به پرې مرتبې وي.

۱ – مشرك ته به هيڅکله بښنه ونشي: الله تعالی فرمايي : {إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ افْتَرَىٰ إِثْمًا عَظِيمًا}[سُورَةُ النِّسَاءِ : 48]

(الله يوازې شرك نه بښي، له دې څخه پرته چې نورې هر څومره ګناوې دي، چې د هغه چا ته خوښه شي وربښي يې. چا چې له الله سره کوم بل څوك شريك وګاڼه، هغه ډېر غټ دروغ غوټه کړل او د ډېرې لويې ګناه خبره يې وکړه.)

۲ – ټول نيك اعمال د شرك په واسطه د منځه ځي:

الله تعالی په سورة انعام کې وروسته له دې چې د ۱۸ پيغمبرانو حال بيانوي فرمايي: {ذَٰلِكَ هُدَى اللَّهِ يَهْدِي بِهِ مَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ ۚ وَلَوْ أَشْرَكُوا لَحَبِطَ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ}[سُورَةُ الأَنْعَامِ : 88]

(دا د الله هدايت دی، په هغه سره چې د خپلو بندګانو څخه يې چا ته خوښه شي لارښوونه کوي. خو که هغوی شرك کړی وای، نو ټول عملونه به يې عبث ګرځېدلي وای.)

اوله دی څخه صريح ايات دادی چې الله تعالی رسول الله مخاطب کوي او ورته فرمايي: {لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ}[سُورَةُ الزُّمَرِ : 65]

(چې که ته شرك وکړ، نو ستا عمل به بابېزه شي او ته به په زيان کې لويدلی اوسې)

دا امکان نلري چې انبياء دې شرك وکړي خو زموږ د پوهولو لپاره رب العالمين داسې فرمايي

۳ – د مشرك انسان داخيليدل الله تعالی په جنت حرام کړی دی.

نو مشرك انسان به هميشه په جهنم کې وي الله تعالی فرمايي: {إِنَّهُ مَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ ۖ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ} [سُورَةُ المَائدة : 72]

(چا چې له الله سره څوك شريك وګڼه، الله پر هغه جنت حرام کړی او د هغه استوګنځی دوږخ دی، او د داسې ظالمانو هيڅ مرستندويان نشته.)

موږ له اختصار څخه کار واخيستو نور تاسې خپله سوچ وکړئ، موږ ته پکار دي چې د هر ډول شرك څخه برائت وکړو، او ددغې وضعي قوانينو کوم چې انسانانو جوړکړي په مکمل ډول ځان وساتو.

شرك طاعت

طاعت د کفارو د قوانينو څخه کول شرك اکبر دی، هر چا که بشري او وضعي قوانين د خپلې فيصلې لپاره غوره کړل، ده شرك وکړ، يعنې د حلالو او حرامو اختيار يې بغير د الله تعالی نه بل چاته ثابت کړ دغه صريح شرك دی لکه دغه اوسنيو وضعي قوانينو ته فيصلې وړل کوم قوانين چې د الله تعالی د شريعت په ضد کې جوړشوي دي، دغه وضعي قوانينو ته فيصلی وړول شرك طاعت دی په اوس وخت کې ملل متحد يوه لويه کفري اداره ده چې دی ته فيصلی وړول هم لوی ظلم او کفر دی د دوی څخه رسميت غوښتل د دوی د تابعداری په معنا دی او د دوی تابعداري کول ناروا او کفري عمل دی موږ د دغې موضوع په هکله لاندې ايات تر څيړنې لاندې نيسو.

الله تعالی فرمايي:

{وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ لَفِسْقٌ ۗ وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰ أَوْلِيَائِهِمْ لِيُجَادِلُوكُمْ وان اطعتموهم انکم لمشركون}.[سُورَةُ الأَنْعَامِ : 121]

(او کوم ښاروي چې د الله د نوم په اخيستلو نه وي حلال کړای شوي، د هغه غوښه مه خورئ؛ دا کار فسق دی. شيطانان د خپلو ملګرو په زړونو کښې شکونه او اعتراضونه اچوي چې هغوی له تاسي سره شخړه وکړي. خو که تاسي د هغوی اطاعت ومانه، نو بيله شکه به تاسي مشرکان ياست.)

• شان نزول ددغه مبارك ايات:(ابن العربي رحمه الله په احكام القران کې د ابن عباس رضي الله عنه څخه نقل کوي چې:"يو څه خلك رسول الله ته راغلل او ويې ويلی:ځنګه کوم حيوانات چې په خپله وژنو حلال دي؟اوځنګه هغه چې الله تعالی وژلي (خپله مردارشوي)حرام دي؟ د هغوی په جواب کې دا ايات نازل شو".

• علامه شنقيطي رحمه الله دايات په تفسير کې فرمايلي دي:"(فِسْقٌ)يعنی وتل د الله تعالی د شريعت څخه او پيروي کول د شيطان د شريعت څخه".

• امام قرطبي د ابن عباس رضی الله عنه څخه نقل کوي "مطلب د (فِسْقٌ) څخه معصيت او همدا رنګه وتل دي د دين څخه"

• عزابن عبدالسلام فرمايي:" (فِسْقٌ) ؛ګناه يا کفر ته وايي"

يادونه:

علماؤ فسق په ګناه يا کفر ويشلی دی: {فسق اصغر} ګناه ته ويل کيږي لکه يو څوك چې د مرداري غوښه وخوري خو دغه خپل عمل حرام ګڼې دغه شخص د ګناه کبيره ترسره کوونکی دی . { فسق اکبر} هغه ګناه ته ويل کيږي چې مرتکب شخص يې کافر کيږي لکه څوك چې مردارشوی حيوان حلال وګڼي اګر که غوښه يې ونه خوري دا عمل يې کفر دی او ترسره کوونکی يې کافر ګڼل کيږي.

او تفسير د (وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ په هکله امام قرطبي فرمايلي دي"بهترين تفسير ددې دادی: الله تعالی موږ ته خبر راکوي چې شيطانان خپلو دوستانو ته وحې (وسوسې) وراچوي کيدايشي دا انسي شيطانان وي چې خپلو دوستانوته وحې کوي او يا کيدايشي جني شياطين وي چې خپلو انسي دوستانوته وحې کوي اويا دواړه يو دبل سره همکار دي. ددې څخه معلوميږي چې په هر

زمانه کې پراخه شیطانان شته دی، جنې شیاطین خپلو ملګرو ته وسوسې اچوي او د ګناهونو په طرف یې دعوت کوي، له بل طرفه په دې وخت کې ترټولو زیات خطرناکه انسي شیطانان دي دغه انسي شیاطین خلک کفر ته دعوت کوي همدوی دي چې عوام مسلمان د جمهوریت او سیکولاریزم کفر ته دعوت کوي، موږ باید ددې دواړو په وړاندې قوي مبارزه وکړو.

وحی په دوه ډوله ده:

۱ - رباني وحې: د الله تعالی لخواده چې انبیاؤو او رسولانو ته یې کړی ده لکه الله تعالی چې فرمایي: {إِنَّآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ كَمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ نُوحٍ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعْدِهِۦ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطِ وَعِيسَىٰ وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَٰرُونَ وَسُلَيْمَٰنَ وَءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ زَبُورًا}.[سُورَةُ النِّسَاء : 163]

([اې محمده] موږ تا ته په هماغه شان وحیي لیږلې ده، لکه چې نوح او له هغه وروسته پیغمبرانو ته مو لیږلې وه، موږ ابراهیم ، اسمعیل ، اسحق ، یعقوب او د یعقوب ځوځات، عیسی ، ایوب، یونس ، هارون او سلیمان ته وحیي ولیږله. او موږ داؤد ته زبور ورکړ.)

• او بغیر د انبیاو چې ورته وحې (الهام) شوی دی د هغوي په هکله هم لله تعالی فرمایي: {وَإِذْ أَوْحَيْتُ إِلَى ٱلْحَوَارِيِّـۧنَ أَنْ ءَامِنُوا۟ بِى وَبِرَسُولِى قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا وَٱشْهَدْ بِأَنَّنَا مُسْلِمُونَ}.[سُورَةُ المَائدة : 111]

(او کله چې ما حواریانو ته الهام وکړ چې پر ما او زما پر پیغمبر ایمان راوړئ، نو هغوی وویل چې موږ ایمان راوړ او ته شاهد اوسه چې موږ مسلمانان یوو.")

او بغیر دا نسانانو نه چې د الله لخوا ورته وحې شوی ده ،الله تعالی فرمایي:

{وَأَوْحَىٰ رَبُّكَ إِلَى ٱلنَّحْلِ أَنِ ٱتَّخِذِى مِنَ ٱلْجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ ٱلشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ}.[سُورَةُ النّحل : 68]

(او (ګوره)! ستا رب د شاتو مچۍ ته دا وحیي وکړه چې په غرونو، ونو او پر څپرو خیژول شویو نوتو کې خپلې ځالې جوړې کړه؛)

۲ - شیطاني وحی: د شیاطینو لخوا خپلو ملګرو ته خبرې او وسوسې القاء کیږي او دوی بیا ددغو وسؤسو په واسطه د شیطانانو تابعداري کوي او د شیطان سلطه چې په انسان راځي اصلي وجه یې په ایمان کې ضعیفتیا او د توکل نشتون وي. لکه څنګه چې الله تعالی په دی هکله فرمایي: {إِنَّهُۥ لَيْسَ لَهُۥ سُلْطَٰنٌ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ}.[سُورَةُ النّحل : 99]

(د هغه پر هغو خلکو تسلط نه وي چې ایمان یې راوړی وي او پر خپل رب توکُل کوي.)

{إِنَّمَا سُلْطَٰنُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَوَلَّوْنَهُۥ وَٱلَّذِينَ هُم بِهِۦ مُشْرِكُونَ}[سُورَةُ النّحل : 100] (د هغه زور خو پر همغو خلکو رسیږي چې هغه خپل سرپرست ګرځوي او د هغه په لمسونه شرك کوي.)

اوس د دغې برخې تفسیرکوو

{ وان اطعتموهم انکم لمشرکون }

امام شنقیطي ددغې برخې د تفسیر په هکله فرمایي: "ان" شرطیه دی او حذف د "فاء" د کلمی دی، او "انکم لمشرکون" دلالت په قسم کوي چې حذف شوی دی یعنی الله تعالی په دی ایات کې قسم کوي؛هرچا چې د شیطان نه په حلالو(خپل مردارشوی حیوانی) پیروي وکړه، حلال یې وګڼړلو نو دا مشرک دی .او دغه شرك په اجماع د امت خارجوونکې شرک دی د ملت ابراهیمي څخه .

د شنقیطي د تفسیر مطابق بیا داسې راځي [وان اطعتموهم والله انکم لمشرکون] که تاسې د شیطان څخه پیروي وکړه قسم په الله تعالی چې تاسې به مشرکان شی.

ددغه ایات مخاطبین مسلمانان دي ځکه که مسلمانان د وضعي او شرکي قوانینو اطاعت وکړي ، په دی سره مرتد ګرځي،او که غیرمسلم هرڅومره ښه عمل وکړي نو بیا هم مشرک دی ترڅو یې چې توحید نه وي قبول کړی، شرک یو قبیح او یو انتاهی بد عمل دی.

د دغه تفسیر څخه دا جوتیږي چې په ځمکه به یواځې د الله تعالی د شریعت تابعداري کیږي او نور ټول طاغوتي قوانین مردود او پیروي کول یې حرام عمل او په اکثرو مواردو کې ارتداد دی.

سید قطب رحمه الله فرمایلي دي: که مسلمانان د وضعي شرکي قوانینو څخه اطاعت وکړي په یو جز کې دغه شرک دی د الله تعالی سره اومرتکب شخص یې د اسلام د دایرې څخه بهر کیږي.

وګوره سید څومره یوه مهمه او عجیبه خبره کړی ده، د دیموکراسۍ او سیکولاریزم منل خو بیا په طریقه اولا کفر او ارتداد دی. موږ ته پکار دي چې د معاصرو کفري نظامونو څخه برائت وکړو.

فواید ددغه ایت څخه:

1. هر چاچې د وضعي قوانیونو اطاعت وکړ دغه نفر مشرک دی ځکه قران ورته مشرک ویلی دی، د سیکولر قوانینو منوونکې اوفیصله کوونکې خلک مشرکان دي.

2. کوم قوانین چې د قران اوسنت په ضد کې وي، دغه قوانین وحې ده د شیطان لخوا خپلو دوستانو ته .

3. هغه مسلمان چې د الله تعالی په حاکمیت اقرار کوي او بیا هم ددغو وضعي قوانینو اطاعت کوي که پوه وي اوکه ناپوه یقینً دغه شخص دغه قوانین د الله تعالی د شریعت سره برابر کړي دي چې همدغه شرک اکبر دی، څنګه به دغسې خلک مشرکان نه وي،چې فیصلې په طاغوت کوي؟!

الله تعالی په دغه ایات کې په واضح ډول فرمایي:

{أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُوا۟ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓا۟ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوٓا۟ أَن يَكْفُرُوا۟ بِهِۦ وَيُرِيدُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا}.[سُورَةُ النِّسَاء : 60]

([اې پیغمبره !] ایا تا هغو خلکو ته نه دي کتلي چې دعوه کوي چې: موږ پر هغه کتاب چې تا ته راغلی دی او پر هغو کتابونو چې له تا څخه مخکې نازل شوي ول ایمان راوړیدی؟ - خو غواړي چې خپلې چارې د فېصلې لپاره د طاغوت(شیطان) لوري ته وړاندې کړي. حال دا دی چې هغو ته له طاغوت څخه د منکرېدو حُکم شوی ؤ. شیطان غواړي هغوی وغولوي او د سمې لارې څخه یې ډېر لرې وباسي.)

4. الله تعالی د خپلو بنده ګانو څخه غواړي چې د هغې د نازل کړې شریعت اطاعت وکړي : {يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱدْخُلُوا۟ فِى ٱلسِّلْمِ كَآفَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا۟ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيْطَٰنِ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ}[سُورَةُ البَقَرَة : 208]

(اې مؤمنانو! تاسي په هر اړخيز ډول په اسلام کښې ننوځئ او د شیطان پیروي مه کوئ، چې هغه ستاسي ښکاره دښمن دی.)

که وګورو په دغه ایات کې الله تعالی موږ د نورو شریعتونو له تابعداری څخه منعه کړي یو او په بل ایات کې الله تعالی فرمایي:

{وَلَا تَأْكُلُوا۟ مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ ٱسْمُ ٱللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُۥ لَفِسْقٌ وَإِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ

لَيُوحُونَ إِلَىٰٓ أَوْلِيَآئِهِمْ لِيُجَٰدِلُوكُمْ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ}. [سُورَةُ الأنعَام : 121]

(او کوم څاروي چې د الله د نوم په اخیستلو نه وي حلال کړای شوي، د هغه غوښه مه خورئ؛ دا کار فسق دی. شیطانان د خپلو ملګرو په زړونو کښې شکونه او اعتراضونه اچوي چې هغوی له تاسي سره شخړه وکړي. خو که تاسي د هغوی اطاعت ومانه، نو بېله شکه به تاسي مشرکان یاست.)

ددی ایات څخه په خلص ډول استنباط شوي مسائل:

١ - منع شوی د غیر الله د تابعداری څخه.

٢ - د بل چا د شریعت تابعداري بغیر د الله تعالی د شریعت څخه کفر او ارتداد دی.

٣ - اطاعت د وضعي قوانیونو څخه د عبادت په نوم یادیږي.

{أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَٰبَنِىٓ ءَادَمَ أَن لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطَٰنَ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ}[سُورَةُ يٰسٓ : 60]

(د ادم اولادونو، ایا ما تاسي ته پخه خبره نه وه کړې، چې د شیطان بندګي مه کوئ؛ هغه ستاسي ښکاره دښمن دی؛)

٤ - د وضعي شیطاني قوانیونو څخه اطاعت کوونکې مشرکان دي.

{ د تعحب خبره ترټولو دغه ده چې بعضی خلک ایزیدیانو ته مشرکان وایې ځکه هغوي د شیطان اطاعت کوي خو خپل ځانانونه ورته مسلمانان ښکاري سره ددې چې د کفري وضعي قوانینو اطاعت دوي هم کوي }...

د مسلې دښې تشریح لپاره په یوبل ایات بحث کوو.

الله تعالی فرمایي:

{إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوٓا إِلَّآ إِيَّاهُ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ}[سُورَةُ يُوسُف : 40]

(د هغه حکم دی چې پخپله له هغه څخه پرته تاسي د بل هیچا بندګي مه کوئ. دا د ژوند سمه سیخه لاره ده، خو زیاتره خلك نه پوهیږي.)

اولاً: الله تعالی امرکړی چې بغیر زما د حکم څخه د بل چا طاعت(عبادت) مکوئ د عبادت معنا همدغه طاعت، خضوع، او ذلت راغلی ده. همدارنګه د عدي (رض الله عنه) حدیث پری دلیل دی، طاعت خپله عبادت ته ویل کیږي.

ځکه چې رسول الله(صلی الله علیه وسلم)هغه ته وویل:"کوم شیان به چې (راهبانو، مشرانو) حرام او حلال وګڼل نو تاسې به هم همداسې نه ګڼل؟ هغه وویل هو، نو رسول الله(صلی الله علیه وسلم) ورته وویل :ستاسو دغه اطاعت عبادت و د هغوي".

مطلب ددې ایات داشو: فیصله به نه وړئ مګر د الله تعالی شریعت ته ، ځکه فیصله د الله تعالی په شریعت کول عبادت دی، نو ځکه بل وضعي قانون ته فیصله وړاندې کول د عبادت د کولو په معنی دي.

ثانیاً: وروسته له دې چې الله تعالی حاکمیت خپل مقدس ذات ته ثابت کړ، نو ویې فرمایل:عبودیت ، تحاکم روانه دی مګر د الله تعالی په حنیف شریعت سره.

ذالک الدین القیم: ثابت او قوي دین چې هیڅ کوږ والې پکې نشته دی .

هر هغه چا چې د الله تعالی په شریعت فیصله وکړه دغه نفر کامیاب او موحد دی.

ددغی ایات په بنیاد خلک په درې ډلو ویشل شوي دي، وګوره خپل ځان ته دې چې په کومه ډله کې یې؟

٥ - هغه نفر دی چې خپلې فیصلې او اختلافات شرعي محکموته وړي او د قران اوسنت په فیصله رضایت لري دغه شخص کامیابه دی او موحد دی اوپه نیغه لاره د توحید روان دی، دغه شخص په دنیا او اخرت کې کامیابه دی.

٦ - د الله تعالی په حاکمیت اقرار کوي خو فیصلی طاغوت ته وړي غیر شرعي محاکمو ته ورځي دغه نفر مشرک او کافر دی ځکه دغه شخص په شرک د طاعت کې اخته شوی دی.الله تعالی فرمایي{وان اطعتموهم انکم لمشرکون}. او په بل ایت کې الله تعالی فرمایي:

{أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُوا بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓا إِلَى الطَّٰغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوٓا أَن يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَٰلًا بَعِيدًا}.[سُورَةُ النِّسَاء : 60]

[اې پیغمبره] ایا تا هغو خلکو ته نه دي کتلي چې دعوه کوي چې: موږ پر هغه کتاب چې تا ته راغلی دی او پر هغو کتابونو چې له تا څخه مخکې نازل شوي وو ایمان راوړیدی؟ - خو غواړي چې خپلي چاري د فېصلې لپاره د طاغوت(شیطان) لوري ته وړاندې کړي. حال دا دی چې هغو ته له طاغوت څخه د منکرېدو حُکم شوی ؤ. شیطان غواړي هغوی وغولوي او د سمي لاري څخه یې ډېر لري وباسي.)

٧ - د الله تعالی په شریعت باور

نلري خو د مشکل وخت کې فیصلې شرعي محکمې ته وړي دغه شخص هم مرتد او کافر دی.

فایده: د ځمکې په سر تقریباً 7.5 میلیارده انسانان ژوندکوي، شپږمیلیارده یې کافردي چې یهود، نصارا، مجوس ، هندوان او نور .

1.5میلیارده یې اسلام ته منسوب خلک دي چې له بده مرغه روافض یې هم په مسلمانانو کې شمارلي دي.روافض(شیگان) یوه گمراه او بې دینه فرقه ده.

اطاعت په حلالو او حرامو کې په معنا ده معبود نیولو دی:

زموږ درسونه ټول د قرانکریم د مبارکو ایاتو څخه دي، ځکه د تحاکم مسله اصل د دین څخه ده اود ټولو انبیاوو دعوت همدې مسلې ته وو، هغوي په دې خبره تاکید کولو چې حکم او قانون به فقط د الله تعالی له طرفه وي او خلک به یې توحید ته رابلل، ولې به یې نه رابلل د هغه الله تعالی خوا ته چې اسمانونه یې پیداکړي، ځمکې یې پیداکړې دي، نو آیا په مجرد د کلمې (لا اله الا الله) ویلو څوک نجات پیداکولای شي؟ نو بیا دغه د نوح علیه سلام د زمانې څخه دغه جنگونه او اختلافات د څه لپاره وو؟

که چیري بنده گي او اسلام فقط په کلمه ویلو کې خلاصه کیدلو نو ټولو کفارو به دغه کلمه ویلې وه، ځان خبر کړه اسلام د دولت اونظام لرونکي دین دی چې فیصله به په کې په الاهي شریعت کیږي او تر هغې به جهاد او قتال روان وي ترڅو چې ټوله دنیا د الله تعالی شریعت ته تسلیم شي .

الله تعالی د یهودو اونصارو په هکله فرمایي:

{اتَّخَذُوٓا أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ }.[سُورَةُ التَّوبَة : 31]

(دوی خپل عالمان او روحانیون له الله پرته خپل اربابان نیولي دي)

امام قرطبي د دغه ایات د تفسیر په هکله فرمایي: " هغوي د الوهیت درجه ورکړې وه، په تحلیل اوتحریم کې خپلو علماوو او راهبانو ته".

امام شنقیطی رحمه الله د دغه ایات د تفسیر په هکله وایې:"که چیری یهودو او نصاروو ته ویل شوي وو چې د خپلو علماوو عبادت وکړئ یعنې (په الوهیت یې ونیسئ) نودوی به دغه کار نه وو کړی، لیکن دوی بیا د خپلو علماوو اطاعت وکړ په هغه حکم کې چې الله حلال کړی ؤ، خو چې د دوی علماوو ورته حرام وویل نو دوي هم د خپلو مشرانو اطاعت وکړ، چې همدې ته عبادت وایې".

امام بیهقي د حذیفه رضی الله عنه نه روایت کوي:"چې د هغې نه ددغه ایات په باره کې پوښتنه وشوه، ایا هغوي د علماوو لپاره لمونځ کولو؟ و یې فرمایل : نه! لیکن دوی د الله تعالی په حلالو او حرامو کې تغیر راوستو، یعنی علماوو یې حکم بدل کړو او دوی یې اطاعت وکړ ، دغه علماء دوی په دې عمل سره په الوهیت ونیولو.

دمثال په ډول: یهودو د زناحکم کې تغیر راوستو، سنگسار یې په نورو شیانو بدل کړ، عوامو یهودو د خپلو مشرانو اطاعت وکړ، الله تعالی دواړه فرقو ته د مشرکانو خطاب وکړ، قانون جوړونکي او د شرکي قانون منونکي ټول یو شان دي په حکم کې......

په اوس عصر کې چې هر حکومت د الله تعالی نازل کړی شریعت تطبیق نه کړي، او په مقابل کې یې په بل قانون فیصله وکړي، دی سره دغه حکومت طاغوتي گرځي او که څوک په دې قانون راضي وي نو هغه هم گمراه او بې لارې دی، لکه یو څوک چې د غلا حکم په زندان یا په مخ تورولو بدل کړي او عوام یې هم تابعداري وکړي دې سره دوی ټول طاغوتیان گرځي.

په موږ لازمه ده چې د الله تعالی نازل کړی شریعت ومنو اوتطبیق یې کړو د قران اوسنت په مقابله کې د هیڅ خبره اوقانون د منلو نه دی، که چیری موږ ومنلو نو د یهودو په برخلیک به اخته شو. ځکه خو رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي وو:

لتتبعن سَنن من كان قبلكم، حذو القذة بالقذة، حتى لو دخلوا جحر ضب لدخلتموه .

موږ ته پکارده چې د قران اوسنت تابعداري وکړو او د وضعي کفري قوانینو په ضد قوي مبارزه او وسله وال جهاد وکړو.

"وضعي قوانینو ځانونه دالله تعالی سره شریکان کړي"

الله تعالی فرمایلي دي:

{أَمۡ لَهُمۡ شُرَكَٰٓؤُاْ شَرَعُواْ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمۡ يَأۡذَنۢ بِهِ ٱللَّهُۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةُ ٱلۡفَصۡلِ لَقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۗ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ}[سُورَةُ الشُّورَىٰ : 21]

(ایا دغه خلك له الله سره داسي شریکان نیسي، چې د دوی لپاره یې د دین داسي طریقې غوره کړي چې الله د هغې اجازه نده کړې؟ - که د فیصلې خبره مخکې نه وای سرته رسول شوې، نو د دوی تر منځ پریکړه به صادره کړاې شوې وه. په باوري توگه د دغو ظالمانو لپاره دردناك عذاب دی).

وضعي قوانین هم یو دین دی، ځکه د دین د کلمې اطلاق په حق او باطل دواړو باندې کیږي.

الله فرمایلي دي:

{وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ}[سُورَةُ آل عِمرَان : 85]

(له اسلام څخه پرته چې هر څوك كوم بل دین غوره کړي، هیڅکله به ورڅخه قبول نکړی شي او په اخرت کې به هغه ناکام او زیانمن وي).

او د الله تعالی دغه خبره کې سوچ وکړی چې د مکې مشرکینو ته یې کوي.

{لَكُمۡ دِينُكُمۡ وَلِيَ دِينِ}

(ستاسي لپاره ستاسي (د شرك) دین دی او زما لپاره زما (د اسلام) دین دی).

د دې ایات څخه په وضاحت سره معلومیږي څوک چې د الله په نازل کړي شریعت فیصله نه کوي اوپه نورو وضعي قوانینو فیصلی کوي یقیناً دغه نفر مشرک دی او ځانته یې بل نوی دین انتخاب کړی دی. که د اوسني عصر په قوانینو کې سوچ وکړی بلکل د اسلام سره په ضد کې دي، د الله حدود یې معطل کړي دي، د ژوند هرڅه یې په بی دینۍ ولاړدي، نه یې اقتصاد اسلامي دی اونه یې سیاست اسلامي دی ، ځکه دغه کارونه کول د اسلام د حکم څخه نافرماني ده.

شریعت جوړه ول د رب العالمین کاردی بل څوک حق نلري چې د ځانه قوانین جوړ کړي که یو څوک د ځانه تشریعي قوانین جوړه وي نو یقیناً دغه شخص په شرك د الوهیت کې اخته دی او الله تعالی موږ ددې شرک څخه منعه کړي یو. زموږ رب فرمایي:

{وَلَا يُشۡرِكُ فِي حُكۡمِهِۦٓ أَحَدٗا}[سورة الكهف ٢٦]

(و هغه په خپل حکومت کښې څوك نه شریکوي.)

تاسې ددغه ایات په تفسیر ځان پوهه کړئ ، او همدارنگه د وضعي قوانینو په خباثتونو ځان پوهه کړئ او تر هغې پورې یو حکومت اسلامي نه گرځي ترڅو یې چې د الله تعالی شرعه مکمله نه وي تطبیق کړی.

مقدمه ده اساسي قوانینو په هکله: په دنیا کې چې انسانان ژوند کوي نو دوی محبوره دي چې د قوانینو اطاعت وکړي، خپل اختلافات او مشکلات د قوانینو په واسطه حل کړي، عموماً دا قوانین دوه برخې لري یا دغه قوانین د الله تعالی لخوا وي اویا د شیطان لخوا وي.

الله تعالی زیات شمیرپیغمران بشري ټولنې ته د همدې لپاره رالیږلي چې هغوی دغو خلکو ته د ژوندانه اداب وښایې د رب شریعت ته یې راوبولي، او د نورو کفري شریعتنو څخه یې منعه کړي.

په دې ټولو انبیاوو کې زموږ محبوب پیغمبر وروستی رسول وو ، چې الله تعالی د بشریت د نجات لپاره راولیږلو ترڅو خلك د رحمان ذات عبادت(شریعت) ته راوبولي او د شیطان د قوانینو څخه یې منعه کړي.

الله تعالی فرمایي:

{ثُمَّ جَعَلۡنَٰكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡرِ فَٱتَّبِعۡهَا وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ}[سُورَةُ الجَاثيَة : 18]

(له دې وروسته اوس [اې پیغمبره (صلی الله علیه وسلم)!] موږ د دین په باب په یوه روښانه لاره (شریعت) باندې ته برابر کړی یې. له دې کبله ته پر هماغې باندی لاړ شه؛ او د هغو کسانو د نفسي غوښتنو پیروي مه کوه چې علم نه لري(.

فایده: د رسول الله صلی الله علیه وسلم شریعت مکمل دی په هره زمانه کې د انسانیت په گټه دی څوک چې وایي اسلامي شریعت د اوس وخت لپاره پوره نه دی، نو دغه انسان په دې خبرې سره مرتد گرځي.

زموږ رب په دی هکله فرمايي:
{هُوَ الَّذِيٓ أَرْسَلَ رَسُولَه بِالْهُدٰى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ}[سُورَةُ التّوبَة : 33]
(هماغه الله دی چي خپل پيغمبر يې له هدايت او حق دين سره لېږلی دی، تر څو چي هغه پر ټولو دينونو باندي برلاسی کړي، که مشرکانو ته دا څومره ناکاره بريښي هم.)

که په دغه ايت کې فکروکړئ دا خبره تری په ډاګه معلوميږي چې د الله دين اوچت دی اګر که په کفارو دغه خبره سخته بده لګيږي او د رب دين به په ټوله دنيا حاکم کيږي، اګر که منافقينو ته دغه خبرې ټوکې ښکاري.

او هرچې د شيطان لخوا وحې ده.

په هره زمانه کې د الله تعالی د وحې سره سره شيطان خلکو ته وسوسی اچوي، خلک خپل باطل دين ته رابولي په هر وخت کې کله چی د رحمان ذات موحيدين بنده ګان وغواړي چې د رب شريعت مکمل تطبيق کړي په مقابله کې يې د شيطان تابعداران غواړي چې خپل کفري قوان پلي کړي دغلته بيا د حق او باطل يوه خونړۍ جګړه شروع کيږي، د حق او د باطل دا معرکه د اول نه روانه ده او ترقيامته به روانه وي خو موحدين به په دې کې بريالي وي يا شهادت او يا به فتحه وي په دواړو حالتو کې مؤمن کاميابه دی ان شاءالله.

په اوس وخت کې اکثره خلک په شرک د طاعت کې اخته دي، تشريعي قوانين يې د ځانه جوړ کړي او په خلکو يې تطبيق کوي چې دغه کار لوی جرم دی،او اکثره وخت ارتداد دی.

د اسلام څخه د مخکې جاهليت فرق د اوس زمانې د جاهليت سره: الله تعالی غيرو شرعي فيصلوته جاهيليت ويلی دی.د الله تعالی په دی قول کې دقت وکړئ:
{أَفَحُكْمَ الْجَٰهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ}[سُورَةُ المَائدة : 50]
(که دوی د الله له قانون څخه مخ اړوي) نو ايا بيا د جاهليت فېصله غواړي؟ په داسي حال کښي کوم خلك چي پر الله باور لري، د هغو په نزد له الله څخه بل غوره فېصله کوونکی هيڅ نشته(.

کوم جاهليت چې په دې ايات کې تشريح شوی دی هغه د اسلام څخه مخکې جاهليت دی .

حسن بصري (رحمه الله) فرمايلي دي:"هر چاچې په شريعت فيصله ونکړه نو دې فيصلی ته جاهليت ويل کيږي".

اوس راځو د معاصر او پخواني جاهليت توپيرونه ذکرکوو.

۱ - عقيدوي آزادي:

په پخواني جاهليت کې هرچا اختيار لرلو چې هر دين انتخابوي هيڅ پروانکوي لکه په جزيرة العرب کې مشرکان، نصرانيان او يهود اوسيدل يو بل سره يې په عقيده کې اختلاف نلرو، بلکې هر يو يې آزاد ؤو په انتخاب د دين کې.

او زموږ د زمانی جاهليت هم همداسې دی په نوم اسلامي ملکونو کې ټول دينونه ازاد دي، هر څوک خپلو باطلو دينونو ته دعوت کوي چې د نن زمانې جاهليت د تيری زمانې په پرتله ترټولو لوی او بد دی، ځکه دلته د توحيد او سنت توهين هم کيږي، روافض ازاد دي، صحابوو ته کنځلی کوي خو حکومتونه پری چپ دي،نو ايا دا حکمتونه به ددې وروسته هم اسلامي وي؟!!!

۲ - شراب څښل:

شراب د جهالت د زمانې يوبل لوی شتون دی، چې اوس هم خلک شراب څښي او شراب بلکل آزاد دي، دغه د اوسنۍ زمانی قبيح جاهليت دی، او په معاصر جاهليت کې نور ډير نشي شيان استعماليږي ، او په نام نهاده اسلامي ملکونو کې په کثرت سره استعماليږي او په نوم اسلامي ملکونو ورته د کار اجازه هم ورکړی ده.

۳ - د زنا شتون:

په تېر جاهليت کې هم زنا آزاده وه حال دا چې په مکه کې بعضی ښځی په دی عمل مشهورې وی، خو په اوسني جاهليت کې زنا د تېر جاهليت په پرتله بيخي زياته ده په نوم اسلامي ملکونو کې د زنا اډی ښې پريمانه دي، د امن د کورونو په نامه، د ډانس کلبونو په نامه او په نورو نومونو، په بعضی مرتدو هېوادونو کې يې د زنا لپاره رسمي کارتونه هم ورکړي دي، دوی خلک زنا ته رابولي،که د مثال په توګه تاسې په ترکيه او پاکستان کې سوچ وکړئ نو خپله به درته د فحشا او زنا زياتوالی ښکاره شي.

۴ - سود خوري :

څنګه چې په هغی جاهليت کې سود آزاد ؤه، نو اوس هم سود ازاد دی تاسې وګوری د بانکدارۍ نظام ته چې ټول د اسلام څخه په ضد کې جوړ شوی دی، او ټول د سود څخه ډک دی.

دلته ما دغه 4 مساله راوړه نور تاسې خپله فکر وکړئ، په اوس زمانه کې دوه حکمه (شريعته) چليږي ، يو يې د الله تعالی شريعت دی، چې بهترين شريعت دی، بل د طاغوت قانون دی چې بدترين قانون دی، معاصر جاهليت ډيرې زياتي ناخوالې لري.

«اساسي قوانين د يهودو او نصارو د هوا او حوس څخه اخيستل شوي دي»

د دغه بحث د انتخابولو وجه د الله تعالی دغه قول دی:
{وَلَن تَرْضٰى عَنكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصٰرٰى حَتّٰى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدٰى وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُم بَعْدَ الَّذِى جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ اللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ}
(يهوديان او عيسويان به هيڅکله له تا څخه خوشحاله نشي، تر څو ته د هغو په لاره (دين)لاړ نشې. دوی ته په کلکه ووايه چي سمه لاره يوازي هماغه ده چي الله ښودلې ده. او که ته له هغه علم څخه وروسته چي درکړای شويدی، د هغو په خواهشونو پسې لاړ شې؛ نو ستا هيڅ دوست او مرستندوی نشته چي د الله له نيوني څخه دي وژغوري).

ايات د دوو امورو څخه موږ منعه کو ي :

۱ - موږ منعه کوي د يهودو او نصاروا سره، د اړيکو نه: دغه ايات په صريح ډول وايې چې د يهودو رضايت زموږ څخه د هغوي د دين منل دي او دغه کفار هغه وخت د يو مسلمان څخه خوشحاليږي کله چې د هغوي د باطل دين طرفداري وکړای شي. دغه معيار د الله تعالی لخوا نه دی، څومره چې کفار د يو مسلمان څخه راضي کيږي هغومره به دغه مسلمان د ايمان د دايری څخه بهر کيږي او د کفر خوا به حرکت کوي، يهود او نصارا د اسلام سرسخته د ښمنان دي، دوي د توحيد او اهل سنتو سره انتهايې دشمني لري، هغه مسلمانان چې په اسلام په کامله معنا عمل کوي او فيصلی د الله تعالی په شرعه کوي، د الله د دښمنانو په وړاندې په ميړانه جنګيږي ، يهود او نور کفار دوي ته ارهابيون (تروريستان) وايې، هو دوي ريښتيا وايې ځکه الله تعالی د موحيدينو يو ډلی ته د مراهبينو خطاب کوي. زموږ فرمايلی دي:
{لَأَنتُمْ أَشَدُّ رَهْبَةً فِي صُدُورِهِم مِّنَ اللَّهِ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ}
(د دوی په زړونو کښي له الله څخه زياته ستاسي ويره ده، ځکه چي دا داسي خلك دي چي پوهه، ادراك نلري).[سُورَةُ الحَشر : 13]
{وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ }
(او تاسي تر خپلي وسي وسي ډېر زيات طاقت او تيار زين کړي اسونه، د هغوی د مقابلې لپاره برابر کړئ. تر څو چي په دې وسيله د الله پر دښمنانو، پر خپلو دښمنانو او پر هغو نورو دښمنانو هيبت راولئ،). [سُورَةُ الأنفَال : 60]

په دغه دوو اياتونو کې الله تعالی ارهاب د موحيدينو حتمي او لازمي صفت ياد کړی، هو د کفارو ويره او ډار د موحيدينو څخه لازمي امر دی، او دغه خلک د الله تعالی خوښ بنده ګان دي او الله د دوی د ښمنان خپل دښمنان ګڼړي ، څومره يو عجيب شان دی د الله تعالی د لاری د مجاهيدينو!.(الله تعالی دې په دغو خلکو کې موږ راولي).

بل ډول دشمني د يهودو او نصاروو سره مادي او سياسي دشمني ده، لکه د روافضو مخالفت د يهودو سره،او يا د ترکيه مخالفت د يهودو سره، او يا د اخوان المسلمين مخالفت د غرب سره، دغه احزاب او دا بي دينه حکومتونه د اسلام څخه په مکمل ډول اوښتي دي، که غرب دوي سره دشمني لري اصل وجه يې سياسي او مادي اختلافات دي. زموږ دشمني د کفارو سره د عقيدی په اساس ده، موږ به تر هغې مبارزه کوو تر څو چې اسلامي نظام حاکم شي،او په ځمکه د توحيد بيرغ اوچت شي.ان شاءالله.

دويم امر چې په دغه ايت کې

تری موږ منعه شوي په لاندې ډول دی:

۱ - موږ الله تعالی ددی څخه منعه کړي یو، چې د یهودو او نصارو د هوا او هوس (شریعت) تابعداري وکړو.الله تعالی په دی هکله فرمایلي دي:

{وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُم مِّن بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ إِنَّكَ إِذًا لَّمِنَ الظَّٰلِمِينَ}

(او که ته له هغه علم څخه وروسته چې درته راغلی دی، د هغو په غوښتنو پسې لاړ شې، نو هرومرو به په ظالمانو کښې وشمېرل شې.)

اوس خپل اصلي هدف ته را ورسیدو:ای مسلمانانو!

دغه اساسي قوانین چې په اسلامي هیوادنو کې د الاهي قوانیونو په ضد تطبیق کیږي، نو دغه قوانین یو نوی دین دی، چې د دیموکراسۍ او جمهوریت په نومونو په مسلمانانو باندې حاکم دي. او د کفارو او مرتدینو لخوا اسلامي ملکونو ته دغه کفري قوانین راغلي دي.نو موږ ته پکار ده چې ددې قوانیو اطاعت ونکړو او په وړاندې یې کلکه مبارزه باید وکړو.

دغه وه زموږه متخصره ژباړه د شرک الطاعة د درسونو څخه کوم چې شیخ انباري تقبله الله بیان کړي وو.

تاسې باید د شرک الطاعة په هکله زیاته مطالعه وکړی په دی لیکنه کې موږ په مختصر اندازه دغه رانقل کړه.

وصل اللهم وسلم علی نبینا محمد، وعلی آله وصحبه أجمعین

ملګري ملتونه ترې راضي شول

دوهمه برخه

بسم الله الرحمان الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين وعلى آله وصحبه ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين، أما بعد:

درنو لوستونکو! په ذکر شوي عنوان ددې مقالې لومړۍ برخه د خراسان غږ مجلې په دوهمه ګڼه کې خپره شوې اوس به کوشش وکړو چې ددې مقالې په همدې دوهمه برخه کې په ملل ملحده (بين الملل) کې د غړيتوب په ځينو نورو هغه شرايطو تبصره وکړو او د شريعت په تله يې وتلو چې طالب مليشو يې بين الملل ته د پوره کيدو او عملي کيدو لپاره وړکړي او وخت په وخت يې لوړ پوړي چارواکي ددې کفري شرايطو د عملي کيدو اعترافات کوي .

په بين الملل کې د غړيتوب لپاره د شرايطو په لړ کې په يوه بله ماده کې راځي :

ټول غړي هيوادونه به د انګريزانو له لوري د هيوادونو ويش تسليموي په يو بل به بريد نه کوي ، د زور له کارونې به ډډه کوي او داسې کړنې به نه ترسره کوي چې د بين الملل د منشور خلاف وي.

اوس راځو دې ته چې دغه جغرافوي کرښې چې هيوادونه يې سره ويشلي تش جغرافوي ويش نه دی ، بلکې ترشا يې د وطنيت ګمراه عقيده پرته ده ، د دغه انګريزي ويش ترشا نور ګڼ مفاهيم پراته دي او د همدغه جغرافيوي کرښو په استناد چې تر شا يې کومې نورې معنوي کرښې راښکل شوې ددې ټولو په شمول يو هم د وطنيت ګمراه عقيده ده ، اسلامي وطن کوم وطن دی او سکولر وطن کوم وطن دی؟!

د موجوده وطنونو څخه له چانه دفاع او په کې د چا حمايه کيږي؟

د انګريزانو له لوري د دغه هيوادونو د جغرافيوي او فکري ويشنې څخه بين الملل ولې ملاتړ کوي ،اهداف يې څه دي ؟

او طالب مرتدين د وطنيت په همدې ګمراه عقيده د ترلو او پاللو په پايله کې د کومو ننګونو او اسلام ماتونکو نواقضو سره مخ دي ؟

دا او ځينې نور موضوعات به د مقالې په دې برخه کې بحث وکړو ان شاء الله

درنو لوستونکو ! لکه څنګه مو چې مخکې يادونه کړې وه ، دې کرښو ته فقط په فزيکي شکل کتل نه دي په کار چې موږ او تاسې دا فکر وکړو چې دا کرښې (سرحدونه) يوازې د ځينو هيوادونو جغرافيوي ويش دی او لازمه ده چې همدې ويشلو ته په کتلو د بين الملل له قوانينو اطاعت وکړو ،نه ، بلکې ددې کرښو ترشا نور ګڼ معنوي مفاهيم پراته دي ، دا کرښې د زمکې پر مخ يوازې د هيوادونو د حدودو د معلومولو په هدف نه دي راښکل شوي بلکې دې سره نور ګڼ عقيدوي مسايل نښتي چې دغه عقيدوي مسايلو له دلې يوه هم د وطنيت عقيده ده چې ګڼ خلک پرې ايمان لري او دا د اسلامه ناخبره تش په نوم مسلمانان بيآ لا دا فکر هم کوي چې په وطن او وطنيت پالنه دوى ته اخروي اجر هم حاصليږي .

درنو لوستونکو ! وطنيت د سکولريزم يو رکن دی او له وطنيت پرته د جمهوريت او په ټوله کې د سکولريزم تطبيق ناممکن دی ، دا چې د وطنيت ددې رکن تر شا کوم مفاسد پراته دي مخکې له هغې به ددغه جغرافيوي کرښو په تاريخي پس منظر لنډه رڼا واچوو چې دا کرښې څنګه ، کله ، چا او ولې کش کړې ؟

د هيوادونو په نوم ويشنه او

په ځانگړې ډول د يوې اسلامي خاورې په څو ټوټو ويشل د مسلمانانو د خپلمنځي تعاملاتو زيږنده نه ده بلکې د پراخه اسلامي خاورې په سېنه دا کرښې چې اوس يې ترشا شته مفاسد بين الملل پالي او ساتي د اسلامي امت د ټوټه کولو ، په دوی د خپلو کفري اصولو منلو په موخه په لومړي ځل برتانيه او فرانسي د سايکس ـــ پيکو په نوم دا کرښې چې د برتانوي مارک سايکس او فرانسوي ژرژ پيکوي نومونو ته منسوبې دي په ١٩١٦ م کال د اولې نړيوالې جگړې وروسته رابشکل شوې . کفارو ددې کرښو او توافق په مټ د اسلامي امت واحده جغرافيه او يوه خاوره چې د عمر رض الله عنه خلافت او له هغې را وروسته خلفاؤ او د هغوی د قوماندې لاندې وياړلو فاتحانو خالد بن وليد ، سعد بن ابي وقاص، ابو عبيده بن جراح ، طارق بن زياد ، قتيبه بن مسلم ، محمد بن قاسم په شمول د حرب وضرب په سلگونو ماهرينو د خپلو اسونو د سومونو لاندې راوستې وه ، دا پراخه خاوره د يو بيرغ يو منهج او يوې عقيدې لرونکې وه او د يوه امير د (وخت د خلفاؤ) له لوري اداره کيده خو کفارو د هيوادونو او وطنونو په نومونو په څو ټوټو تقسيم کړه،په دې خاطر چې د مسلمانانو مشترک اقتصادي، سياسي او نظامي مصالح ټوټه ټوټه کړي او هر يو په جدا، جدا ډول خپل اطاعت ته لاس په نامه ودروي او دوی مجبور کړي چې د هغوی اصول پخپل ځان تطبيق کړي، هر فرعوني جهت د ځان لپاره يوه جغرافيه منسوبه کړه، ماوراء النهر، فارس او ځينې نورې سيمې لکه شام وغيره روسانو او چينايانو واخيستې او همدارنگه غربيانو هم خپله برخه پکې معلومه کړه خراسان هند او اړوند سيمې انگريزانو ته ورسيدې او بيا ټولو کفارو خپله واحده رهبري د بين الملل په عنوان په کال ١٩٤٥م کې تعين او (امريکا، فرانسه، برتانيه، روس او چين) ددې مشترکې دارالندوة د دائمي غړو په څېر وپېژندل شول، او دا هغه نعمت ؤ چې د اسلامي خلافت په جامه کې بايد مؤمنانو لرلی وای خو په عين فکر هغه کفارو د ځان لپاره جوړ کړ او نوم يې پرې ملل متحد يا بين الملل کېښود.

اوس د مسلمانانو ټول وطني نظامونه له همدې آدرس څخه اداره کيږي، ټول فرعوني جهتونه چې د بين الملل د دائمي غړو په صفت پېژندل کيږي د اسلامي امت لپاره اصول وضع کوي او د اسلام په نوم يې په دې خاوره واکمن کړاې شويو پخپلو ناستو وطني مرتدينو تطبيقوي.

د کفارو تر منځ د محمد صلی الله عليه وسلم د ځمکې دې تقسيم او شکست ته اعتقاد او دا شکست منل د همدې وطني کرښو په منلو سره کيږي چې دا ډير لوی شرم دی، هغه وطني ډلې چې د جهاد او اسلامي نظام دعوې د کفارو له وطني اطاعت سره کوي شرم ورته پکار ده ځکه په دوی نوره د حماقت، بې خبري او غلامي انتهاء راغلې ده، دوی خپلې وينې بهوي تر څو د کفارو د ١٩١٦م کال د توافق کلمه په اسلامي امت کې لوړه شي او هغه ته په اسلامي امت کې د عمل جامه ورواغوندي او د اسلامي امت همغه ټوټه کېدل او حصه کيدل ژوندي وساتي.

د سيکولر وطنيت بندگانو ته وايو چې تاسو د وطنيت په پليته عقيده کې د اسلامي امت لپاره څه څه گټې ليدلي او د کفارو لپاره مو څه څه زيانونه پکې ليدلي چې پدې باطل فکر پورې نښتي ياست؟

درياد کړئ هغه شان او شوکت چې په ترڅ کې يې ټول اسلامي امت د واحد امير، خلافت او خليفة المسلمين د قيادت لاندې يوه جغرافيه او يوه خبره شي، د مسلمانانو تر منځ ټول اقتصادي، سياسي او نظامي مصالح مشترک شي، اسلامي امت يو موټی او ټوله نړۍ يې په مقابل کې د پخوا په څېر عجز اختيار کړي دا ښه ده او که ستاسو د وطنيت متفرق غارونه چې پکې پراته ياست؟

دا چې د کفارو ياد توافق او د اسلامي امت په ټوټه کولو کې اسلامي امت ته څه څه زيانونه اوښتي يو يو به د فرعي عنوانونو په ترڅ کې ان شاءالله بيان کړو.

دغه د وطنيت عقيده لرل چې د همدې کرښو زيږنده ده :

. دا الله رب العالمين سره شرک دی.

ځکه د الله جل جلاله مقابل کې د دې وطنيت عبادت کيږي.

د وطنيت او قوميت عقيده د دې عصر لوي طاغوت او الله رب العالمين سره شرک دی ، د الله جل جلاله مقابل کې د وطن او قوم عبادت کيږي، چې دوستي،دښمني، جگړه او له دې څخه دفاع کولو په صورت کې دا کفر دی.

الله جل جلاله فرمايي:

وَ ي مِنَ النا ي س مَنْ يَتى ي خذُ ي مِنْ دُو ي ن اللى ي ه أَنْدَادًا يُ ي حبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللى ي ه وَالى ي ذينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا ليلى ي ه.]سُورَةُ البَقَرَة : 165]

ژباړه: ځينې خلك داسي دي چې له الله پرته نور د هغه سيالان گرځوي؛

او پر هغو داسي مين دي لکه چې څنگه له الله سره مينه لرل ښايي. او

مومنان د الله سره تر ټولو زياته مينه لرونکي دي.

ژباړه: جابر بن عبد الله رضي الله عنهما وايي: مونږ د نبي عليه السلام سره په يو جنگ کې وو، نو يو مهاجر بل انصاري په شا باندې وواهه،

انصاري غږ کړ: اې انصارو، او مهاجر وويل: اې مهاجرينو راشئ، رسول الله صلى الله عليه وسلم دا خبرې واوريدی، او ويې فرمايل: څنگه دجاهليت دعوه او نعره وهئ، هغوی وويل: اې د الله رسوله، يو مهاجر کس بل انصار په شا وواهه، هغه وفرمايل: دا غږ پريږدئ، دا بدبوی والاكلمه ده، عبد الله بن أبي چې دا واوريدل، نو ويې ويل: دې

مهاجرینو داسې کار وکړ، قسم په الله که مونږ مدینې ته وګرځیدو، نو زیات عزتمند انسان به ډیر ذلیله کس د مدینې څخه وباسي، نبي علیه السلام ته دا خبره ورسیده، عمر پاڅید او ویې ویل: اې د الله رسوله، ما پریږده چې د دغه منافق څټ ووهم،نبي علیه السلام ورته وفرمایل: دا پریږده، چې خلک بیا ونه وایي محمد صلی الله علیه وسلم خپل ملګري وژني. 345

نو دغه کفري چیغه د رئیس المنافقین عبد الله بن أبي بن سلول شعارو، چې مهاجرین او انصار یې جدا بلل، نن طالبان د ابن سلول خپل روحاني لمسیان وختل سیکولر وطني عقیدې ته ولې کفر او شرک وایو؟

کفر ځکه ورته وایو چې وطنیت د سیکولر کفري دین یو اساسي رکن او منل یې د کفارو اطاعت ده او شرک یې ځکه بولو چې نن خلک ددغه جهل داسې عبادت کوي لکه د الله چې عبادت کیږي، د همدې لپاره جنګیږي، د همدې لپاره له یوه چا سره دوستي او دښمني کوي او د خپل وطن د کلمې د لوړاوي لپاره خپل ځانونه، اولادونه او مالونه قربانوي، هر څوک چې د دوی سیکولر وطنیت ته ګټه رسوي هغه د وطنپرست په عنوان ښه سړی یادیږي او هر څوک چې د دوی سیکولر وطني مصالحو ته زیان رسوي له هغوی سره دوی دښمني کوي او له ټولو بد یې یادوي او له هغه سره بیا داسې معامله کوي لکه اسلام یې چې د کافر په نسبت ښيي.

علاوه لدې چې دا عقیده د سیکولر کفر یو اساسي رکن او د کفارو اطاعت ده، بلکې په دې کې نور هم زیات مفسدات شته چې د فرعي عنوانونو په ترڅ کې به ئې یو یو ذکر کړو ان شاء الله ، د یادولو وړ ده چې یاد مفسدات نن د مسلمانانو په مقابل کې جنګېدونکي معنویات دي او منل یې د طاغوت عبادت او ترې بېزاري کول توحید او د یو د الله سبحانه وتعالی د عبادت معنی لري.

د سیکولر وطنیت د عقیدې له امله د کفارو اطاعت:

هر څوک چې وطني فکر لري هغه به ضرور د کفارو اطاعت کوي، د وطنیت عقیده تش تر خبرو او یو څو شعارونو پورې نده محدوده ، بلکې لدې سره ډیر نور مفسدات تړلي چې یو له هغو یې د کفارو اطاعت ده ځکه وطني کرښې همدې کفارو د بین المللي سرحداتو په عنوان رسم کړي او مسلمانان یې اطاعت ته د وسلو په زور وربولي، که وطني اصول ورسره ومنل شي دوی سوله او دوستي ورسره کوي او که دا ورسره ونه منل شي نو د ټولې نړۍ کفار به یې په ضد نظامي ائتلافونه کوي، ژوندی مثال یې سلامي امارت دی ، کله یې چې بین المللي اصول ومنل ، نو جګړه ختمه شوه ، او په ډیر هنر هغه دی د تېر مرتد نظام څخه واک او ځواک طالب مرتدینو ته تسلیم شو ، اوس به نو د بین الملل د اصولو له مخې نه یوازې دا چې د وطنیت په عقیده به ایمان ساتي بلکې د بین الملل له لوري نور وضعه شوي کفري قوانین به هم عملي کوي ، چې ددې ټولو د عملي کولو طالب چارواکو لا له وړاندې اعترافات کړي ، نو له دې کړښو او وطنیتونو څخه متابعت په حقیقت کې له کفارو څخه اطاعت ده او الله سبحانه وتعالی فرمایلي چې:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تُطِيعُوا الَّذِينَ كَفَرُوا يَرُدُّوكُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ فَتَنقَلِبُوا خَاسِرِينَ [آل عمران:۱٤۹]

ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی که چیرې تاسو د کافرانو خبره ومنئ نو هغوی به تاسو له اسلامي دین، قانون او شریعت څخه په شا وګرځوي بیا به تاسو داسې شئ چې (د قیامت په ورځ به) تاوانیان يئ.

د الله سبحانه وتعالی د کلام په اساس هر څوک چې د کفارو د اطاعت په چوکاټ کې کوم کار ترسره کوي د هغه د اعمالو د ضایع کېدو له امله به دا کس د آخرت په ورځ له تاوانیانو څخه وي، سره لدې که دا عمل د جهاد په نوم وطني جګړې وي، یا پدې لاره کې هلاکت او یا زخمي کېدل، د نه قبلېدو له وجې به یې عمل کوونکی د قیامت په ورځ هیڅ ګټه نه ترلاسه کوي.

د کلمې لازمه عقیده "ولاء او براء " (د الله لپاره دوستي او دښمني) ده

خو د وطنیت په عقیده ایمان لرل د اسلام د ولاء او براء عقیده له منځه وړي.

د دوستۍ او دښمنۍ معیار اسلام ، ایمان ښودلی، هر څوک، چې د هر ځای، هر رنګ او د هرې قیبلې وي چې مسلمان وي زمونږ ورور او که کافر وي زمونږ دښمن دي ،اګر که زمونږ د مور او پلار څخه زیږیدلی وي، نو معیار قوم یا وطن ګرځول او د دې په سر بیا دوستي او دښمني کول دا کفر دی، ځکه وطن یا قوم پدغه وخت کې طاغوت ګرځي.

دا قومیت او وطنیت خلکو ته وړه خبره ښکاري خو د دی ډیر نقصانات دي:

سیکولر وطنیت منل په حقیقت کې د ټول اسلامي اخوت له تړون څخه ځان شلول او له هغه څخه په شعوري ډول انکار ده، ځکه پدې عقیده کې به ته

له هغه چا سره مشترک اقتصادي، نظامي او سیاسي مصالح لري چې هغه ستا وطندار وي سره لدې که هغه نصراني، یهودي او هندو ، رافضي او د هرې عقیدې خاوند وي او غیر له هغه به د ټولي نړۍ له مسلمانانو څخه ستا مصالح پردي او جدا وي، بلکې د کفارو د لزوم دید په اساس به ته بل مسلمان ته جاسوس هم ورلیږې تر څو يې سیاسي او نظامي جاسوسي وکړې او خپل وطني مصلحتونه پرې خوندي کړې.

دا پداسې حال کې ده چې الله سبحانه وتعالی مسلمانانو ته د وروړګلوي معیار ایمان لرل په ګوته کړې او فرمایلي يې دي چې:

﴿ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَالحجرات﴾ : (۱۰)

ژباړه: بېشکه همدا خبره ده چې مؤمنان خو سره ورونه دي، نو تاسو د خپلو ورونو تر منځ اصلاح راولئ او له الله څخه وویرېږئ، ددې لپاره چې په تاسو رحم وکړی شي.

پدې مبارک آیت کې الله تعالی د بل انسان د خیرخواهۍ لپاره د ایمان لرلو معیار ټاکلی، نه کوم وطن او مشترکه جغرافیه، همدارنګه الله عزوجل فرمايي چې:

إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ ءَامَنُوا الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَوٰةَ وَهُمْ رَٰكِعُونَ [سُورَةُالمَائدة : 55]

ژباړه: ستاسې ملګری خو په حقیقت کې یوازې الله، او د الله پیغمبر او هغه مؤمنان دي چې لمونځونه قائموي، زکات ورکوي او د الله په وړاندې سرټیټونکي وي.

پدې مبارک آیت کې الله عزوجل د مؤمنانو د ملګرتیا لپاره بیا هم ایمان والا خلک په ګوته کړي، نه وطن او وطنداران، حدیث کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نقل شوي چې:

عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ ، عَنْ جَدِّهِ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :«الْمُسْلِمُونَ تَتَكَافَأُ دِمَاؤُهُمْ. يَسْعَى بِذِمَّتِهِمْ أَدْنَاهُمْ، وَيُجِيرُ عَلَيْهِمْ أَقْصَاهُمْ، وَهُمْ يَدٌ عَلَى مَنْ سِوَاهُمْ يَرُدُّ مُشِدُّهُمْ عَلَى مُضْعِفِهِمْ، وَمُتَسَرِّيهِمْ عَلَى قَاعِدِهِمْ» رواه ابوداود (حسن).

ژباړه: عمر بن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د مسلمانانو وینه له یو او بل سره برابره ده، هغوی په وعدې او بیعت کې برابر دي، له ټولو لیرې مؤمن څخه باید ساتنه وشي، هغوی د تجاوز کوونکو په مقابل کې یو لاس وي، د مؤمنانو قوي به د کمزوري ځواب وي او جنګېدونکی به يې د ناست ځواب وي.

سبحان الله، رسول الله صلی الله علیه وسلم په څومره واضح تفسیر ټول مؤمنان نړیوال اخوت ته وربللي او پخپل منځ کې يې د بې کچې ترحم او ترون نصیحت ورته کړی؟ خو افسوس د سیکولر وطنیت د جهل په پیروانو چې له دیني او شرعي معنویاتو يې ځان پردی او کفر ته يې نژدې کړی ده.

وطنپرستان تل د خپل وطن لپاره له خلکو سره دوستي او دښمني کوي، هر څوک چې د دوی سیکولر حدودو ته وفا لري هغه په ښه نوم یادوي او هر څوک چې د دوی سیکولر جغرافیې ته تاوان رسوي هغه په بد نوم یادوي، دوی د همدې وطن لپاره خپل مالونه، اولادونه او خپلې وینې ځاروي، پداسې حال کې چې یو مؤمن باید یاد معنویات یوازې او یوازې الله لره خاص کړي، د الله عزوجل لپاره له یو چا سره محبت لرل یا ورڅخه بیزاري لرل د ایمان اصل ده او پرته لدې د یوه مؤمن ایمان نه صحیح کیږي ځکه الله عزوجل فرمايي:

لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ [مجادلة:۲۲]

ژباړه: ته به داسې قوم ونه مومې چې په الله او په ورځ د آخرت ایمان ولري او بیا دوی له هغه چا سره دوستي وکړي چې د الله او د هغه د رسول مخالفت يې کړی وي اګر چې دغه خلک ددوی پلرونه وي، یا د دوی زامن یا د دوی ورونه یا د دوی قبیله وي.

همدارنګه الله سبحانه وتعالی فرمايي چې: وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالنَّبِيِّ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَآءَ وَلَٰكِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُمْ فَٰسِقُونَ [سُورَةُ المَائدة : 81]

ژباړه: که په رښتیا سره دا خلک د الله، پیغمبر او هغه څه منونکي وای چې پر پیغمبر نازل شوي ول؛ نو هیڅکله به يې د مؤمنانو په مقابله کښې کافران خپل دوستان نه نیول؛ مګر له هغوی څخه زیاتره خلک د الله له اطاعت څخه وتلي (یعنې کافران) دي.

په پورته مبارک آیت کې الله سبحانه وتعالی له هغه چا ایمان نفی کړی چې د الله او رسول سره له مخالفت کوونکو سره دوستي کوي، خو سیکولر وطنیان خپل همدا با ارزښته معنویت د وطنیت په اختیار کې ورکوي او د همدې په اساس له یوه چا سره دوستي او دښمني کوي، د خپلې خاورې هندو د بلې خاورې له مؤمن سره نه برابروي او خپل هندو ورته اعلی او افضل ښکاري یا له هغو کفارو سره د وطني سیکولر مصالحو د خوندیتوب لپاره د دوستي تړونونه امضاء کوي چې هغوی د الله او رسول په مخالفت کې له مؤمنانو سره په بل ځای کې دښمني کړې، دا خویونه له مسلمان سره نه ښایي بلکې دا د جهالت، کفر او شرک د توري دورې خویونه دي چې اسلام په کلکه مسلمانان ځینې منع کړي.

اوس طالب ملیشې تاسې عملاً ګورئ نه یوازې دا چې دوی په درواغو اعتراف کوي بلکې حقیقت کې يې دا هر څه عملي کړي هم دي ، دوی ته د خپل وطن د روافضو، هندوانو ، یهودانو ، سکانو ، اسماعلیانو په شمول ټول مرتدین او مشرکین ورونه ښکاري نه یوازې د دوی دفاع او ساتنه کوي بلکې د دوی د شرکي معبدونو او مراسمو په ساتنه کې هم خپل سرونه بایلي چې تاسې يې عملي بیلګې لیدلي چې په روافضو او هندوانو د اسلامي دولت د بریدونو په پایله کې د دوی د ساتنې په ناکامه هڅو کې څومره طالب ملیشې ووژل شوې او یا هم د کابل په هوایي ډګر د اسلامي دولت د یو انغماسي برید پرمهال طالب ملیشو څومره هڅه وکړه چې خپل امریکایي باداران او د دوی نور ورونه مرتدین د اسلامي دولت له ګذاره خوندي کړي خو ونه توانیدل او الله عزوجل د ټولو وینې په شریکه وبهولې .



بل لور ته بیا تاسې وګورئ د نورو هیوادونو مومنان په څومره بې رحمۍ سره په شپنیو چاپو کې سره د خپلو معصومو بچو یو ځای وژني ، او ان له خپلو لیکو څخه یې د امریکا په خوښه د افغانستان څخه د بهر اوسېدونکو د هغه خلکو د شړلو فرمان هم ورکړ چې څو کلونه د دوی په ملاتړ جنګیدلي و.

دوطنیت د ګمراه عقیدې سره نور ډېر مفاسد او اسلام ماتونکې نواقض تړلي چې ټول طالبانو عملي کړي او په عملي کولو یې اعتراف هم کړې چې ددې هر ناقض تفصلي وضاحت به ددې مقالې له برداشته بهر وي خو دلته به هغه نواقض لنډ ذکر کړو چې د وطنیت د عقیدې سره تړاو لري .

قومیت او وطنیت سره د هجرت احکام ختمیږي، اوس تاسې عملا ګورئ چې طالب ملېشو خپلو کافرو بادارانو ته ډاډ ورکړې چې د دوی له افغانستانه به په یو کافر هم برید نه کیږي ، دوی به نور بهرني مهاجرین خو نه قبلوي بلکې هغه په تیرو وختونو کې راغلي مهاجر یې هم وشړل ، او که کوم دلته په پټه د اسلامي دولت سره همکاري کوي نو هغې پسې شپه او ورځ ګرځي او سره د بچو یې وژني ، ځکه چې هغه د دوی د وطن نه دي او هغه کافرو ته درد سر جوړیږي ، نو نه یوازې جهاد معطل او ختم اعلان شو بلکې په همدې هدف د هجرتونو لړۍ هم ودریده

که دوی خپل ځان ازاد ګڼي ، او وايي موږ فاتحان یو او دا شرعي نظام دی نو په نړۍ کې محکومو مسلمانانو ته دې افغانستان ته د هجرت امر وکړي کنه ؟

خو داسې هېڅکله نه ده ، بلکې دوی د همدې په خاطر واک ته ورسول شول چې بیا چرته افغانستان د نړۍ د مسلمانانو د هجرت ځای ونه ګرځي له دې ځایه په کفارو د بریدونو پلانونه جوړ نه شي ، ځکه نو بین الملل دوی په خپلو کفري اصولو وتړل او بیا یې ورته د کابل واک او ځواک وسپاره ، حال دا چې هجرت یوه عظیمه وجیبه ده، چې د سیکولر وطنیت له امله نه یواځې په طالبانو کې، بلکې د نړۍ په مسلمانانو کې هم تقریباً هیره او ترک شوې ده ځکه د سیکولر وطني اصولو مطابق هر څوک چې د تروریستي اعمالو (جهادي کړنو) په نیت له پولو څخه تګ راتګ وکړي هغوی ته له شلو تر دیرشو کلونو قید یا اعدام ورکول کیږي، همدې سیکولر او کفري قوانینو ته التزام لرل په اسلامي امت کې د هجرت د ترک سبب ګرځېدلی او یو مؤمن اوس صلاحیت نلري چې خپل بل مؤمن ورور ته پخپل ځای کې له کوم ظالم څخه پناه ورکړي او دا بدبختي اسلامي امت ته د همدې وطني عقیدې له امله راغلې او دا پداسې حال کې ده چې الله عزوجل مهاجرینو ته د پناه ورکولو امر کړی او فرمایلي یې دي چې:

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوا وَّنَصَرُوا أُولَٰئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يُهَاجِرُوا مَا لَكُم مِّن وَلَايَتِهِم مِّن شَيْءٍ حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا وَإِنِ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلَّا عَلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ (الأنفال: ٧٢)

ژباړه: بېشکه هغه کسان چې ایمان ئې راوړی او هجرت ئې کړی او د الله سبحانه وتعالی په لاره کې یې په خپلو ځانونو سره جهاد کړی ده او هغه کسان چې (مهاجرینو) ته یې ځای ورکړی ده او مرسته یې ورسره کړې دغه کسان یو تر بله دوستان دي او هغه کسان چې ایمان یې راوړی ده او هجرت یې نه ده کړی ستاسو لپاره د هغوی له دوستۍ نه هیڅ شی نشته تر هغه پورې چې دوی هجرت وکړي او که چیرې دوی له تاسو په دین کې مرسته وغواړي نو په تاسو باندې مدد کول لازم دي مګر د هغه قوم په خلاف نه چې ستاسو او د هغوی په منځ کې معاهده وي او الله عزوجل هغو کارونو لره چې تاسو یې کوئ ښه لیدونکی ده.

همدارنګه الله سبحانه وتعالی فرمائي چې: وَالَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوا وَّنَصَرُوا أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَّهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ (الأنفال: ٧٤)

ژباړه: او هغه کسان چې ایمان یې راوړی ده او هجرت یې کړی ده او د الله په لاره کې یې جهاد کړی ده او هغه کسان چې) (مهاجرینو ته یې) ځای ورکړی ده همدغه کسان په حقه مؤمنان دي، ددوی لپاره بخښنه او ډېر د عزت رزق ده.

همدارنګه الله عزوجل د هجرت د همدې سیکولر تارکینو په اړه فرمایلي چې:

إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنفُسِهِمْ قَالُوا فِيمَ كُنتُمْ قَالُوا كُنَّا

مُسْتَضْعَفِينَ فِي الْأَرْضِ قَالُوا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا فَأُولَئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءَتْ مَصِيرًا [سُورَةُ النِّسَاء : 97] ژباړه: کومو خلکو چې پر خپلو نفسونو (دهجرت په نه کولو) ظلم کاوه ملائکې به له هغو څخه د ساه اخيستلو په وخت کښې پوښتنه کوي چې: تاسي په څه حال کښې اخته وئ؟ هغوی به وايي چې: موږ په ځمکه کښې کمزوري او مجبور وو، ملائکې به ووايي: ايا د الله ځمکه پراخه نه وه چې تاسو په هغې کې هجرت کړی وای؟ - دا هغه خلك دي چې استوګنځی يې دوزخ ده او هغه ډېر بد استوګنځی دی.

او مونږ له الله سبحانه وتعالی څخه د هغه قانون او شريعت له منلو پناه غواړو چې اساسات يې د هجرت په ترک بناء وي.

وطنيت او قوميت عقيدی سره د کافر او مسلمان ترمنځ توپير ختميږي او دا کفر دی.

دا هم تاسي عملاًپه سترګو وينئ چې طالب ته هر افغان که هغه رافضي وي که يهودي وي ، که هندو وي که اسماعيلي وي او که بل هر مرتد او مشرک وي ورور دي دا فرق يې نه کوي چې دوی مشرکين او مرتدين دي ځکه چې افغانان دي ځکه نو د افغانيت له کبله د کافر او مسلمان فرق دوئ ته مهم نه دی

وطنيت او قوميت عقيده کې جهاد الطلب او اقدامي جهاد معطل کيږي، بلکې ختم اعلانيږي

په دې اړه خو دادی هره ورځ د دوی له مشره نيولې تر کشره ټول همدا يو ګردان کوي، چې نور نو جنګ ختم شو، امريکا ورته اوس خپله دښمنه نه ښکاري ، په ډيره سپين سترګی يې ځينې جهاد ترهګري هم بولي ، او په کفري خاوره کې د جهاد په نيت پرمختګ او پرې بريد کول خو څه ، چې د محکومې اسلامي خاورې دا ازادی فرضي جهاد يې هم ختم اعلان کړ .

سيکولر وطنيت په اسلامي امت کې د اقدامي جهاد د ترک لوی سبب ده، هغه جهاد چې الله سبحانه وتعالی يې په اړه فرمايلي چې:

وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ فَإِنِ انتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ [انفال : ٣٩]

ژباړه: او له هغوی سره تر هغو جنګ وکړئ چې هيڅ فتنه پاتې نشي او ټول دين (قانون او شريعت) يوازې او يوازې الله لره شي، نو که دوی (د وضعي قوانينو له پيروي) څخه منع شول نو الله د هغو اعمالو ښه ليدونکی ده چې دوی يې کوي.

او دا ځکه چې د وطني اصولو په اساس هيڅ وطني سيکولر په بل کې د مداخلې حق نلري سره لدې که په بل ځای کې مؤمنان د کفارو د تيري لاندې وي خو هيڅوک حق نلري چې دفاع ته يې ورشي بلکې د هغوی په نسبت يوازې د لفظي اعتراضونو، ژړاګانو او مظاهرو حق مسلمانانو ته ورکول شوی چې دا ډېر ټيټ او ذليل حالت ده، الله عزوجل دې د وطنيت پليته عقيده د اسلامي امت له منځه ورکه کړي.

خو طالب مليشو د خپل رعيت څخه دا د مظاهرو حق هم اخستې او که څوک وغواړي چې د ايغور د محکومو مسلمانانو په ملاتړ غږ پورته کړي نو دوی يې غږونه ورخپ کوي ځکه بيا يې چينايي باداران خفه کيږي کمونستو چينايانو د شرقي ترکستان نوم په سينګيانګ بدل کړ، د ميلونونو مسلمانانو ټاټوبي ترکستان هويت يې له منځه يوړ ، د هغوی د تاريخي مدارسو او مساجدو يې د اسونو طبيلې جوړې کړې ، په عفيفو تور سرو يې ډله ايز جنسي تيري کوي ، په پراخه کچه يې نسل وژنه روانه ده ، خو طالب چارواکي وايي دا د چين داخلي مسله ده ، ځکه هغه مسلمانان د دوی وروڼه او خويندې نه دي چې په وطن کې ورسره شريک نه دي بلکې د قاتلينو او ناموس لوټونکو چينايانو سره يې ګرمه دوستي روانه ده او لګيا دي ډالۍ ورته ليږي ، ترونونه دي ، مجلسونه دي او د کانونو چور او تالان دی چې روان دی .

. دغه عقيدې له وجې مسلمانانو ترمنځ اتفاق، اتحاد، د يو بل نصرت کول ختميږي، ځکه خبره صرف خپل قوم او وطن پورې محدوده شي.

په اسلامي امت کې د افتراق معاصره فتنه همدا د وطنيت فتنه ده، چې امت يې په ډلو او حصو تقسيم کړی، په اسلامي امت کې د فرقو ډول د پخوا په شان د مذهبونو او مسلکونو په اساس نه بلکې اوس د وطن په محدوده کې د مختلفو اديانو پيروان هم ځانونه د يو او بل وروڼه بولي او هغه اسلامي معيارونه هير شوي چې الله سبحانه وتعالی مؤمنانو ته پخپل کلام کې بيان کړي، او په اسلامي امت کې د وطني افتراق معاصره فتنه هغه څه دي چې ټول امت يې د يو او بل په مقابل کې ودرولی او په منځ کې د کفارو اطاعت ته خلک لاس

په سینه ولاړ دي، دا پداسې حال کې ده چې الله سبحانه وتعالی فرمایلي چې:

وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ (آل‌عمران: ۱۰۳)

ژباړه: او تاسو (ټول اسلامي امت) د الله عزوجل په رسۍ (قرآن او سنت) منګولې خښې کړئ او (په وطنونو) سره مه بیلیږئ او د الله سبحانه وتعالی (هغه) نعمتونه دریاد کړئ چې په تاسو باندې شوي دي، کله چې تاسو دښمنان وئ بیا الله عزوجل ستاسو د زړونو تر منځ جوړښت راوست نو د هغه په (دې) نعمت تاسو سره ورونه شوئ او تاسو د اور نه ډکې کندې (د وطنپرستي، ډلبازی او تفرق) په غاړه وئ نو تاسو یې له هغه نه وژغورلی، همدارنګه الله عزوجل تاسو ته آیتونه بیانوي، ددې لپاره چې تاسو نېغه لار وموموئ.

او په ډېرو نورو آیتونو کې الله سبحانه وتعالی له فرقه کېدو منع کړې او دا کار یې د پخوانیو اهل کتابو او مشرکانو کار بللی ده، الله عزوجل پدې اړه فرمایلي:

مُنِيبِينَ إِلَيْهِ وَاتَّقُوهُ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ [۳۱] مِنَ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ [سُورَةُالرُّوم : ۳۲]

ژباړه: (ټینګ اوسئ پدې خبره باندې) د الله لوري ته رجوع کوونکي، او له هغه څخه ووېرېږئ، او لمونځ قائم کړئ، او د مشرکانو په څېر مه کېږئ! هغه مشرکان چې هغوی خپل دین (قانون او شریعت) حصه حصه کړی او په ډلو (وطنونو او فرقو) وېشل شویدي، له هري یوې ډلي (وطن) سره چې څه دي همغه ته خوشحال وي.

او د سیکولر وطنیت ګڼ شمیر نور مفسدات چې اسلامي امت یې له پراخې ګډوډی، ګمراهی او زوال سره مخ کړی، د سیکولر وطنیت عقیده لرل د سیکولر کفري دین رکن منل دي، معاصر

کفار له مونږه نن د همدې جهل د منلو تمه لري نو په اساس یې ویلی شو چې هر چا د غربي پروژې (سیکولریزم) اړوند وطني فکر درلود او هغه یې قبول کړی ؤ هغه د امریکې د پروژې یو بې ایمانه جاسوس ده.

وطنیت د اسلام نه مخکې د جاهلیت خلکو نعره او شعار وه.

شیخ الاسلام وایي: "وكل ما خرج عن دعوة الإسلام والقرآن: من نسب أو بلد أو جنس أو مذهب أو طريقة: فهو من عزاء الجاهلية." [مجموع الفتاوی ج 28/ ص 328]

او هر څوک چې د اسلام او قرآن د نعرې نه بهر د نسب، وطن، ملت، مذهب یا طریقې ته ولاړ نو ده د جاهلیت نعره اووهله.

او دغه " حب الوطن من الإيمان " دا نه حدیث دی او نه د کوم صحابي قول، بلکې متن او سند دواړه یې باطل دي. او نه دا حدیث دی " من قتل دون وطنه فهو شهيد " څوک چې وطن دفاع کې مړ شو، دا شهید دی. د دې مطلب خو بیا دا شو چې انګریز یا بل کافر چې وطن دفاع کې مړ شي، نو بیا هغه هم شهید شو ځکه دغه علت خو هغه کې هم موجود شو؟ او اسلام په دواړو کې نفي دی !!

یادونه: وطن او قوم سره د انسان فطري محبت وي خو دې لپاره حد معلوم دی کچیرته دغه مذکوره نواقضو په صورت کې وو، یعني د هغه په سر دوستي او دښمني کیده نو بیا کفر دی. مونږ دا څرګندونې تکرارا کړې چې یو خپل وطن سره فطري مینه ده، معنا دا چې خپل وطن کې انسان وړکوالی تېر کړی وي، دلته یې لوبې کړي وي، د ژوند خوږې خاطرې او یادګارونه یې دغه سیمې پورې تړلي وي، دا قسم محبت کفر ندی، بلکې هغه محبت کفر دی چې سبب د دوستۍ او دښمنۍ ګرځي مثال: د پاکستان مسلمانان د افغانستان مسلمانانو سره خپله دوستي پرې کړي، د دوی په غم نه خفه کیږي، د دوی په خوشحالۍ نه خوشحالیږي، د دوی په سیمه چې کافر راځي هغه یې ملاتړ نه

کوي، او دا د هغه ملاتړ نه کوي او همداسې برعکس ، معیار د ټولو اړیکو وطن او قوم وګرځي نو دې وخت کې ددغه عقیدې له امله وطن طاغوت ګرځي.

سیکولر وطنیت د جهاد د بې فایدې کیدو لامل کیږي .

سیکولر وطنیت د کفري سیکولر دین له ارکانو څخه یو رکن ده چې پدې لاره کې د الله لپاره هر ډول عمل الله عزوجل ته د منلو نده ځکه الله عزوجل فرمایلي چې:

وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ (آل عمران:۸۵)

ژباړه: او څوک چې غیر له اسلامه بل دین (قانون او شریعت) ولټوي هېڅکله به ځنې قبول نشي او هغه به په آخرت کې (د هغه د اعمالو د نه قبلېدو له وجې) له تاوانیانو څخه وي.

نو د همدې آیت په اساس هر څوک چې د وطنیت په چوکاټ کې جګړې کوي هغه د الله عزوجل په نزد د قبلېدو ندي سره لدې که پکې ووژل شي، که پکې زخمي شي او که لوږه پکې تیره کړي خو د قیامت په ورځ به د یادو اعمالو د نه قبلېدو له وجې به هغه له تاوانیانو څخه وي.

د وطني عقیدې تر څنګ که کوم څوک د اسلام په نوم جګړې کوي هغه بې معنی او د جهاد په ځای به یې په جاهلي جګړو کې برخه اخیستې وي ځکه د وطنیت لپاره جنګېدل قتال في سبيل الطاغوت ده او په اړه یې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي چې:

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "مَنْ خَرَجَ مِن الطَّاعَةِ وَفَارَقَ الجماعةَ فماتَ ماتَ مِيتةً جَاهلية، وَمَنْ قَاتَلَ تَحْتَ رَايَةٍ عِمِّيَّةٍ، يَغْضَبُ لِعَصَبَةٍ، أو يَدْعُو إِلَى عَصَبَةٍ، أو يَنْصُرُ عَصَبَةً، فَقُتِلَ فَقِتْلَةٌ جَاهِلِيَّةٌ..[مسلم]

ژباړه: له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې د امیر د طاعت څخه ووته او یا د مسلمانانو له جماعت (خلافت) څخه جدا شو مرګ یې د

جاهلیت ده او چا چې د ړانده (وطني) بیرغ لاندې جګړه وکړه، د عصبیت (قوم پرستي او وطنپرستي) لپاره په غصه کیده، هغه ته یې خلک دعوت کړل او یا یې د تعصب (وطن) په جګړو کې د بل مرسته وکړه او ووژلی شو نو مرګ یې د جاهلیت (هلاکت) مرګ ده.

کله چې د یو مبارز مرګ د جاهلیت شي نو د هغه په مبارزې کې به الله عزوجل څه برکت راولي او فایده به یې اسلام ته څه شي؟ معلومه خبره ده چې د اسلام په ځای به یې فایده د تعصباتو جهل (سیکولر وطنیت) ته رسیدلي وي بلکې د اسلام لپاره جهاد باید یوازې او یوازې د الله عزوجل د دین د کلمې د لوړوالي لپاره وي نه د وطنیت د بیرغونو د لوړاوي لپاره، لکه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په یوه روایت کې چې راغلي:

عَنْ أَبِي مُوسَى عَبْدِاللهِ بْنِ قَيْسٍ الْأَشْعَرِيِّ رضي الله عنه قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَنِ الرَّجُلِ يُقَاتِلُ شَجَاعَةً، وَيُقَاتِلُ حَمِيَّةً، وَيُقَاتِلُ رِيَاءً؛ أَيُّ ذَلِكَ فِي سَبِيلِ اللهِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: «مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللهِ هِيَ الْعُلْيَا فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللهِ»؛ متفق عليه.

ژباړه: له ابي موسی عبد الله بن قیس الاشعري رضي الله عنه څخه روایت ده چې هغه وفرمایل چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د هغه سړي په باره کې پوښتنه وشوه چې د شجاعت (ښودلو) لپاره جنګ کوي، بل د قومي تعصب لپاره جنګ کوي او بل د ځان ښودني (ریاء) لپاره جنګ کوي (نو په دوی کې) کوم یو د الله عزوجل په لاره کې ده؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې: هر چا چې د الله سبحانه وتعالی د کلمې د لوړاوي لپاره جګړه وکړه د هغه جګړه د الله په لاره کې جګړه ده.

1. په همدې اساس د هغو خلکو جګړې د جهل جګړې دي چې د وطنیت لپاره یې کوي، هیڅکله یې ګټه اسلام ته نه رسیږي بلکې که توبه ونه باسي نو د مرګ په صورت کې د تعصباتو

په لاره کې هلاک او جهنمي ده او د همدوی په اړه دا فتوا د رسول الله صلی الله علیه وسلم فتوا ده چې فقتل فقتلة جاهلية(نو که ووژلی شو نو مرګ یې د جاهلیت (هلاکت) مرګ ده).

او همدا راز تاسې ګورئ چې امارت سلامي ته تیرو جګړو کومه فایده ونه رسوله ، نه چرته کافر ذلیله شول او نه یې شریعت حاکم کړ ، مطلب که چا د کفارو په مقابل کې د الهي نظام په هدف جګړه کړې وه ، د هغوی قرباني او وینې یې هم خرڅې کړې .

. د وطنیت عقیده اسلامي امت د واحد امیر له قیادت څخه محرومه وي:

سیکولر وطنیت سبب ګرځېدلی چې اسلامي امت د واحد امیر له شتون څخه محروم شي او د کفارو په نورمونو برابر غله او ډاکوان د مسلمانانو د چارو په تنظیم لاس پورې کړي، دا پدې معنی چې اسلامي امت د سیکولر وطنیت له امله له هغه نعمت څخه محروم ده چې په اړه یې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي چې:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: و انما الأمام جنة يقاتل من ورائه ويتقى به (متفق علیه) ژباړه: له أبي هریرة رضي الله څخه روایت ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: او د مسلمانانو امام(خلیفة المسلمین) (د اسلامي امت لپاره) یو ډال ده چې له څټه یې جګړه کیدی شي او شا ته یې (د کفارو له اضرارو او حملو) څخه ځان بچ کېدی شي.

خو د اسلامي امت دا ډال او دفاعي برج د سیکولر وطنیت له امله له منځه تللی او د واحد امیر په ځای د امت قیادت د مرتدینو او شهوت پرستو ځناورو لاسونو ته لویدلی. لکه څنګه چې تاسې ګورئ امارت سلامي تر ډیره وخته د وفات شوي ملا عمر په نوم د آی ایس آی په فرمانونو چلیده او اوس یې هم سمبولیک مشران ټول اوامر د آی ایس آی څخه اخلي .

دادی للہ الحمد د کفارو دا ارمانونه خاورې شول ، د ټول اسلامي امت د را یوځای کولو او اسلامي خاورې د ازادۍ او په ټوله نړۍ د الهي نظام د قیام په هدف ټول مسلمانان اوس د یو خلیفه ابي الحسن الهاشمي تر قیادت لاندې راټولیږي چې دا حالات کفارو ته د هیڅ زغم او برداشت وړ نه دي .

سیکولر وطنیت د منلو له امله د اسلامي امت مشترک مصالح له منځه ځي:

د سیکولر وطنیت له امله د اسلامي امت نظامي، اقتصادي او سیاسي مشترک مصالح هم په حصو ،حصو تقسیم شوي او بالمقابل کفارو د خپل ځان د حمایت لپاره پخپل صف کې ودرولي، مسلمانان له نظامي، اقتصادي او واحد سیاسي ځواک څخه محروم او پدې ډګر کې د نورو اطاعت ته مجبور شوي او دا ټولې بدبختیانې اسلامي امت ته د همدې وطني عقیدې له امله راواردې شوي چې متأسفانه نن یې خلک د اسلام په نوم مني او لدې جهل څخه د دفاع لپاره داسې وینې بهوي لکه مؤمنان ئې چې د اسلام لپاره بهوي، نن سبا وطنپرست ته خلک ښه انسان وائي او دا د ښو خلکو له صفت څخه بلل کیږي پداسې حال کې چې منل یې د یوه پردي او کفري دین رکن منل دي او پرته له اسلامه بل دین الله عزوجل ته د منلو نده ځکه پرته له اسلامه نور ټول اصول په کفري او جاهلي شریعت ولاړ اصول دي، د غیر اسلامي تګلارو په لاره کې هر عمل الله سبحانه وتعالی ته د قبلولو نده سره لدې که د همدې وطنیت لپاره جهاد کول او ځان قربانول هم وي خو په آخرت کې به د نه قبلېدو له امله دا کس له تاوانیانو څخه وي.

نو لنډه دا چې د وطنیت په کفري عقیده ایمان لرونکي طالب مرتدین شپه او ورځ په دې اعتراف کوي چې دوی د بین الملل د اصولو په منلو سره د وطنیت ټولې غوښتنې او شرایط منلي بلکې عملي کړي دي ، چې تاسې یې پدې کفري عقیدې موارد ولوستل او دا بیلګې هم درته واضح شوې چې طالب ملیشو په څومره ویاړ دا کفري عقیده منلې او عملي کړې ده .

په بین الملل کې د غړیتوب لپاره د پاتې هغه شرایطو وضاحت به په راروانه برخه کې وکړو چې عملي کونکې یې د اسلام له دایرې وځي په داسې حال کې چې طالب مشرکین یې په ډیره سپین سترګی عملي کوي او شپه او ورځ یې چارواکي لګیا دي بین الملل ته ددغه شرایطو د عملي کیدو اعترافات هم کوي .



د وزیرستان د القاعدې د منهج او فعالیتونو په اړه

یوه کورنۍ ګواهي

د اسلامي دولت د میاشتینۍ مجلّه "دابق" د یوه مضمون پښتو ژباړه

لیکوال: ورور أبوجریر الشمالي (أبوثائر)

دوهمه برخه

تر ټولو لومړۍ او لویه دردوونکې حادثه چې ما ته ورسېده هغه دا وه چې ما فکر کاوه چې د وزیرستان سیمه په مکمل توګه یوه خپلواکه سیمه ده او هر یو تن کولی شي چې د پاکستاني مرتد پوځ سره د مخامخ کېدو پرته د دې په هر کنج او کنار کې په آسانۍ سره تګ راتګ کولی شي او همدا راز زما دا فکر وو چې هلته همدا مجاهدین واکمنان دي او همدوی پرېکړې کوي، او هغوی به هلته شرعي قوانین نافذ کړي وي مګر متأسفانه چې هلته لا تر اوسه قبائلي قوانین غالب وو، پدې سیمه کې د شرعي قوانینو د برکت پر ځای همدغه قبائلي قوانین پر خلکو مسلط وو او پاکستاني مرتد پوځ په هر غره او غونډیو ولکه لرله نو د هر کلي او سیمې خلک یې د ښار لاندې وو دغه پاکستاني پوځ په هره اونۍ کې یوه ورځ خلک قرنطینول دې لپاره چې دوی د خپلو بیلا بیلو پوستو ترمنځ تګ راتګ په آسانۍ سره وکړی شي او د خوراکي او نظامي موادو انتقال هم په اسانۍ سره وکړي او که کله کومه ناځاپي حادثه مخ ته راشي نو دوی د قاعدې مطابق کولی شي چې قرنطین کې زیادت راولي او که مجاهدینو به سفر کاوه نو ډېر احتیاط به یې کولو چې له امله به یې د عامه لارو څخه ډډه کوله دې لپاره چې ناځاپي د هغوی په پوستو ورنه شي او هغوی پرې برلاسي نه شي د دې مرتدینو پوستې ځای پر ځای خورې وې نو ځکه خو به مجاهدینو ته سفر کول اوګد، سخت، او د کړاوونو ډک تمامېده.

تر کومه حده چې د مجاهدینو د ځمکنیو حقیقتونو حالات وو نو ډېر عجیب او غریب وو، تر ټولو غټ جماعت قاعدة الجهاد کوم چې بې له شکه د مسلمانانو د اکثریت د سترګو یخوالی او د زړونو د یوې برخې حیثیت لاره او هغوی پدې کې په سختۍ سره د ګډون هیله لرله او د دې امید یې لاره چې دا جماعت به د دوی د خپلواکۍ په هڅو، د طاغوتي نظامونو پر خلاف د بغاوت بیرغ پورته کولو، پر ځمکه د الله د نظام د نافذولو، او د هغوی د حقوقو ساتنه، او د مظلومانو سره په مرسته کولو کې لارښوونه وکړي لیکن پدې سیمو کې موږ د دې کارونو نه یو هم ونه موند، بلکې د دې پر ځای د القاعده تنظیم د دې سیمې مجاهدین د سخت دریزو، تکفیریانو، خوارجو، او جزئي تکفیریانو په خانو باندې په وېشلو بوخت ول، او هر هغه شخص به یې ځان ته نیږدې کاوه چې ارجاء کې به ډوب وو، او دا هر څه د دې لپاره چې تنظیم کې خارجي فکر والا وزپل شي (د هغوی د باطلې رأیې پر أساس: ژباړن) او بیرون ترې وویستل شي، همدغه وجه وه چې د القاعدې هغه تنظیمي هیکل چې د مشرانو سره په رابطه کې ول خلک د خپل ناوړه منهج پر اساس وزن کول، نو نتیجه یې دا شوه چې هغه ورور چې هغه به په ریښتیا سره په صحیح او برابر منهج روان وو او دوی به په هغه د خپل مخالف ګمان کاوه، نو هغه د دې قابل نه وو چې د تنظیم په شرعي یا عسکري خطاء باندې نیوکه وکړي یا یې د اصلاح هڅه وکړي او د دې پر ځای به د داسې ورونو د تنظیم نه د ویستلو، یواځې کولو، او دوی ته د ستونزو پیدا کولو، او د سیمې نه د شړلو او حتی د بې عزته کولو لپاره بیلا بیلې حربې کارولې

لکه څنګه چې ټول پدې خبر دي چې د روافضو (شیعه ګانو) شیطانتونه د ورځې په څېر ښکاره شوي دي په ځانګړې توګه د هغوی دسیسې، چلونه، او د اسلام او مسلمانانو پر خلاف او بیا په

ځانګړې توګه د صحابه کرامو رضي الله عنهم او تابعینو، نیکانو، او علماوو لپاره د دوی د زړونو بغض او کینه څرګنده شوې الله تعالی دوی او د دوی مکرونه را ښکاره کړي دي او د دوی سټیلائټ تلویزیوني رسنۍ د روافضو ناوړه کړنې او د اسلام او محمدﷺ پر خلاف د هغوی تهمتونه ښکاره او څرګند ثبوتونه دي او د دوی رسنۍ هم په دنیا کې او هم د قیامت په ورځ زموږ پر خلاف یو ثبوت دی چې موږ د دې ملحدینو خلاف هیڅ ونکړل -

میرانشاه ته له رسېدو څو ورځې وروسته د القاعده تنظیم د شرعي لجنې امیر ماته پدې خبره أخطار راکړ او ردې بدې یې راته ووئېلې چې ما ولې د ایران په هکله د روافضو کلمه وکاروله، په داسې حال کې چې هلته ما اته کاله بندیتوب تېر کړی وو، او دا کلمه په هغه وخت ما وکاروله چې هلته له رسېدو سره سم ملګري را ټول شول او ما نه یې د حالاتو، او زما د آزادۍ په هکله پوښتنه وکړه، نو پر ما د تکفیري او خارجي مهر چسپان شو، د شرعي لجنې د هغه وخت امیر سلیم الطرابلیسي اللیبي - رحمه الله - ما ته وویل: چې ”اردن ته بېرته ستون شه او په هغه ځای کې چې د هر چا تکفیر کوې نو کوه یې موږ به هم ستا حمایت کوو“، دا دوېم ټکان وو چې ماته را ورسېد.

مګر ما هملته د پاتې کېدو او تر کومه چې ممکنه وي د اصلاح کولو هڅه پیل کړه، په دغه سیمه کې چې ما ته کومې نیمګړتیاوې ښکارېدې نو د تنظیم د هرې رتبې والا خلکو ته مې د هغې په هکله وینا وکړه او هغه په لاندې ډول دي:

⊠ دا سیمه له وسلوالو مجاهدینو ډکه وه او دوی کولای شول چې یاده سیمه په خپل واک کې واخلي، نو بیا ولې په دغه سیمه د الله قانون نه نافذوي؟

⊠ په سیمه کې ولې د الله د قانون پر ځای په طاغوتي قومي ملکانو (جرګه) باندې پرته له کوم دلیل او حیلې پرېکړې کېږي او دوی حتی په دې هکله خلکو ته د نصیحت کولو هڅه هم نه کوي؟

⊠ مجاهدین چې کله افغانستان ته د جهاد لپاره ځي او بیا بېرته راستنېږي نو ولې له پاکستاني پوځیانو مرسته غواړي؟

⊠ د وزیرستان په سیمو کې د پاکستاني پوځ له خوا تعمیراتي او د پرمختګ کارونه ایا د دې خبرې ثبوت نه دی چې نوموړی پوځ په دغه سیمه کې کوم ځانګړی پلان لري؟

⊠ د سیمې ماشومان ولې په سیکولر او لادینه مکتبونو کې داخلې اخلي او مجاهدین په دې هکله د سیمې مشرانو ته نه نصیحت کوي او نه د هغوی د پوهاوي لپاره کومه برنامه له ځانه سره لري، او د مجاهدینو لپاره ځانګړي مکتبونه ولې نه تاسیس کېږي؟ په ځانګړې ډول د القاعده تنظیم مرکزي مشرانو د مهاجرینو او انصارو د بچو د تربیت لپاره خورا ډېره سستي ښودلې ده، پرته له دې چې په اوسني وخت کې د ځینو ماشومانو لپاره د تربیت انتظام شوی دی.

⊠ د وزیرستان وګړو ته یې په شرعي او اخلاقي نیمګړتیاوو هیڅ کوم نصیحت نه کاوه او دا دعوی یې لرله چې په دې کې هم شرعي مصلحت شتون لري، دوی له خپل ځانه متنفر کول نه دي پکار چې هغوی سره د جګړې محاذ ته پورته شو.

⊠ ما د تنظیم له مشرانو د هغوی د پوځي قمندان او پلان جوړونکي ابو عبیده المقدسي [عبدالله العدم رحمه الله] په واسطه غوښتنه وکړه چې دوی د عربي خوزښت د ګوندونو ډېرې ستاینې ونکړي.

⊠ موږ لپاره اړینه ده چې دا بېلا بېل ګوندونه سره یو ځای کړو او د تنظیمونو ترمنځ چې کومې خبرې سبب د شخړې دي هغه سره حل کړو.

⊠ همدا راز زموږ لپاره اړینه ده چې موږ له دې سیمې خوځنده او ماشومان وباسو ترڅو د پوځ د ناڅاپي حملې پر مهال لکه چې همداسې امید کیدی شي؛ د دوی شتون د وروڼو د نقل او خوزښت لپاره مانع جوړ نشي او له ستونزو سره مخ نشو، په سیمه کې د سترو غرونو له کبله د ښځینوو لپاره نقل او خوزښت خورا ستونزمن دی او بیا هسې هم په سیمه کې د ښځینوو د پاتې کېدو کوم قوي دلیل موجود نه وو.

دغه غوښتنې په لیکلي بڼه یا خو ابو صالح المصري - رحمه الله - ته ورکول ممکن وو یا بیا ابو عبیده المقدسي - رحمه الله - ته، چې دا دواړه په سیمه کې د خلکو او د تنظیم د مشرانو ترمنځ رابطه جوړونکي وو، ابو صالح المصري زما له هغه وخت ډېر نیږدې ملګری وو په کوم وخت کې چې موږ دواړه په ایران کې په بند محکوم وو، وزیرستان کې هم زموږ دغه اړیکې موجودې وې، د تنظیم د مشرانو سره د نیږدې اړیکو له کبله دغه ورور الله سبحانه وتعالی زما لپاره یو مرستندوی او مانع ګرځولی وو، نوموړی په ځینې ځانګړو عملیاتو کې چې موږ دواړو په ګډه تر سره کړي وو؛ زما امیر هم پاتې شوی وو.

ادامه لري .....

د دیموکراسۍ دلالان

له کله راهیسې چې د دوحې د العدید امریکایي پوځي هډې، د ترکیې په استنبول، د روسیې د کریملین او د چین د پیکینګ په شمول د نورو ګڼو کفري او طاغوتي هیوادونو په استخباراتي هډو او فحاشو هوټلونو کې طالب مرتدو چارواکو د خپل ایمان ، حیا او غیرت جنازې وویستې او ټولو کفارو سره د سولې په نوم د تسلیمۍ په لړ کې اسلامي دولت سره د مقابلې لپاره طالب ملیشو سره پټ او ښکاره تړونونه وشول ، نو وخت په وخت ددغه تړونونو ځینې برخې چې دوی ورته اړتیا وه رسنیزې کیدلې او ځینې یې اوس هم پټې پاتې دي ، ددغه تړونونو په یوه برخه کې دا طالب کشرخیلو د ذهنیت سازۍ لپاره دا خبره هم وه چې: د ناټو پوځیان به په افغانستان کې نه وي، د ناټو پوځیان به له افغانستانه وځي د هغوی قراردادیان به وځي او نورې هغه خبرې به یې کولې چې تا به فکر کاوه آسمان په کانړو ولي، دا سمبولیک شرط چې لا تر اوسه یې د عمل څرک نه لیدل کیږي، ددې لپاره و ، چې یوه لوري خپلو کشرخیلو ته کاذب غرور ورکړي او بل لور ته ددې شرط په مقابل کې یې چې کوم کفري شرایط منلي هغه پرې په پټو سترګو ومني .

هو! دا ډول په رسنیو کې د ناټو نوم مخته را وړاندې کول او تر شاه یې د دین په سر معامله کول، طالب ملېشو ته ورکول شوی پلان و او دوی هم کټ مټ په هغه څه عمل کاوه چې بادار به ورته وویل.

دادی د دوحې دا قرارداد چې په کې طالب ملېشو د یوه ټوټه ځمکې لپاره په ارزښتونو معامله وکړه، د چوکۍ د لاسته راوړلو لپاره یې د ملګرو ملتونو)ملل ملحده(طاغوت ته سر ټیټ کړ او دا یې د الله په مقابل کې د خپل اله په توګه ومانه، طالب ملېشو خو ډیرې باټې وهلې چې د ناټو هیڅ عسکر په هیواد کې نشته، خو دا چې الله عزوجل څوک وشرموي، هغه بیا هیڅ حیاء نلري.

دوی د امریکا استازی د مسلمانانو په خلاف د صلیبي ایتلاف غړی او یرغمل شوی دیموکراتیک قطر ، هم اسلامي هیواد ګڼي ، هغه قطر چې لا اوس یې هم په العدید هډه کې په زرګونو امریکایان پراته دي ، هغه قطر چې چارواکي یې د امریکا له اجازې پرته ټوخی هم نه کوي ، همدا قطر چې د امریکا په ډالرو د مرتدو طالبانو کوربه و ، او د دغه طالب د اخستو د پروژې یو ښه فعال او دلال و ، اوس نو طالب مرتد چارواکي همغې قطر سره امنیتي او دفاعي تړونونه هم لاسلیکوي ، او دوی فکر کوي چې د قطر په وساطت به امریکا سره د امنیتي او دفاعي تړون راز له خلکو پټ وساتي او خلکو ته به په سترګو کې د خاورو اچولو په پایله کې په دې وتوانیږي چې ګوندې دوی خو له دې وروسته که د دوی چرسي ملیشې له قطر څخه اکمالیږي ،تجهیزي ، روزل کیږي او ساتل کیږي خلک به هم همدا فکر وکړي چې ګنې قطر یو ازاد هیواد دی او دوی ورسره دغه راز تعامل لري ، خو داسې نه ده .

طالب احمقان په نورو هم د ځان ګمان کوي ، مسلمانان پوهیږي چې قطر څه رول لري ، قطر ته د امریکا له اړخه کوم ماموریت سپارل شوی.

او لکه څنګه چې د اشرف غربي تیر مرتد نظام مستقیم د امریکا له خوا په نظامي او ملکي برخه کې تمولیده او ورسره یې امنیتي تړونونه درلودل ، تاسې همغسې د امریکا له لوري په یادو برخو کې تمولیږئ خو ځینې وخت په مستقیم شکل او ځینې وخت د ځینو ملحوظاتو په بنا او د خلکو په سترګو کې د خاورو اچولو په خاطر مو ترمنځ قطر وساطت کوي .

طالب مرتد چارواکي فکر کوي ، چې په داسې سمبولیکو کړنو او تمثیل به ګنې په افغانستان د امریکا روان اشغال له خلکو پټ وساتي او دوی به ګوندې خلک په دې قانع کړي چې دوی ته د تطبیق لپاره ورسپارل شوې ، دیموکراسي ، دیموکراسي نه ، بلکې شرعي نظام دی ، او دوی د امریکا مامورین نه، بلکې فاتحین دي (!)

کلا وحاشا.

طالب مرتدین ډیره هڅه کوي چې هم ځان او هم افغانستان ازاد وښايي ، خو سره له ډیرې هڅې چې دا غږ خپ وساتي

خو بیا هم د امریکا له لوري په غاړه کې وراچول شوی ګینګړی (غلامۍ زنګ) ترې کله، کله په غیرې اختیاري شکل کړنګ وهي، او ددې زنګ، کړنګ ټول خلک واوري، چې بیا وروسته نو د طالب مرتدینو خیاطان ډیره خواري کوي، چې د طالب دې شلیدلي پرتوګ ته پیوندونه ورواچوي خو نه توانیږي، بخې ترې کږې وږې شي .

تر پرونه مرتد اشرف غني ویل چې د واشنګټن او مسکاو په شمول د ټولې نړۍ امنیت موږ ساتو، نن بیا ستانکزی او متکي دا باټې وهي چې د کفري نړۍ امن خرابونکي د اسلامي دولت عسکر دوی ځپلي او دوی د ټولو کفارو د امنیت ساتني کم کرایه عسکر دي .
همغه د ناټو عسکر اوس هم په کابل کې مسلح ګرځي ، ډیره عجیبه داده چې د تیر اشغال ګوډاګیانو هم خپله دا غلامي په دې دلیل توجه کوله چې دا د یو تړون په اساس دلته دي او دادی د همغه زوږ اشغال نوي مامورین هم همدا دلیل وایي چې دا د یو ځانګړي تړون په اساس دلته دي ، د لوی اختر په ورځ د ترکیې سفارت لوی اختر ولمانځه، چې د عباس ستانکزي په ګډون ګڼ طالب چارواکي ورغلي وو، د یادو طالب چارواکو ساتنه د ترکیې ښځینه او نارینه عسکرو کوله چې د ناټو عسکر دي او ترکیه د ناټو فعال غړی هیواد دی، چې په هیواد کې یې د امریکایي وحشي پوځیانو لویه پوځي هډه "انجرلیک" هم شتون لري.
له مراسمو وروسته په کابل کې د ترکیې سفارت د مراسمو انځورونه خپاره کړل چې په کې د ناټو ښځینه پوځیانې په لوښ سر د طالب چارواکو لپاره

همغه د امریکا مزدور عسکر دي چې اوس هم تاویږي راتاویږي ، همغه کافر دیپلوماتان دي چې پرون یې د جمهوریت مرتدو عسکرو ساتنه کوله او دادی اوس یې د امارت مرتد عسکر ساتنه کوي .

میوه تیاروي.

حیران د طالب ویندویانو هغه باټو ته یم چې ویل به یې که د ناټو یو عسکر هم په افغانستان کې وي سوله نکوو، خو نن لسګونه د ناټو عسکر ارتې تنۍ ګرځي دوی ورسره بنډارونه کوي، حال دا چې د جمهوریت د واک پر مهال د همدغه ناټو عسکرو سره بنډار کوونکي وژل کېدل، پرې بریدونه کېدل او کافر وو، خو نن چې طالب دا کار کوي، سیاست، حکمت او مصلحت یې بولي.

خو له دې ډېره شرمونکې دا وه چې کله طالب چارواکو د ترکیې چارواکو سره یو ځای د دیموکراسۍ په دفاع کې د وژل شویو مردارانو لپاره دعاوې غوښتلې او د هغوی د یاد تازه کولو په پار یې د هغوی انځورونو ته د ګلونو ګېډۍ اېښودې.

کله چې په 2016 کې په ترکیه کې فتح الله ګولن د سیکولر اردوغان په خلاف د کودتا هڅه وکړه، کودتا ناکامه شوه، خو د سیکولر اردوغان او د دیموکراسۍ په دفاع کې ډېری کسان د فتح الله ګولن د کسانو له لوري ووژل شول، چې ترکیې بیا یادو مردارانو ته د "دیموکراسۍ شهیدان(!)" لقب ورکړ.

TurkishEmbassyKabul @turk... · 15 Jul
Replying to @turkembkabul
در مراسمی که به مناسبت ۱۵ جولای روز دموکراسی و همبستگی ملی در سفارت مان برگزار گردید، شهدای خود را با رحمت گرامی داشته و از غازی های خویش قدردانی کردیم.
پیروزی دموکراسی#
2 3 12

TurkishEmbassyKabul @turk... · 15 Jul
د جولای ۱۵مه د ډیموکراسۍ او ملي پیوستون د ورځې په مناسبت په سفارت کې ترتیب شویو مراسمو کې مو شهیدان په رحمت سره یاد کړل او غازیانو ته مو د مننې مراتب وړاندې کړل.
#VictoryofDemokrasi #TürkiyeForever
#15TemmuzDemokrasiveMilliBirlikGünü
#TürkiyeAşkına
3 16

او هر کال اوس د ترکیې حکومت دا مراسم لمانځي، چې په کې د دغې دیموکراسۍ دغو مردارانو ته دعاوې غواړي، چې دا ځل په کابل کې د ترکیې په سفارت کې او په مزار شریف کې د ترکیې په قونسلګرۍ کې هم یاد مراسم ولمانځل شول، چې دواړه ځایونو ته ګڼ شمېر طالب چوروکي ور غوښتل شوي و، هغوی هم ورسره په دغو مراسمو کې ګډون وکړ او د کفري دیموکراسۍ په دفاع کې وژل شویو مردارانو ته یې د شهادت(!) د قبلېدو دعاوې وغوښتلې.

له یوه لوري دغه د نړیوالې کفري ټولنې او ملل ملحده ملېشې د اسلامي نظام چیغې وهي، خو له بل لوري یې بیا دیموکراسۍ ته هم په یوه پښه ګډېږي، دوی له نظامه یو اچار جوړ کړی او داسې نظام دی چې په کې جمهوریت، کمونیزم، دیموکراسي او اسلام ټول ګډوله شوي دي او دوی بیا له دغه ګډولې د طالبانو اخوندي نظام جوړ کړی دی، هغه نظام چې په دوحه کې د اسلام په نوم طرحه شوی ، او دوی ته د تطبیق لپاره سپارل شوی ، خو طالب چارواکي حیران دي چې سره له ډېرو کوششونو په دې ونه توانیدل چې دا د دیموکراسۍ جس د اسلامي نظام د طلا په تول او نوم تیر کړي.، لله الحمد د اسلامي دولت اعلامي زمرو ورپسې داسې د حق محک راخستې چې ډېر خلک پرې جست او سره زر بیلولی شي .

چې څوک قرآن نه مني
دئ تور ټوپک يې علاج

چې څوک قرآن نه مني، دی تور ټوپک يې علاج
عقل يې سر ته راشي، يو ګوزار کلک يې علاج

دغه مئين په خيټه، هجړا صفته ځوانان
د دوی کړي ډډې خاربښ، مضبوط کوتک يې علاج

چې ورک کړي نوم او نښان د دې طالب ملېشو
موټر مازدا، يا ټريله له بارود ډک يې علاج

خوند کړي جاسوس لپاره چې وي چاړه يا خپکن
ددې ماغزو په څټه، خوندور ټک يې علاج

رنجر کباړ کباړ کړي، عسکر ستي په لمبو
دا خونړي ماينونه خښ په سرک يې علاج

دا چې ګرځېږي مست مست، امريکايي ګاډو کې
د ماشيندارو ضربې، بريد مبارک يې علاج

غواړي پاټک، ګزمه يې د دې مرتدو قطعو
يو څو ښاري شازلمي خرپ اچانک يې علاج

د حق لاروی

د يو مجاهد د هجرت لنډه کيسه

په پنځم ټولګي کې وم چې د جهاد سره مې په زړه کې مينه په غورځنګونو وه ، زموږ له کلي ، پنځه کيلو ميتره لرې يو بل کلي ته به هر سحار ښونځي ته تللم او ماسپخين به راتلم .

۲۰۰۱ کال و ، ښونځي ته په لاره خبر شوم چې امريکا په افغانستان يرغل وکړ، دې سره مې نور هم په زړه کې کفارو سره نفرت او د جهاد محبت زيات شو، لا مو تنکی ځواني وه ، او ډير مې زړه کيده چې په څه طريقه د مجاهدينو سره يو ځای شم ، ۲۰۰۳ کال به و، چې د لاهور مردکي ته مې د لشکر خبيثې يو تربيت سنټر ته لار پيدا کړه ، هغه وخت راته دا پاک مجاهدين ښکاريدل خو خبر نه وم چې دا د لارډ ميکالي د کفري قانون ساتونکې ډيرور فوځ دی ، فقط د مجاهدينو تمثيل کوي ،خو دلته مې يوه فايده دا وکړه چې تربيت مې وکړ او بله دا چې د ډيرو پاکو او مخلصو مجاهدينو سره مې پيژندګلو وشوه ، د هغه مجاهدينو سره چې د لشکر خبيثې په اهدافو ښه پوهه و او د يو بل خپلواک او نړيوال جهادي محاذ په لټه کې و ، هغه محاذ چې د ای ايس آی له طلسم ازاد وي او د دغه مرتدې استخباراتي شبکې په وساطت په کې د نړۍ د کفارو مهار نه وي پروت .

دلته د شيخ ابو حسان تقبله الله او ابو عميرتقبله الله په نومونو دوه پښتانه استادان و ، ابو عمير زما د ترور زوی و ، دده له طريقه به د استادانو کوټې ته تللم او هلته مې د شيخ صيب ابو حسان سره ناسته ولاړه شوه ، شيخ د قران او سنت يو جيد عالم او ډير بادينته باتقوا او مخلص عملي مجاهد و ، د همده د ناستې برکت و چې الله زما سترګې خلاصې کړې ، شيخ صيب چې کله په ما مکمل باوري شو نو بيا يې د لشکرې خبيثې په حقايقو خبر کړم ، ويې ويل : آی آيس آی د خپلو ګټو په خاطر ستا په څير د ځوان نسل له حماسي او جهادي احساساتو او فکر څخه د ځان په ګټه کار اخلي ، ددغه راز ځوانانو لپاره يې د لشکر خبيثې په شمول د ځينو تنظيمونو جالونه غوړولي ، احساساتي ځوانان چې کله دوی سره يو ځای شي ، نو د دوی اوږدې ډيرې پورته پايڅې او ژړاګانې چې ووينې فکر کوي چې دا خو د اسلامي امت په درد درمند حقيقي مجاهدين دي ، خو د وخت په تيريدو د همدې ځوانانو په فکر داسې کار وکړي چې له اسلام ورته بيا د اسلام ابادګټې مهمې ښکاري ، پاکستان ورته د اسلام قلعه معرفي کړي او پاک ارمي يانې پاکستانې مرتد فوځ ورته د اسلام سپاهيان وروپيژني او دا عقيده يې جوړه کړي چې ددې فوځ په ملاتړ کې د پاکستان ساتنه د اسلام ساتنه ده ، او د همدې وطنيت په ګمراه عقيده روزل شوي ځوانان کله د پاکستان د مفادو د ساتنې په هدف افغانستان ته د جنګ لپاره استوي او کله يې کشمير ته ليږي او کله يې د فوځ په ملاتړ نورو ځايونو کې استعمالوي .

خو افسوس دادی چې دې ځوانانو ته دا نه ورښکاره کوي چې په پاکستان حاکمه ديموکراسي اسلام نه، بلکې کفر دی ، او د لشکرې خبيثې په چوکاټ کې فعاليت د لارډ ميکالي انګريزي قانون څخه دفاع ده ، له دې ځوانانو د پاکستان د کفري نظام نور نواقض او د دوی د مرتدو چارواکو مختلف اسلام ماتونکي نواقض ورته په مختلفو ډولونو ، توجه کوي او يو ځوان چې په پاک او سپيڅلي احساس دې ليکو ته راغلی وي په ځای ددې چې د اسلام خدمت وکړي نو د اسلام سره په جګړه کې يې ښکيل کړي .

شيخ صيب ابو حسان به په ډير مهارت مخلص مجاهدين د لشکرې خبيثې په حقايقو پوهول او د اسلامي خلافت په عقيده به يې روزل حال دا چې هغه وخت لا اسلامي خلافت ظهور نه و کړی ، شيخ صيب په نړۍ د اسلامي نظام د حاکميت لپاره د داسې خلافت تمه لرله چې په نبوي

منهج استواره وي ، په ټوله نړۍ کې یې د ټولې نړۍ د کفارو سره جګړه وي ، د وطنیت د جغرافیوي کرښو ترځنګ ددې کرښو ترشا د وطنیت او د همدې وطنیت په بنیاد طرحه شوي مفاهیم هم له منځه یوسي ، نړۍ یو ځل بیا د اسلامي خلافت تیرې جغرافیې ته ستنه کړي ، د اسلامي هیوادونو په نامه په دغه ویشل شوي اسلامي خاوره شته دیموکراسي له منځه یوسي او په ځای یې د الله عزوجل نظام حاکم کړي ، د هیڅ ډول کفارو سره هیڅ ډول نرمي ونه لري .

شیخ په همدې تمه خپله جهادي مبارزه جاري ساتله او د پاکستان د مرتد نظام په خلاف یې هم خپل عملي جهاد په ډیر ماهرانه انداز مخ ته وړ، همغه و چې د جلوزو په کیمپ کې په خپل کور کې د ماین جوړولو پرمهال پرې خپل ماین چاودنه وکړه او سره د دریو نورو ملګرو په شهادت ورسید.

د شیخ صیب په ژوند دده په توسط مو دده په پل روان د اسلامي خلافت کاروان ته منتظر ډیر مخلص غازیان پیژندلي و ، چې له ډلې یې یو هم شیخ عبدالله مهاجر سواتی تقبله الله و .

شیخ عبدالله مهاجر نهایت زړور او خوږ انسان و ، د ملګرو ورسره ځانګړې مینه وه ، کله چې شیخ حسان شهید شو نو شیخ عبدالله زموږ ملګرو خپل امر وټاکه ، زموږ ملګري به په افغانستان او پاکستان دواړو کې د کفارو او طواغیتو په خلاف جنګیدل ، موږ هم عملا ولوبیدو او د اسلامي خلافت ظهور ته مو شپې شمیرلې ، په همدې لړ کې په ۲۰۰۶ کې د تحریک طالبان پاکستان په خپل فعالیت پیل وکړ او زموږ شیخ هم د تحریک طالبان پاکستان سوات برخې سره یو ځای شو ، تحریک په پیل کې ډیر ښه و ، ځینې نیک مشران یې درلودل کله چې هغوی شهیدان شول نو بیا یې د آی ایس آی ایجنټان منځ ته راداخل شول او نور نو تحریک هغه تحریک پاتې نه شو .

کله چې د پاکستان مرتد فوځ له خوا د تحریک په لاس کې شته ساحې سقوط شوې نو د تحریک غړو او مشرانو یې افغانستان ته کډې وکړې او دلته یې نو بیا هغه پست او ذلیله کار وکړ چې د خپلو تیرو مشرانو تاریخ یې وشرماوه ، د افغانستان د مرتد حکومت سره یې خبره وکړه ، دوی ورته کارتونه ورکړل ، کورونه یې ورکړل او د افغان ملي امنیت په چوکاټ کې د هند په مرستو بیا د افغانستان د مرتد حکومت په نیابتي جګړه مارو بدل شول ، امارت د آی ایس آی نیابتي ملېشې وې چې افغانستان کې به جنګیدلې او پاکستان کې یې پراخه کورونه ، کاروبارونه او دفترونه و ، د پاکستان مرتدین ورته مرتدین نه ښکاریدل او هلته یې یو ټس هم نه روا ګاڼه او تحریک والا بیا برعکس د افغان ملي امنیت په نیابتي ملیشو بدل شول ، افغانستان کې به یې ټس نه کاوه د ملي امنیت مرتدینو سره به په کابل کې ازاد په رنجرو او فلډرو کې ګرځیدل ، او ډیره عجیبه بیا لا دا وه چې تحریک د امارت سره بیعت هم درلود ، عجیبه وه ډیره عجیبه ، نه پوهیږم د دوی له کشرخیلو دا حق ولې دومره ورک دی چې له یوه لوري یې آی ایس آی سره د جنګ دعوه ده او بل طرف د آی آیس آی په بیعت کې پرتو طالب ملېشو سره بیعت لري .

موږ د دوی په نواقضو پوهه و او د یو سپیڅلي خلافت د ظهور په تمه مو په افغانستان او پاکستان دواړو کې خپلو جهادي فعالیتونه دوامداره ساتل په دې برخه کې نه د امارت او نه د تحریک د پالیسو پابند و ، بلکې زموږ ملګري په هر څه پوهیدل او د دواړو طواغیتو په خلاف جنګیدل .

اخر هم الله عزوجل زموږ دا ستر ارمان پوره کړ او په عراق او شام کې د اسلامي خلافت لمر راوخوت ، د نړۍ له لر ، بره د قریشي خلیفه سره مخلصو مجاهدینو بیعتونه وکړل ، څنګه چې زموږ ارمان و هغسې الله عزوجل په نبوي منهج مزین اسلامي خلافت قایم کړ ، زموږ ډیره تلوسه وه چې څنګه به ددې نړیوالو مجاهدینو د کاروان ملګري شو او څنګه به په درسته نړۍ کې د ټولې نړۍ د کفارو ، طواغیتو ، مرتدینو ، مشرکینو او نورو کفارو په خلاف وجنګیږو ، څنګه به د خپل خلیفه سره بیعتونه وکړو .

په همدې تمه او انتظار مو شپې او ورځې تیریدې ، د ورځو څخه یوه ورځ وه چې شیخ صیب عبدالله مهاجر راته زنګ وواهه ، له سلام کلامه پس یې راته وویل : چرته یې ورروه ؟

ورته مې کړه : شیخ صیب کور کې یم ، امر کوه ؟

په خوږه موسکا یې وویل : کور کې اوسه ، درځم چې درسره ډیر ضرور کار لرم .

مبایل یې قطعه کړ ، ما یې هم په ډیر تلوار د راتلو لار څارله ، څکه چې ډیر وخت شوې و ، سره مو ملاقات نه و شوې ، اخر هم راورسید مولوي صیب صادق تقبله الله هم ورسره و ، ، له روغبړه وروسته چې کیناستو ، نو ورته مې وویل : شیخ صیب اول خو دا خوب راتعبیر کړه : خوب مې کتلو چې په اسمان کې له وریځو څخه د الله نومونه لیکل شوي وي او د ټول اسمان مخ یې نیولې وي .

په خندا یې راغبرګه کړه : الله بنده د خوب تعبیر دی دادې چې د خراسان په اسمان د اسلامي خلافت د رحمت وریځې راخورې شوې ، خراسان د اسلامي خلافت د یو ولایت په حیث اعلان شو ، والي هم ټاکل شوی او له ټولو تنظیمونو ، قومونو او سمتونو څخه ورته ډلې ، ډلې مخلص مجاهدین د بیعت لپاره را روان دي ، د تحریک زمری حافظ سعید خان چې د خلیفه المسلمین ابو بکر بغدادي تقبله الله له لوري د خراسان والي تعین شوی په تور دره کې دی او ورسره بیعتونه شروع دي .

دا نو زما په ژوند کې لومړۍ خوښي وه چې په ما راغله ، نهایت زیات خوشاله شوم ، نن مې د خپلو زخمتونو او کړاونو ثمره لیدله ، نن مې د خپلو شهیدو شویو ملګرو د ارمانونو غوټۍ په ګل کیدو لیدلې ، نو څنګه به نه خوشالیدم ، شیخ ته مې مخ کړ : خه شیخ صیب دا راته ووایه چې کله به ځو ، موږ خو عراق او شام ته د ورتللو خوبونه لیدل ، هلته ورتګ خو مو د وسې پوره نه و ، الله په خپلو مخلصو بنده ګانو دا لورینه وکړه چې دلته یې ددغه سپیڅلي خلافت د لمر وړانګې راورسولې .

شیخ صیب ویل بس همدا تاسې پسې راغلې یم ، شیخ صیب بیعت کړې و او د نورو ملګرو پسې راغلې و .

شیخ صیب عبد الله مهاجر چې په تحریک کې نوم مولوي صیب ابوبکر و ، ټولو ته یې اخلاص ، میرانه او دیانت معلوم و، د هغه وخت د تحریک امر ملا فضل الله د شیخ صیب عبدالله په بیعت ډیر ناخوښه و ، او کوشش یې کاوه چې شیخ د بیعت څخه په شا کړي ، د مشرۍ ترځنګ یې د نورو امتیازاتو وعدې یې ورکړې خو د شیخ ذهن الله خلاص کړی و ، هیڅ یې ورسره ونه منل ، ملا فضل الله د څنګ ډیرو مشرانو مجاهدینو او علماؤ هم د اسلامي خلافت سره بیعتونه وکړل او دا لړۍ ډیره تونده روانه وه ، ملا فضل الله د اسلامي خلافت په حقانیت ښه پوره قانع و ، خو د خپلې مشرۍ ویره ورسره وه ، څکه یې نو کوشش کاوه چې د

تحریک څخه اسلامي خلافت ته د ورتلونکو مخلصو مجاهدینو مخه ونیسي ، نو یې خپل ملګري راټول کړل او ورته یې وویل : زه ستاسې د ټولو جنت ته د تللو زیمه وار یم ، زه مو جنت ته بیایم خو خلافت ته مه ورځئ ، سبحان الله زموږ ستر رهبر محمد صل الله علیه وسلم خپلې لور ته دا ذمه واري نه شي کولای خو ځینو خلکو د خپلې مشرۍ او نوم له خاطره نور ډیر خلک په ګمراهۍ کې وساتل .

خو بیا هم ملا فضل الله د بیعت د مخنیوي باوجود هم د تحریک د زمري حافظ سعید ، ګل زمان فاتح ، شیخ مقبول (شاهد الله شاهد) شیخ ابو سعید ، سیف الاسلام مولوي صیب ، شیخ طاهر ، ملا طوفان په شمول د اورکزو ، سواتو ، باجوړو ، مهمندو ، افریدو او نورو ګڼو قبایلي زمرو زرګونه مشران او کشران د تحریک څخه د اسلامي خلافت غیږ ته راغلل .

دې ټولو ته هر څه مالوم و، د دوی هدف موقف او چوکۍ نه وه ، د دوی مبارزه مخکې هم په سرحداتو کې محدوده نه وه او نه یې هم د سیمې د استخباراتي شبکو د نیابتي جګړې ملېشې له ځانه جوړولې ځکه نو تر ننه دا سلسله للہ الحمد روانه ده .

په هر صورت شیخ عبد الله مهاجر خپل ټول ملګري راټول کړل او ټولو ته یې د اسلامي خلافت د مرکز او بیا د خراسان ولایت اړوند ټول مالومات ورکړل ، اکثره ورونه بیعت ته تیار شول ، خو زه ، عثمان لیبي او مولوي صیب جواد مسلم .

شیخ صیب سره نقد تللو ته تیار شو .

او نورو ملګرو ژمنه وکړه چې خپل کاروانه به راجوړوي او ټول به تیاریږي .

خو ورځې وروسته مو د ژوند د یو ستر ارمان د عملي لیدو په هیله حرکت وکړ ، هغه ارمان چې کلونه ، کلونه یې د پوره کیدو په هدف موږ او زموږ ډیرو ورونو ډیرې ستړیاوې ګاللې وې ، نور نو په تنظیمونو کې د بې نتیجې منډو تررو ستړي شوي و آو ډیر تلوار مو و ، چې کله به په نبوي مهر مزین تور توغ تر سیوري لاندې راټولیږو .

حرکت مو وکړ ، تر نازیانه ورسیدو ، شپه مو په نازیان کې د تحریک د یو ملګري سره وکړه ، هغه ته مو هم د اسلامي خلافت سره د یو ځآی کیدو دعوت ورکړ ، په سبا مو د نازیان په وړوکي بازار کې خوراکي شیان واخستل او مخ په تور دره روان شو، د تور بیرغ د لیدو او دې بیرغ د سیوري لاندې د راټولو مخلصو زمرو د لیدو تنده او مینه دومره وه چې د لارې په ستړیا او زخمتونو نه پوهیدو ، تور دره په خیبر دره کې هغه سیمه ده چې په لومړي ځل په دې هیبتي دره کې د اسلامي دولت تور توغ پورته شو ، موږ د پاکستان او افغانستان د سرحد په یو ځنګل کې د هسکو نښترو د سیوري لاندې د بوې یخې چینې لاندې کیناستو ، ددغه سرحداتو د ختمولو په لوړو ارادو مو بحث کاوه ، د چینې د یخو اوبوڅښلو مو لوږه لا زیاته کړه ، ، شیخ صیب ورسره غوټې ته لاس کړ ، دا غوټه یې له کوره را اخستې وه او په لاره یې هیڅاته نه ورکوله تر څو بل کس پرې په زخمت نه شي ، شېبه وروسته یې غوټه خلاصه کړه ،

چې ګورو د تناره ځلور غټې سرې ډوډۍ او په منځ کې یې شه پریمانه وچه غوښه تري راوویستله ، موږ نو تیار وږي و آو په دې غر کې مو د داسې خوراک تمه نه لرله ، شیخ ته مو مخ کړ : شیخ صیب کمال دې وکړ دا له کومه شوه ، ولې دې مخکې تري ناخبره ساتلي و ، شیخ خوږه موسکا وکړه : دا مې آن له خپل کوره راسره راخستې او داسې ناځآیې لیدو به یې تاسې ته هم خوند درکړی وي .

نور مو نو ورته ونه کتل او پرې بسم الله مو کړه .

خوراک مو وکړ ، دمه مو جوړه

شوه ، نور مو د نښترو او منځو په ځنګلونو په پوښلو خوړنو او ناونو کې خپل مزل جاري وساته ماښام و چې د تور درې خولې ته ورسیدو ، شیخ صیب ته د ملګرو مرکزونه معلوم و ، یو مرکز ته ورستون شو ، په لومړي ځل مې تور بیرغ په لیدو او د ځښه ورو شازلمو په ځېرو مینه ماته شوه ، تاسې باور وکړئ ما د حق په لټه ډیرې دروازې ټکولې او د ډیرو تنظیمونو په صفونو کې پاتې شوي یم خو په لومړي ځل چې ددې بیرغ او مجاهدینو په لیدو ما د کومې خوښۍ او معنویت احساس وکړ ، هغه مې مخکې چرته تصور هم نه و کړی ، ددې خوږو مجاهدینو هغه مینه او محبت مې چې وکتلو نو له ډیره ویاړه مې سترګې را لمدې شوې .

شِخ صیب د ملا طوفان پوښتنه وکړه ، ملا طوفان هم د تحریک یو نومیالی زړور غازي و ، چې د نوم په اوریدو به یې د آی آیس آی په جنرالانو او په بزدله فوځیانو د ویرې طوفان راتللو . هلته موجودو مجاهدینو ورونو وویل : ملا طوفان همدلته دی ، صبر دمه مو جوړه شي ورسره به ملاو شئ .

شېبه وروسته یو مجاهد مخکې او موږ ورپسې شو ، لږوروسته یو کور ته ورسیدو ، په یوه کوټه وننوتو ، د بخارۍ څخه ګیر چاپیره ګڼ ځښه ور غازیان ناست و ، زموږ په لیدلو راولاړ شول ، په دوي کې طوفان ملا هم و ، د طوفان مولوي صیب سره ناستې او ملاقت نهایت مزه وکړه ، ډیر خوږ انسان و الله دې قبول کړي ، مجاهدینو سره یې ځانګړې محبت درلود ، د شپې تر ناوخته مو ورسره مجلس وکړ ، دلته مو یو بلې هستۍ فاروق استاد (تور خالد تقبله الله) سره هم ملاقات وشو ، دغه وخت پاکستاني جیټانو او هوانونو بمبار کیده نو ملګري ډیر وخت په یو ځای نه شول پاتې کیدلای ، توفان مولوي صیب ملګري تقسیم کړل ، موږ یې هم یو ملګري سره واستولو سهار یې بیا راپسې کس راواستاوه چې چایو ته راشئ ، کوربه هم ټینګار وکړ چې ورسره چایو ته پاتې شو ، خو توفان مولوي صیب رالیږلي ملګري ټینګار زیات و، ورسره لاړو ، تر ماسپخینه مو مولوي صیب سره په مختلفو موضوعاتو خبرې وکړې ، بیا یو ملګري راسره کړ او د خراسان د والي حافظ سعید خان تقبله الله په طرف روان شو .

د خراسان په دغه انقلاب خیزه درو کې مزل یو عجیب کیفیت درلود، دنګ غرونه ، هیتني خوړونه ، دنګ کمرونه او د قسما قسم ونو پراخه ځنګلونه ددې تور درې د خاپست یو تصویر و ، او بیا چې په دې درو کې د ټولې نړۍ دښمنۍ ته په یوازې ځان راوتلي غازیان ووینې نو سړې یې په لیدو د پوې داسې نایابه خوښۍ احساس کوي چې په لفظونو کې د هغې تصویرول محال دي .

موږ په همداسې یو هیبتي ناو کې روان و، چې له لرې مو په دوه تنه غښتلو او د قوي باډیو او مظبوطو مټو په دنګو زلمیو سترګې ولګیدلې ، چې په یاغي اسونو سپاره زموږ په طرف رانیږدې کیدل ، اوږدو ګورو څڼو یې د هوا سره خبرې کولې ، ددې غرونو خایست او رعب همداسې هسکو چېنار ، چینار غازیانو لا زیات کړی و ، په اسونو سواره زلمي چې راورسیدل ، د شیخ صېب عبد الله مهاجر په لیدو موسکي شول، له اسونو پلې شول ، سره ورغاړیوتو ، ددواړو له تنو مې لاسونه تاو نه شول ، تر ډیره سره په روغبړ بوخت و.

هو !

دا دواړه زمري د اسلامي امت دوه میړني ګل زمان فاتح او سعد امارتي تقبلهماالله و.

ددې میړینو سړیو په لیدو مې بیخي احساسات په څپو شو ، د پوې ډیرې عجیبې خوښۍ احساس مې وکړ ، دوی شیخ صېب ته وویل : موږ چرته کار لرو ان شاء الله زر راستنیږو تاسې خو نور راورسیدئ په خیر ، ورځئ موږ تر ماښامه رارسیږو .

موږ خپل سفر جاري وساته ، رښتیا هم زر ورسیدو ، د مجاهدینو یو مرکز ته ورپورته شو ، ماښام و چې سعد امارتي او ګل زمان فاتح هم راورسیدل ، بیا شپې ته د امارتي امر صېب سره روان شو ، هلته چې ورسیدو نوپه سبا مو د یو بل خوږ انسان هغه میړني سړي سره مو ملاقات وشو ، چې په صورت او سېرت یې پوره کتابونه لیکل کیدای شي .

شیخ صېب عبدالحسیب تقبله الله یادوم ، شیخ صېب خپله لګیا و د ملګرو خدمت یې کاوه ، ډوډۍ مو وخوړه او د اودس په نیت له مرکزه بهر راووتم ګورم یو کس لګیا دې لوښي وینځي چې ورنیږدې شوم نو شیخ صېب عبدالحسیب و ، حیران پاتې شوم ، زړه کې مې خواږه ټکانونه احساس کړل ، او په خپل راتګ ډیر خوشاله شوم ، پوهه شوم ، چې د سلفو په مستقیم مسیر تلونکي ځوانان همدا دي چې یو په بل ذره فوقیت نه لري ، موږ

د تنظیمونو مشران هم کتلې و ، د هغوۍ غرور او په خپلې مشرۍ د بیځایه ویاړنې حرکات مو هم کتلي و او دلته مو هم د اسلامي خلافت مشران وکتل چې خپلو کشرانو ته پې لوښې او کاسې وینځلې.

لمونځونه مو چې وکړل نو د بخارۍ څنګ ته په زړو توشکو کیناستو ، شیخ عبدالحسېب تقبله الله د شیخ عبدالله مهاجر څنګ ته رانیږدې شو او د خلافت اړوند لیکل شوې یوه رساله یې ورته وښوده چې لا تر اوسه چاپ او نشر نه وه ، ډیره غوره رساله وه د اسلامي خلافت په تاید کې قراني او نبوي ارشادات په کې و. شپه مو وکړه ، سهار جمعه مو شیخ صېب عبدالحسېب پسې وکړه او بیا نو له کومه ځای چې راغلې و هملته لاړو ، دلته ګڼ ملګري ناست و ، د خراسان د بیعت لومړنۍ ویډیو یې کتله کومه چې دوه ورځې وړاندې له مرکزه نشر شوې وه

لږ وروسته متوکل تقبله الله راننوت ، موږ ته یې بهر ته د تللو وویل چې ووتلو نو په خلاصه فضا کې پیتاوې ته د خراسان والي حافظ سعید خان تقبله الله د نورو ګڼو مجاهدینو منځ کې ناست و ، زموږ په لیدو زیات خوشاله شو ، له روغبړه وروسته یې هر یو سره بیا جوړ په خیر وکړل ، موږ ورته شیخ صېب عبدالله ورو پیژندو ، له هر یو یې ځانته ، ځانته پوښتنې او احوال پرسي وکړه ، والي صېب په مختلفو موضوعاتو ډیر مدلل وغږید ، او وروسته یې نو بیا په ډیره مینه خپل مظبوط لاس راوړاندې کړ :

هغه غښتلې لاس چې د الله په مرسته یې په خراسان ولایت کې د ګیر چاپیره ټولو دښمنانو په منځ کې په ډیر جرآت او میړانه د اسلامي خلافت تور توغ رپاند کړ.

هغه لاس چې له دې وړاندې یې هم په قیادت کې په زرګونو پاکستاني او افغاني مرتدین جهنم ته لیږلي و .

هو !

موږ د حافظ صېب په لاس خپل لاسونه ورکېښودل او بیا نو د مسلمانانو د خلیفه ابو بکر بغدادي تقبله الله سره مو دبیعت لفظونه په شونډو زمزمه کیدل . حافظ صېب په خواږه غږ په لوړ اواز د بیعت الفاظ ویل او موږ ورپسې شاته تکرارول ، دا نو یوه عجیبه شېبه وه ، د نا اشنا خوښۍ احساس و ، له سترګو مو د شکر ، مینې او خوشالۍ اوښکې روانې وې .

او موږ د بیعت په همدې مظبوطو الفاظو اوه کاله وړاندې د اسلامي خلافت سره وتړل شو او لا هم په دې اغزنه لار ، ګام په ګام د خپل لوړ هدف په لور نیږدې کیږو په دې لاره کې مو که هر ډول زخمونه ، زندانونه ، لوږې ، تندې ، تندکونه ، تاوانونه ،شبګیرونه او قسما قسم کړاونه وګالل خو زموږ ارادې یې کمزورې نه کړې بلکې لا مو په خپل سپیڅلي منهج او پاکه عقیده ایمانونه مظبوط او له دې هم د سختو مزلونو پړاو لپاره په خوښۍ تیار یو باذن الله او له تاسې هم غواړو چې راشئ او د اسلامي دولت ددې سپیڅلي کاروان ملګري شئ چې د دنیا او اخرت په خوږو ماره شئ .

د قوم پالنې بُت مات کړئ

الحمد لله الذي بيّن لنا طريق الهدى و علّق الكرامة بالتقى والصلاة والسلام على النبي المصطفى الذي ألف الله به بين قلوب عباده المؤمنين و أخرج به عن قلوبهم عبية الجاهلية و على آله و صحبه و من تبعهم الى يوم الدين أما بعد فقد قال الله عزوجل" يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقۡنَـٰكُم مِّن ذَكَرٖ وَأُنثَىٰ وَجَعَلۡنَـٰكُمۡ شُعُوبٗا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْۚ إِنَّ أَكۡرَمَكُمۡ عِندَ ٱللَّهِ أَتۡقَىٰكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٞ ۝ [الحجرات : ١٣]

الله عز وجل د خپلو بنده گانو د هدايت او کاميابۍ لپاره د اسلام دين غوره کړې دی او ټول بنده گان يې پدې مکلف کړي دي چې اسلام کې داخل شي او د اسلامي تعليماتو په رڼا کی خپل ژوند تير کړي او د دغه دين په اساس د يو بل سره ښې اړيکي وساتي او د يو بل خيرخواهي، د يو بل سره د اسلام له وجې محبت او مدد وکړي که د هر قوم ، ژبې، رنگ او علاقې سره تعلق لري، او اسلامي ورورلۍ ته په قومي او وطني روابطو مخکيوالې ورکړي چې ايمان يې ورسره پوره شي او د ولاء براء په معنا عمل وشي لکه په يو صحيح حديث کی راځي : عَنْ أَبِي أُمَامَةَ ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ : " مَنْ أَحَبَّ لِلَّهِ، وَأَبْغَضَ لِلَّهِ، وَأَعْطَى لِلَّهِ، وَمَنَعَ لِلَّهِ ؛ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ الْإِيمَانَ ".رواه ابوداود

شیخ چې زما له روغبړه خلاص شو ، نو په سجده پریوت ، چې راوچت شو راته یې کړه : وروره احسان دربانديې نه کوم ، بیګا مې هم درته خاص دعاوې وغوښتلې او نور مې په تا د طاغوت په غیږ کې د طاغوت په خدمت ژوند تیرول نه لوریدل .

ټولو ملګرو د هجرت مبارکي راکړه او راته یې په شریکه د صبر او ثات دعاوې وکړې .

بیا مې نو شیخ صیب سره وروري شوه او لکه څنګه مې چې دا یو ستر ارمان و چې الله په دې غرونو کې یوه داسې علمي خزانه راکړي چې له شتمنۍ یې مستفید شم ، همغسې وشول ، د شیخ صیب سره په اینده کې په شریک کار او مجلسونو کې مو له شیخ صیب څخه داسې ډیر څه یاد کړل چې ما یې تصور هم نه و کړی .

هو!

زما محسن او استاد، دا د ممبر او سنګر سړی ، دا دقربانیو او ثبات ، غر سړی ، دا زړور او نر سړی، شیخ صیب ابو عمر تقبله الله و ، د شیخ صیب د ژوند په کوم اړخ به سړی لیکنه وکړي ؟

د هغې په اخلاقو، صله رحمۍ ، شفقت ، دیانت، مینې او عاطفې لیکنه وکړو ؟

که د هغې په شجاعت ، استقامت ،میړانې غیرت ، ثبات او استقامت لیکنه وکړو؟

د هغې په علمیت ،فصاحت او بلاغت لیکنه وکړو؟

او که د هغې په قربانیو ، سربښندنو، حماسو ، کارنامو او په پراخه هر اړخیزو خدمتونو لیکل وکړو ؟

د شیخ صیب ابو عمر تقبله الله د ژوند په هر اړخ پوره کتابونه لیکل کیږي او په کار ده چې په دې ټولو اړخونو یې تفصیلي لیکل وشي ، او دا لیکنې د جهاد او هجرت په دې اغزنه او له کړاوونو ډکه لار زموږ راتلونکي نسل ته په تیارو ګوټونو کې مشالونه شي ، او دوی د خپلو مشرانو د تیرو کړنو او تجربو په رڼا کې په غښتلو قدمونو پر مخ ولاړ شي .

هغې سره زموږ د یو ځای تیر شوي تقریبا پنځه کلن ژوند دومره خاطرې او کیسې دي چې په کتابونو کې نه راخلاصه کیږي او د مجلې ددې ګڼې د ځانګړې برخې له برداشته بهر دي خو کوشش به وکړو ان شاء الله چې د شیخ صیب د ژوند په مختلفو اړخونو په یو ځانګړې کتاب کې څه ناڅه دا حق اداء کړو .

دشیخ صیب علمي ژوند.

شیخ القران والحدیث ابو عمر تقبله الله چې خپل نوم یې ضیاء الحق ضیاء و چې د مولوي صیب محمد زمان زوی او د عالم شیر لمسې و ، په ۱۳۶۲ لمریز کال د کنړ ولایت د ځوکۍ ولسوالۍ د فهو سیری د کلي په یوه دینداره ، علمي او مجاهد پروره کورنۍ کې زیږیدلې و، شیخ صیب خپلې لومړنۍ زده کړې له خپل پلار او مشر ورور څخه پیل کړې ، له ماشومتوبه یې د خپلو مشرانو له اړخه په هر اړخیز شکل ډیره خه روزنه وشوه ،، له ماشومتوبه با اخلاقه ، ذهین ، او هوښیار و ، وروسته بیا د خپل والد صیب په غوښتنه د علم حاصلولو په سفر ووت، او چې چرته یې هم د کومې پیاوړې مدرسې او تکړه استادانو درک لګاوه هلته یې ځان رساوه او هلته به یې هغوی ته د علم حاصلولو په تکل زنګون ماتوه ، د خراسان په لر ، بر کې په مختلفو مدرسو کې په مختلفو برخو کې علم حاصل کړ ، د علم ترلاسه کولو پر مهال به هم په هره مدرسه او ښونیز مرکز کې په ممتازو شاګردانو کې شمیرل کیده ، په ۲۰۰۳ کال کې له یوې سترې دیني مدرسې څخه په اعلی درجه له فراغت وروسته

تر دوه کاله په باجوړ کې د يوې مدرسې استاد او د يو جمات امام پاتې شو ، له هغې وروسته خپل پلارني کلي ته راستون شو ، او دلته يې هم د خپل ځوان نسل په روزنه کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې شروع کړې ، د ځوکۍ په ديني دارلعلوم کې د مدير ترڅنګ د احاديثو ، تفسير ، نحوې ، صرف ، بلاغت ، انګليسي تدريس هم کاوه ، شيخ صېب ته الله عزوجل د نورو مهارتونو تر څنګ د ځوانانو د روزنې او ذهنيت سازۍ يو ځانګړې استعداد ورکړې و.

شيخ صېب دې هر څه ترڅنګ يوه تکړه ويناوال(مقرر) ليکوال او شاعر، تکړه مولف او خطاط هم و، د تعليم په دوران کې په مختلفو برخو کې زياتې مسابقې ګټلې ، يو ځل يې د عربي د ويناوالۍ په يوه سيالۍ کې لومړی مقام ترلاسه کړې و چې د مسابقې جوړونکو ورته د (د التنصير في بلاد المسلمين) په نوم يو کتاب په جايزه کې ورکړ، دغه کتاب په عربي ژبه کې و او شيخ صېب بيا پښتو ته ترجمعه کړ.

د شيخ صېب ژباړلي اثار :

١ – شرح عقيدة الطحاويه : دا په پوهنتونونو کې هم تدريسيږي
٢ – فن الخطابه: دا په دار العلومونو کې تدريسيږي
٣ – الوجيز في اصول فقه : دا هم په پوهنتونونو کې تدريسيږي
۴ – قواعد الصرف : دا په مدارسو کې تدريسيږي
۵ – مه غوصه کيږه.
٦ – په اسلام کې د خپلواکۍ انځور
٧ – حقيقت الصلاة
٨ – مسند الامام اعظم ابو حنيفة رحمه الله
٩ – اسلامي غزاګاني
١٠ – د عربۍ لارښود
١١ – مقدمة الجزرية
١٢ – اصول السنة
١٣ – د قراني قانون د حاکميت لوړتيا
١۴ – تاريخ التشريح

دشيخ صېب ليکلي اثار :

١ – تحفة الحج (د حج ډالۍ)
٢ – رشوت او اداري فساد
٣ – فضائل الجهاد
۴ – د دعوت لار
۵ – د مسلمانانو اوسنۍ ستونزې او د هغې د حل لارې
٦ – مسلمانانو ويښ شئ
٧ – شرعي حجاب
٨ – رواغ مه وايه
٩ – غيبت مه کوه
١٠ – د قران کريم تفسير چې ځيني يې چاپ شوی او ځيني پاتې دی

شيخ صېب بيا د اسلامي دولت تمکين ته له هجرت څخه وروسته هم ګڼې مقالې او رسالې وليکلې چې ددې ټولو ذکر او تفصيل به په خپل وخت کې وکړو ان شاء الله

د شيخ صېب جهادي ژوند

کله چې په افغانستان کې د امريکايي طياړو په سپورې کې ديموکراسي حاکمه شوه ، شيخ صېب په ډېر مهارت په دې وتوانيده چې په سلګونو ځوانان په جهادي فکر او روحيه وروزي ، وروسته نو بيا داسې مرحله راورسيده چې همدې ځوانانو د شيخ صېب په لارښونه د کنړ درې او سر درې صليبي داره مارو ته د مرګ په کندو بدلې کړې ، شيخ صېب په همغه سختو حالاتو کې د کنړ په مختلفو غرونو او ځنګلونو ګرځيده او په معسکراتو کې د کفارو په وړاندې د مجاهدو زلمو تربيت کاوه ، ددې ترڅنګ يې د پيچ ، ديوه ګل، مروړې ، شونکړۍ ، شوريک او نورو درو په شمول د کنړ په لر ، بر کې د ديموکراسۍ د ټغر د ټوليدو په لړ کې په مسلحه مبارزه بوخت و، په مختلفو ، بريدونو ، د سړک د غاړې په ماينونو او نورو ډول ، ډول جهادي فعاليتونو يې له دښمن څخه لار ورکه کړې وه ، د شيخ د لاس روزل شويو غازيانو نه يوازې دا چې کنړ د ناټو د اشغالګرو په هديره بدل کړ ، بلکې د افغانستان په لر ، بر کې سنګرونه تاوده کړل .

اوس سړی حيران شي چې د بايډن نوي کم کرايه عسکر طالب مشرکين په ډېره سپين سترګۍ دا دعوه کوي چې شل کاله دوی جنګيدلي او د اسلامي دولت مجاهدين نوي راپيدا شول ، خو دوی په زوره له هغه حقايقو سترګې پټوي چې امريکا دلته هغه سرښندونکو غازيانو وځپله چې ډېری يې د اسلامي دولت په ليکو کې شهيدان شول ، دغه مخلصين ډېر يې هغه وخت شهيدان شول، او پاتې يې د اسلامي دولت له ليکو سره ملګري شول، د اسلامي دولت مجاهدين څه له اسمانه نه دي راکيوتلي ، بلکې همغه سرښندونکي غازيان دي چې کلونه ، کلونه يې د امارت په صف کې قربانۍ ورکړې ، سره له دې چې د امارت د مشرانو نواقض ورته معلوم و، خو بله چاره يې نه وه اخر هم الله عزوجل په دوی احسان وکړ او د نړۍ په لر ، بر کې داټول مخلصين د اسلامي خلافت په سيوري کې راټول شول ، چې د ټولو استخباراتي کړيو د فشار او مهار څخه ازاد په ټوله نړۍ کې ديو الله عزوجل د نظام د قيام په هدف د ټولې نړۍ د کفارو ، طواغيتو ، مرتدينو مشرکينو او د دوی د لاس پوڅو ډلو ټپلو سره په جګړه بوخت دي ، اسلامي خلافت سره د همدغه مخلصو مجاهدينو د يو ځای کيدو په سبب امريکا مجبوره شوه ، چې د آی ايس آی په وساطت مهار شوي هغه طالب چارواکي او عسکر يې واخلي چې لا له وړاندې د اسلام په لسګونو نواقضو مبتلا و.

هغه مخلص مشران چې ژوندي مثالونه يې د شيخ ابو عمر ، حاجي رباني ، مولوي صېب عباس ، فاروقي مولوي صېب ، توحيدي مولوي صېب ، فضل واحد مولوي صېب ، عادل مولوي صېب ، شيخ جلال الدين ، سراج امر صېب ، ايوبي امر صېب ، ابو منصور امر صېب ، معاذ امر صېب ، شيخ صېب ضياء الله ، احمد امر صېب ، حضرت ګل مهاجر، ابدالي لالا ، لايق مولوي صېب ، زاهد ، اخلاص مولوي صېب ، ميوند ، ابو عبيده مولوي ، حمزه قاري صېب ، ابوبکر قاري صېب او ميرويس په شمول ګڼ کسان دي ، ددې مشرانو ترڅنګ په سلګونو کشران کنړي مجاهدين هم چې د امارت په ليکو کې خاص د الله عزوجل د نظام د قيام په هدف جنګيدل او د کنړ لر ، بر سمه او غر يې سنګر ، سنګر ګرځولی و ، همدوی و چې په کنړ او نورو ولايتونو کې يې د امريکا او د دوی د لاس پوڅو مرتدو مليشو بيخ کندي وکړه ، کنړ کې خو همدې وياړلو مشرانو او کشرانو مجاهدينو د ناټو او افغان مرتد حکومت په تابوت اخري ميخونه ټک وهل ، اوس نو دادی د همدې کنړيو زمرو په قربانيو په تياره يو څو د آی ايس آی د ونډر ترلي سخوندر بريتونه تاووي او ځانونه فاتحان بولي ، دا قاچاقبر او غله هغه وخت ټول د آی ايس آی په روزنتونونو کې د امريکا د ګټو د ساتنې په هدف د روزنې لاندې و ، دوی هغه وخت ټس هم نه دی کړی ، اوس نو د همغه شهيدو زلمو په وينو او قربانيو ګټل شوې سېمې د شريعت په ځای د طالب په جامه کې په يوه بله بڼه د ديموکراسۍ د حاکميت شاهداني دي او طالب مشرکين په ورسپارل شويو امريکايي عرادو او تجهيزاتو په ډېره سپين سترګۍ د اسلامي نظام د مخنيوي په هدف په لر، بر کې د اسلامي خلافت د مجاهدينو سره په جګړه بوخت دي او کوشش يې دادی چې د ناټو په شمول د ټولو کفارو ، مشرکينو او مرتدينو ګټې خوندي او ديموکراسي عملي کړي .

اسلامي خلافت سره د بيعت او هجرت ژوند

شيخ صيب تقبله الله چې کله په شام او عراق کې د خلافت د اعلان څخه خبر شو نو زيات خوشاله شو ، خومره يې چې د اسلامي خلافت د مجاهدينو په اړه تحقيق او پلټنه کوله هومره يې خوشالي زياتيده ، شيخ د امارت په نواقضو پوهه و ، او تر ډېره د همدې ورځې په انتظار و چې

کله به د آی ایس آی د مهار شویو امارتي مشرانو له قیادته ووځي او د یو پراخه نړیوال اسلامي خلافت په سیوري کې به د ټولې نړۍ د کفارو ، طواغیتو ، مرتدینو ، مشرکینو او د دوی د لاس پوڅو ډلو ټپلو په خلاف په هر ډګر او هر سنګر کې مبارزه وکړي ، د نورو زرګونو مخلصو مجاهدینو په شمول د شیخ صیب دعاوې هم الله عزوجل قبولې کړي او په عراق او شام کې د اسلامي خلافت ځلانده لمر راوخوت ، شیخ صیب به هر وخت په همدې فکر کې وو چې په کومه طریقه هلته ځان ورسوي او د اسلامي خلافت د اتلو شازلمیو سره په یو صف کې ودریږي او د کفارو مرتدینو څخه د بې وزله مسلمانانو کونډو او یتیمانو غچ واخلي، د انټرنټ له لارې به یې لحظه په لحظه د مجاهدینو احوال اخسته ، هغه وخت یې په عربي ژبه کې یو شعر لیکلی و چې د خلافت حقانیت او د خلیفة المسلمین ابوبکرالبغدادي تقبله الله سره یې پکې د بیعت اعلان کړی و ، همدغه بیعت یې مرکز ته ورولیږه ، شپه او ورځ به یې د ابوبکر البغدادي تقبله الله سره په یوه صف کې د الله جل الله د دشمنانو سره د مقابلې او جنګ لپاره قسم ،قسم سوچونه کول تردې چې الله جل جلاله په مسلمانانو یو ستر انعام وکړ او د خراسان ولایت اعلان شو ، د ننګرهار د سپین غر لمنې د خراسان ولایت تمکین شوې او د ولایت مرکز همدلته برابر شو ، حافظ سعید خان تقبله الله د خراسان والي وټاکل شو او د بیعتونو لړۍ پیل شوه نو شیخ صیب ابو عمر تقبله الله د خبریدو سره سم د هجرت لپاره تیاری ونیوه هیڅ ځنډ یې ونه کړ په سختوحالاتو او شرایطو کې د حافظ صیب تقبله الله خواته د ملاقات او لاس په لاس بیعت لپاره لاړ حافظ صیب هم د شیخ صیب ډیره قدرداني وکړه او د ځان سره یې د پنځلس ورځو لپاره ایسار کړ چې په دې ورځو کې شیخ صیب تقبله الله د مجاهدینو څخه بیعتونه اخستل. پنځلس ورځې وروسته خپل کلي ته راستون شو ددې لپاره چې خپل کلي کې دعوت وکړي خلک هجرت ته تیار کړي او له ځان څخه مخکې یې ولیږي شیخ صیب په دې ورځو کې ډیرې هڅې وکړې ډیرې خلک یې تیار کړل چې ځینې د شیخ صیب څخه مخکې او ځینې بیا وروسته د هغه څنګ ته ورغلل د خراسان ولایت د اعلان په دوهمه میاشت د شپې په دریمه حصه کې شیخ صیب خپل بچې له ځان سره کړل او د تمکین پاکې خاورې ته یې هجرت وکړ.

په خراسان کې د شیخ صیب مسولیتونه

شیخ صیب ته الله جل جلاله په اداري برخه کې ځانګړی مهارت ورکړی و، یو تکړه مدیر و ، د یوې اداري د نوې جوړولو تنظیمولو عجیب استعدادونه الله ورکړی و، ددې ترڅنګ چې به دې هرې برخې ته ورورانډې کړ ، فکر به دې کاوه چې نوموړې په همدې برخه کې ځانګړې زده کړې کړې دي ، کله یې چې خراسان ولایت ته هجرت وکړ ، د مشرانو له لورې د اعلام د دیوان مسول وټاکل شو، په خپل وخت کې چې بیخي ابتدایي مراحل و ، د اعلام په برخه کې یې رغنده کارونه وکړل ، د اعلام د اداري د مسولیت ترڅنګ به هرې معرکې ته هم حاضریده او دمجاهدینو په تربیت او دوی ته په درسونو ورکولو هم بوخت و، وروسته بیا د تعلیم او تربیې د اداري مسول وټاکل شو، چې په یاده برخه کې یې هم نه هیریدونکې خدمتونه او نوښتونه وکړل

کله چې کفارو د تمکین په پاکه خاوره د ړندو بمبارونو او چاپو پیل وکړیه همدې لړ کې د خراسان والي شیخ صیب عبدالحسیب تقبله الله د کفارو په یوه نه هیریدونکي او وحشتناکه چاپه کې په شهادت ورسید ، نو په دغه وخت کې شیخ ابو سعید تقبله الله د خراسان د والي په توګه او شیخ صیب ابو عمر تقبله الله ورسره د نائب په توګه وټاکل شول.

د شیخ صیب ابو سعید تقبله الله د شهادت څخه وروسته شیخ صیب ابوعمر د خراسان ولایت د والي په توګه مقرر شو چې د خپل ولایت په دوره کې یې اداري نظم د ځینو تغیراتو په راوستو منظم کړ ، دغه وخت نو د خراسان ولایت حالات له بل هر وخت د ټولې نړۍ د کفارو د سختو فشارونو لاندې و ، لارې بندې وې ، شپه او ورځ ړوند بمبار شروع و ، د کفارو له لورې د خراسان په لر ، بر کې د چاپو په نوم شبخونونه روان و، ډیر د کار او زیار مشران شهیدان شول ، خو شیخ صیب خپله حوصله له لاسه نه ورکوله او په همدې سختو حالاتو کې یې د زاوې ، وادي حصار ، مرکخیلو او اروندو نورو پراخه ساحو د فتحو لپاره زمینه سازي وکړه ، د مرکز مشرانو هم په شیخ صیب ډیر باور درلود او د نوموړي وړتیا ته په کتلو یې د ټولې اسیا د مسول په حیث وټاکه ، شیخ صیب په ډیرو سختو حالاتو کې خپل کارونه نه پریښودل ، د خپل ورسپارل شوي مسولیت په ډیر ښه شکل د ترسراوي ترڅنګ یې د ولایت د مشرانو سره هم پوره کار کاوه ، شیخ صیب د نړۍ د ټولو کفارو په سترګو کې ازغی او په سینو کې د خنجر په څېر و ، د شیخ پسې یې ګڼې سیمې بمبار کړې او څو چاپې یې هم پسې ووهلې خو شیخ صیب ته به هغه وخت الله عزوجل نجات ورکاوه ، کفارو د شیخ کارونه څارل او د شیخ صیب ژوند یې نور نه غوښت کوشش یې کاوه چې څومره زر وشي له منځه یې یوسي ، خو په تمکین کې تر اخره کفار د شیخ صیب پسې د سختو بریدونو په پایله کې هم په خپل هدف کې پاتې راغلل .

دشیخ صیب زنداني کیدل او شهادت .

کله چې د امریکا په مشرۍ د نړۍ کفارو په خراسان کې د اسلامي خلافت د ختمیدو په هدف د طالب مرتدینو سره د امریکا په تر ټولو ستره استخباراتي هډه قطر کې پټ او ښکاره تړونونه وکړل او طالب مشرکین ، افغان مرتد ځواکونه ، پاکستاني فوځونه له مختلفو لوریو د امریکایي طیارو د درنو بمبارونو په ملاتړ د اسلامي دولت په تمکین راوختل نو د اسلامي دولت تمکین په داسې حال کې سقوط شو ، چې په اکثره سنګرونو کې ټول مجاهدین به لومړی په بمبارونو کې ټپي ، ټوټه شول او وروسته به بیا د احزابو دې لښکر ته په سنګرونو د ورختلو امر وشو ، زیات مجاهدین شهیدان شول ، لارې له څو کلونو د مخه بندې وې او پاتې مجاهدینو سره هر قسم مواد ختم شول ، نو په ډیرو سختو حالاتو کې ځینې مجاهدین د کنړ د محاذ د ساتلو په نیت له تمکینه ووتل، ځینې په لارو کې ونیول شول او ځینې یې خپل هدف ته ورسیدل ، او ځینې هم لا په لارو کې و ، چې کنړ هم د امریکا او طالب مشرکینو د شریکې علنې جګړې په لړ کې سقوط شو ،

شیخ صیب له هغو کسانو څخه و ، چې تر ورستیو کسانو پورې په تمکین کې پاتې و، وروسته بیا په ډیرو سختو حالاتو کې د مرکزي مشرانو په امر د څو ملګرو په ملتیا ټوپک او ګردنۍ په غاړه په قاچاقي لارو د ښاري مجاهدینو په لارښونه او همکارۍ حرکت وکړ ، د شیخ صیب ددې سفر یو ملګری کېسه کوي چې کله له تمکین څخه په یوه قاچاقي لاره راووتلو ، نو هره شېبه مو د نیولو او مرتدینو سره د جنګ خطر و ، شیخ د کلاشن قید ښکته کړی و ، دانه یې تیره کړې وه او د ټولو د مخه روان و ، توره شپه وه ، په راوتلو کې په یوه لوړه غونډۍ ودرید شاته یې تمکین ته وکتل او په زوره ، زوره یې وژړل ویې ویل : چې دلته مو د الله نظام حاکم کړی و ، ډیر د عزت ژوند مو درلود ، رب دې بیا موږ ته داسې معزز ژوند راکړي .

په ټوله لار سخت خفه او اندیښمن و ، هغه مهال خلیفه المسلمین ابوبکر بغداي تقبله الله هم تازه د کفارو د یوې چاپې په لړ کې استشهادي برید کړی و ، نوشیخ صیب ویل چې د خلیفه المسلمین شهادت ، د تمکین سقوط او د مهاجرینو دا بد حالات مې ژړوي ، خو له خپل رب څخه نا امیده نه یم موږ د الله په دین معامله ونه کړه ، او الله عزوجل به بیا موږ ته د تمکین عزتمند ژوند راپه برخه کوي ان شاء الله .

په لاره کې یو مشر ملګری

راڅخه پاتې شوی و ، ډېر وروسته پرې پوهه شو چې يو ملګری مو په تياره کې د لارې په غونډيو او شيلو کې ورک کړی دی ، نو بل چا دا همت ونه کړ چې پسې ستون شي او ملګری ولټوي ، خو شيخ صيب چې سخت ستړی هم و ، موږ ته يې د دمې وويل او خپله ورپسې شاته په چابکۍ ستون شو ، ډېر ځنډ وروسته يې ورک شوی ملګری لاس نيولې راورساوه ، شيخ صيب د ملګرو په مشوره لومړی ننګرهار ته او بيا کابل ته منتقل شو ، په هغه سختو حالاتو کې يې هم د راوتليو ملګرو د ځای په ځای خوندي کولو ، غم کاوه او نور کارونه يې په ډېرو سختو حالاتو کې ترسره کول ، د تمکين د سقوط په اوومه مياشت د کفارو او مرتدينو د ډېرو هڅو څخه بعد د شيخ صيب کور په نښه شو او بالاخره د داخلي او خارجي کفري قوتونو سره د رمضان المبارک په اولسمه نېټه پرې چاپه ووهل شوه او دشپې په اخره حصه کې باګرام زندان ته انتقال شو

چې په دغه وخت کې د شيخ صيب د کورني ټول افراد د اتيا کلن پلار شمول د باګرام په وحشتناک زندان کې بنديان وو ، شيخ صيب د باګرام په وړوکي يو نفري تشناب کې پنځه مياشتې په سختومشکلاتو او تکليفونو کې تېرې کړې، چې ددغه دردونو او تکليفونو د بيانولو څخه به يې ډډه کوله . په زندان کې يې د محقيقينو په وړاندې هيڅ ذلت ونه مانه ، د خپل دريځ څخه يوه لحظه نه وروسته کيده اګر که هغوی ترې دا مطالبه هم کړې وه چې ته يواځې په يو ويډيوي کليپ کې دا ووايه : زه د صلحې د پروسې سره يو ځای شوم نو تاته به کور، ساتونکي اومياشتني معاش حواله شي ، خو شيخ صيب سره د سختو فشارونو د دوی يوه غوښتنه هم ونه منله ، د پنځو مياشتو څخه بعد د کابل امنيت ملي رياست ته انتقال شو چې عام بنديان په پنځلس ورځو کې انتقاليږي خو شيخ صيب په پنځو مياشتو کې انتقال شو.

په رياست چهل کې بيا په انفرادي کوټه کې بندي و ، چې د خبر ورکولو لپاره ورسره دويم کس ته اجازه نه وه په دې وخت کې شيخ صيب د قران کريم په حفظ شروع وکړه او د الله تعالی په خاص فضل يې په شپږ شپيتو ورځو کې ټول قران کريم حفظ کړ او يوه مقاله يې وليکله چې په هغه مقاله کې شيخ صيب تقبله الله خپل وصيت ، د خلافت حقانيت او د جمهوريت کفر يې پکې په دلائلو سره روښانه کړي وو، د امنيت ملي رئيس د رياست چهل مدير، معاوين او نورو لوړ پوړو مرتدينو د شيخ صيب په ذهانت اعتراف کاوه او همدا يې ويل چې يو کال په يوه کوټه کې وخت تيرولو پرې هيڅ تاثير نه دی کړی د کتابونو او د امکاناتو په نه شتون کې يې په يوه کوټه کې له خپل ذهن څخه دوه ويشت ورقې ليکل کړي دي او د شيخ صيب خبرې يې حق هم ګڼلې ، خو الله عزوجل له هدايت څخه محروم کړي وو.

شيخ صيب تقبله الله ورته ويل دغه ليکل ستاسې د محکمې قاضيانو او ټولو درباري ملايانو ته ورسوئ ،يا دې ومني او يادې ځواب وليکي خو د هغوی سره هيڅ ځواب نه و.

د زندان په ټولو شپو او ورځو کې يې ايماني او جهادي جذبه ښه پياوړې وه ويښته يې هماغه شان په سنت طريقه برابر پريښي وو اګر چې هلته بنديانو ته د ويښتانو دپريښودو اجازه نه وه هيڅ کارمند دا جرأت نه شو کولای، چې د نورو بنديانو په څير ده څخه هم ويښتان کم کړي ، په کارمندانو باندې يې هيڅ پروا نه درلودله.

په هره خبره کې به يې ښه زرور ځواب ورکاوه په ډېرو ځايونو کې يې د کارمندانو د وهلو هڅې هم کړې وې، د زندان په سختو حالاتو کې بيا هم په خپل مسير کلک ولاړ و او د دعوت لار يې نه پريښودله تردې چې اودس لپاره به راووته هم خدمتګارانو ته به يې دعوت کاوه د اوداسه په ځای کې يې د ډېرو خلکو څخه د خلافت سره د وفادارۍ او د دين د خدمت کلک بيعتونه اخستي و ، د بندي کيدو

څخه شپاړس مياشتې وروسته يې اوله محکمه کيده هلته يې قاضيانو او څارنوالانو ته ډېرې کلکې او حيرانونکې خبرې وکړې چې هغوئ يې ټول بې جوابه او په تعجب کې واچول وکيل مدافع يې هم د دفاع کولو څخه عاجز و، په اخره کې ورته قاضيانو له ډېرې غصې او عداوت څخه اته سوه کاله قيد، پنځه ويشت ميلونه افغانۍ نغدي جريمه اود اعدام حکم واوروه، کله چې ورته حکم واورول شو ، خندل يې او د هيڅ قسم خفګان اثر پرې نه ښکاره کيدل.

د زندان يو ملګری يې کيسه کوي وايي : کله چې له تمکينه راکيوتلو نو سره بيل شو ، د شيخ صيب ليدو ته به مې ډېره تلوسه وه ، خو دلته حالات نهايت سخت شو او د ملاقاتونو ترتيب بيخي نه کيده ، اخر په همدې حال کې زه بندي شوم ، کله چې بګرام ته راوستل شوم ،نو دلته راته مرتدو محقيقينو د شيخ رحمه الله عکسونه راوښودل ،چې دا مو هم اسير کړی دی ، دشيخ صيب په نيولو سخت وردريدم ، خو دا تمه راته پيدا شوه چې ګونډې دلته يې چرته ووينم ، که څه هم دا سخته مرحله وه ، سترګې به مو ترلې وې ، غوږونه به مو هم بند و ، لاسونه او پښې به مو هم کلک زنځير او زولانه و، يوه ورځ د تحقيق له کوټې رابهر شوم ، سر مې همداسې نيغ نيولې و او په ډېر کوشش مې د سترګو له کونجونو څوا او شا څارله چې کټل مخامخ په چوکۍ مې يو کس وکتلو ، سترګی يې پلستر دي، لاسونه او پښې يې ولچک او زولانه دي، ما چې وکتلو نو د لاسونو څخه مې وپيژنده او شک مې پرې راغې چې دا به شيخ صيب وي، اذکارو ته يې ګوته قط کړې وه ، ابهامه ګوته يې بنصر ګوته د پاسه ايخی وه،د شيخ په اذکارو کې دا عدت راته معلوم و، زه چې ور وړاندې شوم،نو له سترګو مې پناه شو، خو دومره وپوهيدم چې له ماسره يې سم د يو نفري تعذيبي ،پنجرو طرف چې مونږ هلته اوسيدو راروان کړی دی ، اوس حيران يم ، چې په څه طريقه ورسره خبرې وکړم ،چې لږ خو يې دا خو اواز يې واورم، خو فکرمې شو چې همدغه وخت په اذکارو کې خپل غږ لږ لوړ کړ، زه يقيني شوم چې په څاني شيخ رحمه الله دی ، بيا مرتد عسکر له ما څخه زما د پنجرې د نمبر پوښتنه وکړه شيخ رحمه الله ډېر هوښيار او ذهين انسان و ، چالاکي يې وکړه ، په لوړ غږ يې زما په ځای ځواب ورکړ او د خپلې پنجرې نمبر يې ورته ووايه ، دې سره دغه لعين مرتد هغه ته وويل له تا خو مې پوښتنه نه ده

کړي ، ته ولې خپل نمبر راته وايي،خو شيخ يې پروا ونه کړه او خپل اذکار يې جاري وساتل ، پوهه شوم چې ماسره په نيږدې درېمه پنجره کې دی ،له دې وروسته لکه زه چې مخکې اوده وم، داسې احساس مې وکړ ، د قران تلاوت مې واوريده، چې شيخ رحمه الله يې کوي ، دا تلاوت به ما مخکې هم اوريده، چې د شپې تر اکثرې حصې به لوستل کيده، خو دا فکر مې نه و، چې دا شيخ دی ، او سم په درست شکل مې نه اوريده چې له غږه يې وپيژنم، پس له دې ورته متوجه شوم ، او دا خوږ اواز به مې تل اوريده، يوه ورځ عجيب ترتيب الله برابر کړ ، چې زه د همدې ورځې په انتظار وم، په افتابۍ کې سره يو ځآی برابر شو، مرتدينو به د لسو دقيقو لپاره لمر ته راويستلو ، نو کله يې چې زه جال ته په لمر کې گرځيدو لپاره راوويستم ، نو په بل طرف کې يو بل چال کې يې زموږ نور ورونه بنديان په همدې هدف راويستلي و د هغې جال پرده لږه څيرې شوې وه ، زما نظر په شيخ رحمه الله ولگيده،نهايت خوشاله شوم ، هغه هم زه وکتلم ، مرتدينو به بل طرف د کتلو او خبرو اجازه نه راکوله ، خو ما شيخ سره په عربي خبرې شروع کړې ، مرتدينو دا گمان وکړ چې يا تلاوت کوي او يا هم اذکار کوي، شيخ صيب تقبله الله ډير زيات په صبر او استقامت کې و ، ډير ډاډ يې راکړ په لږ وخت کې يې راته ډيرې خوږې خبرې وکړې ، بيا ما په عربي کې دعاوې غوښتې او هغه به پرې امين وايه ،ما ورته په منډه خپل هغه عربي نظم هم ترنم کړ، چې د زندان په حالاتو مې ليکلې و ، شيخ صيب يې په اوريدو ډير داد راکړ ، څنگه چې نظم ختم شو نو زموږ د افتابۍ وخت هم پوره شو مرتد راغی سترگې يې راوترلې او بيرته يې خپلو قفسونو ته روان کړو .

. په رياست چهل کې چې کله و ، شيخ صيب به دغه يوې خبرې ډير زوراوه چې کله به يې د لړې ملکونو مسافر مهاجر ماشومان او د هغوی ميندې او پلرونه به يې په بند کې ليدل ، چې د هغوی د هيڅ قسم حقوقو خيال به نه ساتل کيده او ډير ظلم به ورسره کيده ، دې خبرې به شيخ صيب ته ډير تکليف ورکاوه چې د دريم منزل څخه به ماشومانو په کړکيو کې سر راښکاره کاوه او د خپلو پلرونو د ليدو تږې به وو او ځينو خويندو به هم د خپلو خاوندانو د ليدلو لپاره په جال کې کتل ،يا به زوی او پلار په يو ميدان کې لمر ته گرځيدل ، خو يو بل سره به د نږدې کيدو او د خبرو اجازه نه ورکول کيده، له همدې امله به هغه ويل چې زما ستر ارمان د ځان ازادي نه ، بلکې ددغه مهاجرو خويندو او ماشومانو ازادي ده ،

اخر يې هم الله عزوجل دا ارمان پوره کړ ، همداسې وشول، کله چې زندان ماتيده ، په خپل لاس يې د خويندو او ماشومانو د زندان پنجرې ماتې کړې ، ماشومان ډلې، ډلې روان وو له زندان څخه وتل ، هغه ليدل او يو يو يې په نوم پيژانده ، هر يو ته بيله ،بيله مبارکي ورکوله او تر هغې يې ورته کتل چې له سترگو څخه به يې پنا شول د شکر سجده يې وکړه ، دغه وخت يې له خوشحالۍ څخه په زوره ، زوره وژړل او ويل يې : الحمد لله ټول ارمانونه مې پوره شول فقط يو ارمان مې پاتې دی او د الله تعالی څخه اميد دی، چې دا ارمان به مې هم زر راپوره کړي ، چې هغه قبول شهادت دی، اخره کې يې د زندان دروازې ماتې کړې ، د خويندو د دهليز دروازې يې په خپلو لاسونو خلاصې کړې ، د ازادۍ خوښي يې وليده، د خپلو ملگرو سره غاړه غړې شو ، په بهر دهليز کې يې د شکر سجدې وکړې، د ټولو مجاهدينو له سترگو څخه د خوښۍ اوښکې بهيدلې خو دا د خوښۍ شيبې ډيرې لږې وې، د اخرې دروازې څخه د راوتلو په حال کې د مرتد ملي امنيت د کارمندانو له لوري په ډيره بې رحمۍ ډزې وشوې چې ځينې ملگرې شهيدان شول او ځينې زخميان شول ، شيخ تقبله الله هم په دغه ډزو کې ولگيد ، اول زخمي و ، ټپونه يې ژور و ، دوه ساعته وروسته يې د شهادت کلمه وويله او د حق داعي ته

يې لبيک وو ايه ،دا ستری مسافر چې د خپل لوړ هدف په لار کې ډيرې سختې ستړياوې او ستونزې گاللې وې د زندان څخه د راوتلو په حال کې په ابدي خوب دمه شو تقبله الله .

هو!

د ثبات غر ، زموږ شيخ ابو عمر اخر هم راونړيد ، تر اخره په خپل مسير مظبوط پاتې شو ،په خپلو وينو يې د خپل تاريخ ځلانده بابونه وليکل او په خپلو وينو يې داسې مشالونه او ډيوې روښانه کړې چې راتلونکې نسلونو ته به ددې تيارو لارو په هر گوټ پير کې بليږي او دوی به پرې پرمخ درومي .

لکه څنگه مې چې مخکې يادونه وکړه ، د شيخ تقبله الله په اړه په سلگونو ملگرو سره بيلا ، بيلې خوږې خاطرې شته چې د ټولو راټولول به پوره کتابونه ونيسي ، شيخ صيب سره گنو مجاهدينو له ځانه ډيره مينه کوله راځئ ! د شيخ صيب ابو عمر تقبله الله په اړه ، ددغه سلگونو مجاهدينو له ډلې د دوه تنه مجاهدينو ورونو خاطرې بغير له کومه

تغیره په تاسې ولولم :

شیخ ابو عمر رحمه الله سره ملاقات.

خراسان ته د هجرت پر دوهمه ورځ د شیخ ابو عمر تقبله الله د حجرې پر طرف روان شوم ، دوه ورځې وروسته مو د تربیت دوره شروع کیده ، نو ددې وخت څخه مو همدا ګټه واخیسته چې د ملګرو او مشرانو ملاقاتونه مې پکې وکړل ،دې وخت کې د شیخ ابو عمر رحمه الله کور په مامند سنزلی بازار کې و ، حجرې ته د ورننوتلو سره ګورم چې سعد امارتي رحمه الله هم پر کټ ناست دی، ملاقات مو نور هم خوندور شو د شیخ صاحب سره په یو کټ کیناستم ، ډیر خوشحاله و او په خایسته او خندیدونکي لهجه یې راته د نظام په اړه هم تسلي راکړه شیخ ابوعمر رحمه الله په دغه وخت کې د خراسان د دیوان التعلیم مسئول و ، خو رب پکې ډیر ښایسته صفات اچولي و ، په نظام او اداره پوهه و، په عربیت کې الله عزوجل خاص مهارت ورکړی ، د د ښمنانو پر ورانډې رب لویه سینه ورکړې وه د علمیت ترڅنګ یې ورین تندی ،خندا ، او د کشرانو سره په مینه خبرې کول هغه څه و چې د ملګرو زړونه به یې اخیستل ، په وروستي وختونو کې چې کله د هغه د شهادت څخه خبر شوم ، چې شیخ رحمه الله هم له دنیا سفر کړی او د زندان څخه د راوتلو په حال کې په ډیره بې رحمۍ وحشي درنده ګانو په شهادت رسولی ، نو سخت وردیدم هغه وخت ،کیسې او خاطرې چې په پنځه کاله تمکین کې مو له شیخ سره تیرې کړې وې ، لکه د یو زړه ورونکي جهادي فلم د صحنو په څیر مې د خیال په پرده چالانې شوې او همغه وخت مې دا لاندې کرښې ولیکلې :

شیخ صاحب لاړې!

شیخ صاحب پوهیږم چې زیاتو مرجفینو ، په مختلفه نامه او جامه ټولو دښمنانو ستا په اړه رنګا رنګ خبرې کولې، تهمتونه، غیبتونه، او د ستا د بدنامی لپاره یې یوه څه هم نده پریښې ، خیر د دوی بې بنیاده تهمتونه ستا پر ورانډې ستا مقام نشي ښکته کولی ، ستا مقام د وخت خلیفه الشیخ ابوبکر بغدادي رحمه الله او د هغه مخلصو مجاهدینو پیژانده ستا اخلاقو، خندا، او صبر او تحلم، اود کمزورو ضعیفانو پوښتنه هغه څه و، چې پر مونږ یې بلا اثر کړی و.

پوهیږې! شیخ صاحب ډیرې خبرې مې په زندان کې په زړه کې ساتلې وې ، ډیرې کیسې راسره وې او ویل مې چې الله به یو وخت راولي دا تولې به درته کوم ، خو اوس نو چې څه درته لیکم ته راڅخه ډیر لرې تللی یې ، لګیا یم په خیال کې تاسره غږیږم ،

چې کومه عجیبه دې ولیکم شیخ صاحب !

دار الاسلام ته د داخلیدو وروسته رب اوائلو کې ستا پر ملاقات ونازولم دار الاسلام کې د پاتې کیدو سبب مې ستا هغه خبرې شوې چې یکې مو د خلافت نظام راته تشریح کړ

شیخ صاحب! هغه صحنه مې له یاده نه وځي چې زه یو کشر مجاهد وم خو د زخمي کیدلو وروسته زما پوښتنې ته راغلې ، د کټ په لنګه راسره کیناستې، زما د حال احوال پوښتنه دې وکړه کوشش مې کولو چې د بستر څخه درته راجیګ شم خو پرې دې نښودلم زه پوهیدم چې هغه وخت د خراسان د والي نائب وې ، وخت دې هم ډیر قیمتي و حالاتو هم دا تقاضا نکوله چې ته په اطمینان وګرځې ، مونږ هم ددې لائق نه و چې زمونږ پوښتنې ته راشې خو دا ستا عاجزي وه ، ستا نیک احساس اخلاص اوتقوی وه چې ته به یې د هر ملګري په در ګرځولې .

شیخ صاحب! اوس نو په ریښتیني دنیا یې هغه قیصه به دې وکړم چې والي وې او د عمر بن الخطاب رضی الله عنه د خلافت یاد دې راتازه کړ:

سهار لمونځ مې وکړ اذکار مې کول چې د کور د دویم منزل د لرګي ستن وټکول شوه، لوڅ سر رووتلم ګورم چې شیخ صیب دی ابو حمزه مولوی صاحب ورسره و، تعجب مې وکړ د هغې لارې څخه دویم چت ته داخل شوي و چې له بیرون څخه ورته دروازه لیږدلې وه .

شیخ صاحب مې راکوز کړ د چای څښلو وروسته مې برنډې ته راوویسته وې کتل چې لرګي او تبر پروت دی، هغه تبر ته لاس کړ اود لرګیو په ماتولو یې شروع وکړه هیڅ مې ضمیر نه منله چې زه ولاړ یم او شیخ رحمه الله لرګي ماتوي خو له ډیره ټینګاره وروسته یې هم پرې نښودلم چې تبر ترې واخلم تر دې چې لرګي یې راته مات کړل

شیخ صاحب ! هغه ورځ مې هم یاده ده چې ډیر خوشحاله وې او راته دې ویل چې کشری زوی باندې مې خلیفة المسلمین ابو بکر البغدادی رحمه الله نوم کیښود.

شیخ صاحب ! د معسکر څو شپې دې راسره هم نا اشنا وې اګر که دې وخت کی د دیوان تعلیم مسئول وې وړوکي سړی نه وې خو زمونږ سره د معسکر هغه کمزوری خوراک، کمزوري بستره او د خاورو ګردونو ډکه زندګي دی هغه څه و چې د نورو ډلو له مشرانو جلا و، شیخ صیب په خاطرو دې کتابونه ډکیږي خو اوس به همدومره بس وي

تقبلك الله یا شیخنا!

زه به د شیخ صیب په اړه دا لیکنه د شیخ صیب تقبله الله په اړه د یو بل مجاهد شیخ حفظه الله په دې خاطره پای ته ورسوم :

ذهاب الظلام ومجئ القمر بذكر سيرة الشيخ المجاهد أبي عمر تقبله الله

زه حیران یم چې د هغه تقبله الله په اړه له کوم ځایه لیکل پیل کړم ، له تقوا څخه یې بحث وکړم ، په صبر تحلم ، ایثار او شجاعت یې لیکنه درته وکړم ، په علمیت یې وغږیږم ، کومه برخه به یې راواخلم ؟

یقیناً هغه تقبله الله ته داسې اوصاف ورکړي و ، چې زه اوس هم دا ارمان لرم چې کاش الله سبحانه وتعالی دا صفتونه په ما کې هم پیدا کړي .

أحسبه كذلك والله حسيبه ولانزكي على الله احدا .

زما د هجرت شپې هغه وې چې تازه په شیخ عبدالحسیب تقبله الله باندې چاپه وهل شوې وه او د ګڼو مشرانو په شمول تر سلو پورې ښځې او ماشومان هم شهیدان شوې و ، زه له هجرته وروسته نیغ تاسیسي ته لاړم چې دا د اسلامي دولت معمول و ،چې هر کس به هجرت وکړ ،که به په هر موقف کې و نو لازمه وه چې لومړی د نظامي او فکري زده کړو لپاره معسکر ته لاړ شي ، له تاسیسي چې فارغ شوم ، نو په معسکراتو کې د شرعي دورې مسولیت راوسپارل شو ، هره ورځ به په ډیرو پټو لارو هغه معسکر ته تللم چې بیخي پټ او خوندي و او له مسولینو غیر هیچاته د ورتللو اجازه نه وه ، د نورو ادارو په څیر معسکرات هم د کفارو په اوله درجه ټارګیټ کې و ، له هرې دورې وروسته به مو ساحې بدلولې ، په دې برخه کې د زیاتو ستونزو سره لاس او ګریوان و ، یوه ورځ در سر ته روان وم ، په لاره کې مې له مجاهدینو واوریدل چې الحمد لله والي او نایب وټاکل شول ، د شیخ صیب عبدالحسیب تقبله الله څخه وروسته لا تر دې دمه والي نه و تعین شوی ، شیخ صیب ابو سعید تقبله الله د والي او شیخ ابو عمر تقبله الله د نایب په حیث ګمارل شوې و ، زه هم ډیر خوشاله شوم ، ددې دواړو د کارنامو او علمیت خبر وم خو لا مې ورسره ملاقات نه و شوې ، او معسکر ته چې ورسیدم نو استادان هم ډیر خوشاله و ، د دواړو په اړه یې ډیرې خوږې خبرې وکړې ، زه نور هم ډیر مطمین شوم ،او زړه کې مې د شیخ صیب دوی ملاقات ته ډیره تلوسه شوه ، خو هغه وخت مې داسې فکر کاوه چې والي او نایب به چرته مونږ سره ملاقات وکړي ، یا به دومره وخت ولري او یا به هم مونږ ته دومره توجو ولري ، په همدې ارمان مې ورځې شپې تیریدې .

یوه ورځ چې له درسه فارغ شوم نو د استادانو کوټې ته چې ننوتم په څو تنه میلمنو مې سترګې ولګیدې ، ټولو سره مو کلکې غیږې ورکړې یوه یې چې خبرې شروع کړې ومې پیژانده ،له غږه مې وپیژانده ، ځکه چې ما یې د خلافت غږ راډیو څخه ډیر بیانات اوریدلي و ، ورته مې وویل شیخ صیب یې؟

په خندا یې وویل : ابو عمر یم .
بیا مو وسره روغبړ وکړ ، د نیابت مبارکي مې ورکړه ، راته یې وویل : نصیحت راته وکړه او دعاوې راته وکړه ، دا مو لومړی مختصر شان ملاقات و، په همدې لومړي ملاقات کې د شیخ صیب عاجزۍ او خوږوالي سخت متاثره کړم ، کله چې توره ، بوره او وزیرو تنګی فتحه شول ، نو موږ ته سره له کورنیو همغه طرفونو ته د تللو امر وشو ، موږ هم لاړو او ابراهیم نومې یوه سیمه کې مو واړول ، یوه ورځ ماذیګر کور کې د لرګو په ماتولو بوخت وم ، چې بهر د یو ملګري غږ وکړ، تبر مې ګذار کړ ورووتلم ، یو مجاهد ملګری و ، ویل یې : شیخ صیب ابو عمر راغلی او غواړي دلته ستا څنګ ته راشي ، ورته مې کړه : هله شابه ، زر یې راوله له دې بله د خوښۍ خبره چرته ده، لږه شیبه وروسته مې چې کتلو یک ټوپک او درنه چانټه په غاړه په سخت پیچومي داسې نیغ راوخوت ، کور ته مې داخل کړل ، د ماښام جمعه مو شیخ صیب پسې وکړه ، په ډیر خواږه قرآت یې د ماښآم لمونځ راکړ ،چې کله اذکار وغیره وشول نو بیا مو لږ علمي بحث وکړ ، نو یقیني راته ثابته شوه ،چې شیخ صیب الله متعال د قران او حدیث سره ، سره د استنباط د ملکې نه هم برخه مند ګرزولی وو، د قوي حافظی او راسخ علم خاوند و، کوشش یې هم داوه چې استنباط د قران نه بعد د صحیح حدیث نه وکړي، د اسلامي خلافت د منهج او اصولو سخت پابند و، په یوه مسله کې مې ورسره اوږد بحث وکړ او وروسته یې په دلایلو قانع کړم ، او په دې پوهه شوم چې په کومه مسله کې چې مې بحث کاوه په دې اړه ، یقینا اسلامي خلافت ډیر پراخه او وسیع فکر او د افراط او تفریط نه منزه عقیده ، نهج او دریځ لري، د شیخ تقبله الله سره دغه له نیږدې څخه دا خوندور ملاقات د شپې تر ډیر ناوخته پورې وغزیده، فکر می وکړ سهار مونځ ته به په مشکله پاڅیږي، خو چې کله مو د خوب د پاره خپلو بسترونو کی اړخونه ولګول نو لږه وخت وروسته ګورم چې شیخ تهجدو ته راپاڅیده ، اذان یې وکړ، بیا یې تر سهره ته تهجد تلاوت او اذکار کول ، له دې وروسته مو بیا ورسره تکراري ملاقاتونه کیدل ، دده په مجلس کې موږ د چا غیبت وانه وریده او نه هم کومه غیر شرعي خبره مو ترې اوریده ، تل به یېبې ژبه په اذکارو لمده او خوځنده وه ، د قران تلاوت یې معمول و، د اول النهار مونځ یې نه پریښوده، شیخ صیب ابو عمر تقبله الله ته د یو علمي خزانې او کتابتون حیثیت درلود، په هره برخه کې یې ډیر مجاهدین وروزل ، الله عزوجل دې قبول کړي .

ربه شرونو نه
نجات غواړمه

ربه شرونو نه نجات غواړمه
دا مشرکان درنه میرات غواړمه
د وطنیت او تنظیمونو بوتان
داسې نسکور لکه منات غواړمه
د آی اس آی او امریکا مزدوران
ذره ذره تس نس کسات غواړمه
دینار درهم او ډالر څوک درکوي
د دې پوښتنو جوابات غواړمه
ربه ته رب او زه بنده یمه ستا
ربه له تا نه خپل حاجات غواړمه
حیا, ایمان, تقوا, خشوع, سخاوت
د مؤمنانو ټول صفات غواړمه
په شهادت چې حاصلیږي چاته
د جنت هاغه درجات غواړمه
تالب رسمیت د امریکا نه غواړي
زه مددونه د لوی ذات غواړمه

په هر گوزار دې برکت شه غازي
په هر گوزار دې کفر مات غواړمه
په‌توجو،اخلاص،خشوع،خلوت‌کې
د الرحمان رب مناجات غواړمه
د لوړې تیږې ترم خښتې پورې
په مضبوط عزم فتوحات غواړمه
ربه قیام د خلافت لپاره
استقامت صبر ثبات غواړمه
ټوپک چانټه جګه مورچه او تمکین
هر موحد ته دا سوغات غواړمه
تور بیرغ دنګ ټوله نړۍ کې رپاند
سعید (ځارګر) داسې حالات غواړمه

د سیرت درسونو ته پوځي کتنه !

٦

په مدينه کې د قوت او ټينګښت وروسته

د مکې کفارو درک کړه چې هر څه مو له لاسه وتلي دي، دا داسې کار و چې مخکې يې سارى نه درلود، د دغه پوځي ترون په پايله کې د دوى مخ ته يو حقيقي خطر پيدا شو چې د دوى واکمنۍ ته يې ګواښ جوړاوه، د مکې خلک د خزرجيانو او اوسيانو له زور او قوت څخه خبر وو او په دې هم پوهېدل چې د دغو دواړو قبيلو ترمنځ چې کوم جنګونه وو، ژر ده چې هغه هم د نبي صلى الله عليه وسلم په دعوت سره ختم شي، ځکه هغه دې ته تيزي ورکوي چې د مسلمان وينه بايد محفوظ شي، وروروليۍ او د کينو شاته غورځولو ته دعوت کوي، دا هغه کار و که چيرې برياله شي نو د مکې سياسي او پوځي واکمني به لمنځه ولاړه شي.

د قريشو غونډې شروع شوې، زيات بحثونه کېدل، تر څو ژر قدمونه پورته کړي، د غونډو د دغه تاوده بهير سره سره يثرب ورځ تر بلې په يوه مضبوطه قرارګاه بدلېده، داسې قرارګاه چې دعوت به ترې خپرېږي، له همدې وجې د لوړې رهبرۍ نه چې نبي صلى الله عليه وسلم و، دا فرمان صحابه وو ته راغى چې ځانونه يثرب ته ورسوئ.

صحابه وو هم هجرت کې بيړه وکړه، د دوى هجرت په بېلابېلو ډولونو و، ځينو يې يوازې هجرت کاوه او ځينې بيا وړې وړې ډلګۍ وې او هجرت يې تر سره کاوه، چې دا د يو حکيمې سياست پلان و، تر څو د قريشو سترګې ړندې وي او د هجرت هدف ښکاره نه شي، بل لور ته د قريشو استخبارات هم ويده نه وو، دا کار افشاء شو او خبره ښکاره شوه چې يثرب ته د مسلمانانو هجرت په دوامدار شکل شروع دى، قريشو ژر له هجرت څخه د مسلمانانو د منع کولو کوښښ وکړ، خو ټولې هلې ځلې يې ناکامې وې، دوى ونه توانېدل چې مسلمانان له هجرت څخه بند کړي، مګر ځينې مستضعفين، کمزوري او بېوسه خلک يې ايسار کړل، نورو مسلمانانو هجرتونه وکړل خو څوک ونه توانېدل چې مخه يې ونيسي، د دغه کسانو له ډلې څخه:

عمر بن الخطاب
زبير بن العوام
مصعب بن عمير
عثمان بن عفان
او نور ګڼ صحابه وو...

قريشو ١٣ کاله د نبي صلى الله عليه وسلم د دعوت په خلاف مقابله وکړه، بېلا بېلې وسيلې يې وکارولې، رسنيزه جګړه، تنګسيا، ګواښل، پرېکون، اقتصادي کلابندي، کمزورو، بېوسو او مستضعفينو ته شکنجه ورکول او د هغوى بنديانول، خو د دې ټولو وسيلو مقابله په ثبات، د الله په نصرت يقين او د ډالۍ او ورکړې په نږديوالي باور سره کېده، د دې ټولو آزموينو او د دغو ټولو لارو او وسيلو د استعمال سره سره بيا هم خبره تر قتل او وژنې نه وه رسېدلې، د نبي صلى الله عليه وسلم د دعوت له شروع څخه تر اوسه پورې د داسې يوې خطرناکې غونډې لپاره آمادګي نيسي چې د نبي صلى الله عليه وسلم د وژلو پرېکړه په کې کېږي، د څو قبيلو ځوانان راټول شول او په نبي صلى الله عليه وسلم يې چاپه ووهله، مګر الله د خپل نبي ساتونکى و، هغه يې وساته، نبي صلى الله عليه وسلم د ابوبکر الصديق رضي الله عنه سره يوځاى د هجرت په نيت د مکې څخه ووتل.

الله تعالى فرمايي: {وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللَّهُ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ}

ژباړه: هغه وخت (هم د يادونې وړ دى) چې د حق منکرانو ستا پر خلاف دسيسې جوړولې چې بندي دې کړي، يا دې ووژني يا دې له وطنه وشړي. هغوى خپل تدبيرونه په کار اچول او الله خپل تدبير کاوه. او الله تر ټولو ډېر ښه تدبير کوونکى دى.

نبي صلى الله عليه وسلم له اوږده سفر وروسته وتوانېد مدينې ته ورسېږي، سره د دې چې کفارو يې د ايسارولو ډېرې هڅې وکړې، د يثرب خلک به د ډېر شوق له وجې د مدينې په دروازو کې ودريدل او د نبي صلى الله عليه وسلم د ورتګ انتظار به يې کاوه، يوه ورځ چې ورسېد لومړى يو يهودي ولېد نو چيغې يې کړې:

- اى د قيله ځامنو (انصارو) ملګرى مو راغى او په بل روايت کې چې دادى (نيکه) مو! مدينې ته چې دا خبر ورسېد، ګڼه ګوڼه شوه او د باد په څېر خلک تيز را روان و، تر څو د بشريت د نجات ورکونکي صلى الله عليه وسلم استقبال وکړي، لومړى نبي صلى الله عليه وسلم په قباء کې پړاو واړوه

چې دا د بني عمرو بن عوف انصاري له کورونو څخه و.
دلته نبي عليه السلام څلور ورځې تيرې کړې، وروسته بيا د مدينې زړه ته ننوت، خو په دغو لږو ورځو کې يې د مسجد قباء بنياد کېښود، هغه مسجد چې قرآن کې ورته ويل شوي چې بنياد يې په تقوی سره ايښودل شوی دی.
وروسته نبي عليه السلام د مدينې زړه ته ولاړ، د مدينې ټول خلک، يهود او مشرکين ټول دغې نوي ژوند ته ګوري چې د دوی ښار ته راغلی دی او دې ته هم ګوري چې اوس او خزرج يې يوځای کړي دي.
دا شيبې د تلې په څېر وې چې تاريخ پکې د يو نوي مخ په لور ور کوږ شو، مدينه په دغه وخت کې د اسلام د امن کور او د توحيد غښتلی روزنتون وګرځېد، چې قريشو ورته زر حسابونه نيولي وو. نبي عليه الصلوة والسلام د رسېدو سره سم لومړی په هغه مسأله کار شروع کړ چې ډېر ارزښت يې درلود، او هغه د ټولنې د جوړښت لپاره فکر کول دي او لکه څنګه چې الله د دغې ټولنې د ودرولو اراده کړې وه، په دغه وخت کې ځينې مشکلات هم و چې نبي صلی الله عليه وسلم پرې بايد برلاسی شوی وی
مثلا:
١ - د يثرب د قبيلو (اوس او خزرج) تر منځ دښمني او نفرت، چې ورسره کورنی ويجاړونکې جګړې هم ملې وې.
٢ - د مهاجرينو مشکلات، ځکه هغوی مال، ځمکه او هر څه په مکه کې پرېښي و، د دې لپاره چې دين يې محفوظ شي مدينې ته راوتښتېدل، ډېر فقيران و هيڅ يې نه درلودل او شمېر يې هم لږ نه و.
٣ - په سيمه کې د يهودو موجوده عناصر، کومو چې په ټولنه کې سياسي، اقتصادي او پوځي وزن درلود، او ضرور وه چې په دې وقت کې د دوی له شر څخه هم ځان وساتل شي.
مګر د دې مشکلاتو د حل څخه وړاندې د اسلامي ټولنې د جوړښت لومړی قدم د مسجد نبوي جوړول و، تر څو د دې نوي دين شعائر په کې ښکاره شي، دا يو پوهنتون وي چې مسلمانان پکې اسلامي زده کړې او لارښوونې ترلاسه کړي او د قبيلو هغه خلک چې جنګونو له يو بل څخه لرې کړي و، په دې کې سره وګوري، دا مسجد هم جوړ شو.
نبي صلی الله عليه وسلم د مسجد په جوړولو کې خپله برخه واخيسته، صحابه وو به چې نبي صلی الله عليه وسلم ولېد چې په اوږو يې خاورې را بار کړې دي نو د هغوی فعاليت به نور هم تيز شو ځکه چې دوی محمد نبي صلی الله عليه وسلم ولېد چې ځانته پر دوی امتياز نه ورکوي او د صحابه وو سره په ګډه کار کوي، يو به د ملګرو د تيزۍ لپاره ويل:
که چيرې مونږ کېنو او رسول کار کوي..... نو دا خو به بيا زمونږ د ګمراهی او بې لارۍ عمل وي.
د مسجد له جوړيدو وروسته، کوم کې چې نبي عليه السلام د دنيا زورورو ته يو مثال پرېښود، نبي صلی الله عليه وسلم دا خطبه ورکړه: امام بيهقي د عبدالرحمن بن عوف څخه روايت کړی دی:
" أما بعد: ای خلکو د ځانونو لپاره څه شی وړاندې کړئ، تاسې ته پته ده چې ستاسې هر يو تن به مری، ګډې بزې به ترې پاتې وي شپونکی به هم نه لري، بيا به ورته رب ووايي -منځ کې به ژباړن نه وي، او نه به کومه پرده وي چې له هغه يې پټ کړي-: آيا تاته زما رسول نه و درغلی او پيغام يې نه و در رسولی؟ آيا مال مې نه و درکړی او غوره مې نه وې ګرځولی؟ ځان لپاره دې څه کړي دي؟
دا کس به ښي او چپ طرف ته وګوري، بيا به وګوري خو له جهنم پرته به هيڅ څيز ورته ښکاره نه شي، نو که څوک وس لري چې ځان د جهنم له اوره وساتي، اګر د کجورې په يوه ټوکړه وي، نو دا کار دې وکړي، که چا دا هم مونده نه کړه نو په ښه خبره دې ځان وژغوري، ځکه يوه نيکي له لسو چندو ونيسه تر اوه سوه چندو پورې حسابيږي والسلام عليکم.
جريان لري...

د لښکرو احصائيې

خراسان ولايت د ذوالحجې د مياشتې د بريدونو پايلې

1443 هـ

ټوليز عمليات : 22

ټوليزه مرګ ژوبله : 60

کاتيوشا توغنديو بريد	انغماسي بريد	غلچکي بريدونه	بريدونه	ماين چاودنې
01	01	06	06	08

د بريدونو ځايونه

کابل
لوګر
کندز
کونړ
بلخ
پيښور
باجوړ
سالارزي
خيبر پښتونخوا
وزيرستان (واڼا)

47 طالب مليشې

جاسوس

02

04 روافض

حکومتي قومي مشر

01

06 پاکستاني پوليس او آفسران

ويجاړ او زيانمن شوي موټرونه

05

خراسان د مرتدینو مقبره

په خراسان ولایت کې د اسلامي دولت د مجاهدینو د یوې میاشتې د عملیاتو بشپړ راپور

د (1443 هـ کال د ذوالحجې له 1 - 29 پورې)

د تېر په څېر د اسلامي دولت جنګیالیو په دې میاشت کې هم د مرتدو طالب ملېشو، روافضو، پاکستاني پولیسو، د حکومت ملاتړي قبائلي مشرانو او د آی ایس آی نجسو کارمندانو په خلاف ۲۲ بېلابېل ډوله عملیات کړل، په یادو عملیاتو کې په ټولیز ډول ٦٠ تنو مرګ ژوبله واوښته او ٥ موټرونه هم ویجاړ او زیانمن شول.

د تېرې میاشتې شروع په یوه اتلوال انغماسي برید سره وشوه، چې د کابل په زړه کې یې درباري مولیان په منډو کړل.

د یادونې وړ ده چې مرتدو طالب ملېشو د خپل کفري نظام د اثبات او دې ته د شرعي حیثیت ورکولو لپاره د درباري مولیانو یوه غونډه رابللې وه، په غونډه کې تر ډېره هغه مولیان یې چې په تېر کې یې د جمهوریت په ملاتړ فتواوې ورکولې او هغه یې شرعي او اسلامي نظام باله، خو نن بیا کفري سلامي امارت ته د جواز فتوې ورکوې او دا یو شرعي نظام بولي.

په یاده غونډه د دریو تنو انغماسي ورونو هر یو (خیرالدین بدخشي، ابوعمر پشاوري او ابوعلي خراساني) -تقبلهم الله- له لوري د پیکا، راکټ او کلاشنکوف برید پیل شو، سخته جګړه ونښته او نښتې نږدې دوه دوه نیم ساعته دوام وکړ، چې د سپکو او درنو وسلو د کاروونې تر څنګ طالب ملېشې مجبورې شوې چې د برید د مهار کولو الوتکې راوغواړي او یاد پرې مهار کړي، یاد برید د لسګونه مرتدینو په مرګ ژوبلې او د درې واړو انغماسي ورونو په شهادت پای ته ورسېد، خو پر سبا یو ځل بیا د اسلامي دولت د مجاهدینو د توپچي ډلګیو د کاتیوشا په شپږو توغندیو سره د درباریانو یاده غونډه هدف وګرځوله چې پکې ګڼ شمېر مرتدینو ته مرګ ژوبله واوښته.

همدارنګه په کونړ، کندز، کابل کې د ماین ګڼې چاودنې وشوې چې د ګڼو مرتدو طالب ملېشو د مرګ ژوبلې تر څنګ یې د هغوی موټرونه هم د اور خوراک کړل.

په یو بل اتلوال برید کې بیا ښاري شازلمیو د لوګر په مرکز (پل عالم) کې د څلورو روافضو بدنونه د کلاشنکوف په مرمیو غلبیل کړل.

په هرات کې اتلوال برید

د تېرې میاشتې په جریان کې د هرات برید هم یو له اتلوالو بریدونو څخه و.

دوه تنو انغماسي زمریو په ورته مهال د هرات په حال کې د مرتدو طالب ملېشو لېږدونکي دوه بس موټرونه د کلاشنکوف او لاسي ماینونو په واسطه تر برید لاندې ونیول.

یادو غبرګو اتلانو په بسونو کې په ناستو طالب ملېشو د کلاشنکوف ګڼې ضربې وکړې او بیا یې بسونو ته لاسي ماینونه ور واچول چې باقي پاتې ټپي کسان د لاسي ماینونو په واسطه د مرګ کندې ته ټیل وهل.

په بسونو کې د ناستو مرتدو طالب ملېشو د وژلو او ټپیانولو وروسته یو تن انغماسي برید ګر روغ رمټ له سیمې ووت او بل تن د ملېشو له بلې ګزمې سره په جګړه کې ښکېل شو، چې د ښه شیبه جګړې کولو وروسته د شهادت لوړ مقام ته ورسېد، تقبله الله.

طالـب ویندویانـو ډیـره هڅـه وکـړه چـې د یـاد بریـد رنـگ کمرنگـه وښـایي؛ خـو بریـد دومـره پـه لـوړ معیـار پـلان شـوی و، چـې د مرتـدو طالـب ویندویانـو د بریـد د کمرنگـه ښـکاره کولـو ټولـې هڅـې بـې ځایـه وې او نـه یـې شـو کـولای چـې پـه بریـد کـې لـه اوښـتې مـرگ ژوبلـې منکـر شي.

د یادونـې وړ ده چـې یـاد بریـد دوسـت او دوښـمن دواړه حیـران کـړل، ځکـه د هـرات ښـار پـه زړه کـې بریـد کـول او بیـا داسـې پـلان شـوی بریـد چـې پـه ورتـه مهـال د ملېشـو دوه لیږدونکـي بسـونه هـدف گرځـول کېـږي.

همدارنگـه د بریـد پرمهـال د شـویو ویډیوگانـو څخـه د انغمـاسي ورونـو ثبـات او پـه داسـې پـه اطمنـان ډزې کـول او بیـا لـه سـیمې وتـل هـم د دښـمن روحیـه ډیـره کمـزورې کـړې ده.

لـه بـل پلـوه بیـا پـه یـو ځانگـړي امنیتـي بریـد کـې د اسـلامي دولـت اتـل سرښـندویان وتوانېـدل چـې د مرتـدو طالـب ملېشـو یـو غـړی د بلـخ ولایـت پـه (مـزار شریـف) ښـار کـې ژونـدی ونیـسي او بیـا یـې ذبحـه کـړي.

لـه افغانسـتانه ځـو پاکسـتان تـه! دغلتـه هـم د اسـلامي دولـت مجاهدینـو گـڼ شـمېر اتلـوال بریدونـه تـر سره کـړي دي چـې پـه کـې گڼـو مرتدینـو تـه یـې مـرگ ژوبلـه اړولـې ده.

په (خیبر پښـتونخوا) او د وزیرسـتان پـه (واڼـا) کـې د اسـلامي دولـت مجاهدینـو د درې غلچکـي بریدونـو پـه تـرخ کـې د پاکسـتاني پولیسـو دوه غـړي او یـو ظابـط ووژل او دوه ټوپکونـه یـې غنیمـت کـړل، پـه (پیښـور) ښـار کـې بیـا مجاهدینـو دوه اتلـوال بریدونـه تـر سره کـړل چـې دریـو تنـو پولیسـو تـه مـرگ

ژوبلـه واړولـه او دوه ټوپکونـه یـې هـم غنیمـت کـړل.

بـل لـور تـه بیـا د خلافـت اتلـو سرښـندویانو پـه (باجـوړ) کـې د پاکسـتاني مرتـد حکومـت دوه جاسوسـان د تفنگچـې پـه واسـطه وویشـتل چـې یـو تـن یـې ټـک پـه ټکـه ومـړ او دوهـم تـن یـې مرگونـی ټپـي شـو، ددې تـر څنـگ مجاهدینـو پـه (سـالارزو) سـیمه کـې هغـه قومـي مـشر هـم تـرور کـړ چـې کلونـه کلونـه یـې د مرتـد حکومـت ملاتـړ کاوه او د پاکسـتان لـه مرتـد حکومـت سره یـې هـر ډول مرسـته کولـه.

د اسـلامي دولـت خراسـان ولایـت د بـل هـر وخـت پـه څېـر خپـل عملیـات پـه پاکسـتان او افغانسـتان کـې د مرتـدو طاغـوتي حکومتونـه او روافضـو پـر وړانـدې پـه مـوازي ډول مختـه وړي او د اسـلامي دولـت مجاهدیـن دا کلـک هـوډ لـري چـې د خراسـان لـه سـیمې بـه د شرک، کفـر او ارتـداد دا ټغـر ټولـوي او پرځـای بـه یـې سـپېڅلی شریعـت نافـذوي ان شـاءالله.



مونږ او تاسې ته چې
رب ښودلې لار ده

مونږ او تاسې ته چې رب ښودلې لار ده
د جهاد او روڼ توحید سپېڅلې لار ده
په همدغه لاره درومه چې کوږ نه شې
تر جنّته بیخي نیغه تللې لار ده
له بدعت، شرک، جهالت، شبهې خالي ده
په اخلاص، یقین، ایمان پوښلې لار ده
روڼ منهج او صفا ښکلې عقیده ده
مونږه ځکه خلافت منلې لار ده
نه سرحد نه د بشر قانون ته ژمن ده
آن اقصی ته له کعبې ورغلې لار ده
نورې لارې له اصلي منزل کږې دي
شکر شکر چې زمونږه ښکلې لار ده
پښې تڼاکې، ولږې، تندې، زحمتونه
ډېر زیات صبر کړه په غرو ختلې لار ده
یُو د رب، رب پیدا کړي، رب ته درومو
پرې روان یو مونږ د رب ټاکلې لار ده
خلافت تنکۍ ځوانۍ، قرباني غواړي
چې سر شیندي هماغوی ګټلې لار ده

مؤسسة العزائم
الإعلامية